**لویه لاربنسوده چینګ های**

# د چټکې روشنفکرۍ کیلي

دا کتاب په وړیا ډول وېشل کېږي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


سريزه.............................................................................۴
د لويې لاربښودې چينګ های لنډه پېژندنه...........................۸
د آخرت راز.......................................................................۱۰
د لويې لاربښودې چينګ های يو لکچر، د ۱۹۹۲ کال د جون ۲۶مه،
د ملګرو ملتونو موسسه، نيويارک ښار
تشرف: د کوان يين ميتود.............................................۴۷
پنځه حکمونه.................................................................۴۹
د نباتي خوړو ګټې...........................................................۵۰
روغتيا او تغذي....................................................................۵۰
ايکولوژي او چاپېريال...........................................................۵۵
د نړۍ لوږه...........................................................................۵۶
د ځارويو زورول....................................................................۵۶
د لويانو او نورو پيروي..........................................................۵۶
لاربښوده پوښتنې ځوابوي......................................................۵۸
نباتي خواړه: د نړۍ د اوبو د بحران د حل لپاره ترټولو غوره حل..۶۸
د نبات خورو لپاره ښه خبر.......................................................۶۹
خپرونې..............................................................................۷۸
له مونږ سره اړيکې..............................................................۸۵


په وړيا توګه کتاب رانښکته کول: د چټکې روښنفکرۍ کيلي (له ۶۰ څخه په ډېرو ژبو کې)

http://sb.godsdirectcontact.net (Formosa)
http://www.direkter-kontakt-mit-gott.org/download/index.htm(Austria)
http://www.Godsdirectcontact.org/sample/ (U.S.A.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



" زه له بودايزم يا کاتوليکېزم سره اړيکه نه لرم. زه د حقيقت پلوى يم او د حقيقت تبليغ او تدريس کوم. کېداى شي چې تاسو هغه بودايزم، کاتوليکېزم، تاويزم، يا هرهغه څه چې ستاسو خوښېږي، وګڼئ . زه ټولو ته په درنه سترګه ګورم. "

*لويه لاربنوده چينګ هاى*

" د داخلي ارام په تر لاسه کولو سره به مونږ نور هر څه تر لاسه کړو. ټولې خوښى، د ټولو دنيايي او اخروي هيلو پوره کېدل- زمونږ د همېشنى هماهنګى داخلي درک، زمونږ همېشنى پوهه، او زمونږ ځواک مونږ ته د خداى له لوري راکول کېږي، اوکه چېرې مونږ دغه څه تر لاسه نه کړو، مونږ هېڅکله قناعت نشو تر لاسه کولى. دا په دې نه ده چې مونږ څومره پيسې يا ځواک، يا لوړ موقف لرو. "

*لويه لاربنوده چينګ هاى*

" زمونږ ښوونه داسې ده چې هر هغه څه چې تاسو يې بايد په دې دنيا کې وکړئ، په پوره خلوص سره يې وکړئ، او تر څنګه يې د مسؤليت احساس وکړئ او همدارنګه هره ورځ عبادت وکړئ. په دې توګه به تاسو ډېره پوهه، ډېر حکمت، ډېر آرام تر لاسه کړئ، او د خپل ځان او نړۍ خدمت به وکړئ. دا مه هېروئ چې تاسو په خپل ځان کې دننه خپل ښه والى لرئ. دا مه هېروئ چې خداى ستاسو په وجود کې دننه دى. دا مه هېروئ چې خداى ستاسو په زړه کې دننه دى. "

*لويه لاربنوده چينګ هاى*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سريزه

په ټولو وختونو کې بشر ته داسې استثنايي اشخاص راغلي دي چې يوازنی هدف يې د بشر روحاني لوړوالی دی. عيسی مسيح (ع) د شکه موني بودا او محمد (ص) په څېريو له دغو رالېږل شويو کسانو څخه وه. دغه درې تنه مونږ ډېر ښه پېژنو، خو ډېر نور داسې هم شته چې مونږ يې نومونه نه پېژنو؛ ځينو يې په عام ډول ښوونه کړې او يوازې د يو څو کسانو له خوا پېژندل شوي، او نور بيا نومورکي پاتې دي. دغه اشخاص په بېلابېلو هېوادونو کې په بېلابېلو وختونو کې په بېلابېلو نومونو سره ياد شوي دي. هغوی د مرشد، مجسم معبود، روشنفکر، ناجي، مسيح، اسماني مور، پېغمبر، مذهبي لاربښود، ژوندي ولي، او په ورته نورو نومونو باندې ياد شوي دي. هغوی د دې لپاره راغلي وو چې مونږ ته هغه څه راوړاندې کړي چې روشنفکري، نجات، ادراک، ازادي، يا ويښول ګڼل کېږي. کېدای شي چې کارول شوي لغتونه سره بېل وي، خو په اصل کې د ټولو معنی يوه ده.

د ورته اسماني سرچينې راغلي کسان چې د بشريت د لوړولو لپاره له تېرو سپېڅليو سره ورته روحاني عظمت، اخلاقي سوچه والی او قوت لري نن هم له مونږ سره دلته موجود دي، په داسې حال کې چې يوازې څو کسان د هغوی د موجوديت په هکله خبر دي. له هغو څخه يوه هم ستره لاربښوده چينګ هاى ده.

چينګ هاى يوه داسې نوماندہ ده چې ښايي په پراخه کچه د يوه ژوندي روحاني شخصيت په توګه ونه پېژندل شي. هغه يوه ښځه ده، او ډېر بودايان او نور پر دې اسطوره باور لري چې يوه ښځه نشي بودا کېدلی. هغه له نژادي پلوه د اسيا ده، او ډېر لوېديځوال تمه لري چې د هغوی ناجي به د هغوی په بڼه وي. البته، له ټولې نړۍ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ او د نورو بېلابېلو مذهبي ډلو پیروان چې هغه یې پېژندلې، او لاربښوونې یې تعقیبوي، پوهېږي چې هغه څوک او څه ده. د دې لپاره چې تاسو په دې پوه شئ، تاسو باید یوه اندازه فکري پراختیا او د زړه خلوص ولرئ. دغه کاربه همدارنګه ستاسو وخت او پاملرنې ته هم اړتیا ولري، نه کوم بل څه ته.

خلک خپل ډېر وخت د ژوند لپاره د څه پیدا کولو او د مادي اړتیاوو په پوره کولو باندې لګوي. مونږ د دې لپاره کار کوو څو خپل او د خپلو دوستانو ژوند تر ممکن حده پورې آرام کړو. او کله چې وخت ولرو بیا خپل پام د سیاست، ورزش، تلوېزیون یا وروستیو پېښو په لور ور اړوو. په مونږ کې هغه کسان چې له خدای سره یې د مستقیمې اړیکې معنوي څواک تجربه کړی وي پوهېږي چې په ژوند کې تر دې ډېر نور څه هم شته. مونږ په دې خبره د تاسف احساس کوو چې نېک پیغام په پراخه کچه نه دی پېژندل شوی. د ژوند د ټولو ستونزو حل زمونږ په وجود کې دننه په پټه خوله انتظار کوي. مونږ پوهېږو چې جنت له مونږ څخه یوازې یو قدم لیرې دی. مونږ د داسې ټکو د یادونې له امله چې ښایي ستاسو منطقي ذهن تېرباسي، بخښنه غواړو. دا زمونږ لپاره سخته ده چې چوپ پاتې شو، او هغه څه وګورو چې لا د وخته مو لیدلي دي، او په داسې څه خبر شو چې لا دوخته پرې خبر یو.

مونږ چې ځانونه د سترې لاربښودې چینګ های پیروان ګڼو او د هغې په (کوان یین میتود) باندې عمل کوو تاسو ته دغه پېژندویه کتاب په دې هیله در وړاندې کوو څو له تاسو سره زمونږ د لاربښودې یا کوم بل لاربښود له لارې د الهي غنا د شخصي تجربې په تر لاسه کولو کې مرسته وکړي.

لاربښوده چینګ های د تفکر، دننه ني تعمق او دعا د تمرین د اهمیت ښوونه کوي. هغه وایي چې که چېرې مونږ غواړو چې په ریښتیا سره په ژوند کې خوشحاله اوسو، په کار دی چې خپل دننه نی الهي حضور درک کړو. هغه وایي چې روشنفکري له لاس رسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښخه لیرې او ستونزمن کار نه دی او د هغې د تر لاسه کولو لپاره باید یو څوک په ټولنه کې له ډیرې ښکېلتیا ښخه ډډه وکړي.

په عین حال کې چې مونږ خپل عادي ژوند پرمخ بیایو، هغه زمونږ په وجود کې دننه الهی حضور راوپښوي. هغه فرمایي: مونږ ټول په حقیقت باندې پوهېږو خو هېر کړی مو دی. له دې امله، ځینې وخت باید یو څوک راشي او مونږ ته د ژوند د هدفونو یاد راتازه کړي چې ولې باید د حقیقت په لټه کې واوسو، ولې باید عبادت وکړو، او ولې باید په خدای، بودا او یا بل داسې چا باندې چې زمونږ په اند د دنیا ستر واکمن ذات دی، عقیده ولرو. هغه له هېڅ چا ښخه نه غواړي چې د هغې پیروي دې وکړي. هغه یوازې خپله روښنفکري نورو ته وړاندې کوي څو هغوی وکړای شي خپله نهایي خپلواکي تر لاسه کړي.

دغه کتابګوټی د سترې لاربښودې چینګ های د تعلیماتو پېژندنه ده. هیله ده په یاد ولرئ چې د استادې لکچرونه، بیانیې او ویناوې چې دلته راغلي دي د هغې له خولې ښخه ثبت، پلي، یا له نورو ژبو ښخه ژباړل شوي او بیا د خپرېدلو لپاره ایډیټ شوي دي. زمونږ سپارښتنه دا ده چې تاسو یې اصلي آډیو یا ویډیو کیسټې واورئ یا وګورئ. تاسو به وکړی شئ چې د هغې د ویناوو د لوستلو پرځای د دغو سرچینو له لارې د هغې حضور په ښه توګه درک کړئ. البته تر ټولو پخه تجربه د استادې مخامخ لیدنه ده.

ځینې کسانه هغه خپله مور، پلار او یا حتی یوه محبوبه ګڼي. لېترلږه هغه تر ټولو ښه دوسته ده چې تاسو کولی شئ په دې دنیا کې یې ولرئ. هغه دلته د دې لپاره ده چې مونږ ته څه راکړي نه دا چې څه دې رانه واخلي. هغه د خپلو تعلیماتو، مرستې یا نوښت په وړاندې هېڅ بدل نه غواړي. یوازنی شی چې هغه به یې له تاسو ښخه واخلي ستاسو کړاوونه، غم او درد دی، خو یوازې هغه وخت چې تاسو په خپله وغواړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یولنډ پیغام

لویه لاربښوده چینګ های د هنري ډیزاینونو د یوې هنرمندۍ او یوې روحاني ښوونکې په توګه د دننه نۍ ښکلا له څرګندونو سره مینه لري. له دې امله هغه وېتنام د اولاک (Au Lac) او تایوان د فارموسا (Formosa) په نومونو یادوي. اولاک د وېتنام لرغونی نوم دی چې د خوشحالۍ په معنی کارول کېږي، او فارموسا د ښکلي په معنی دی چې د تایوان د ټاپو او د هغه د وګړیو ښکلا په ډېر ښه ډول منعکسوي. لاربښوده داسې احساسوي چې د دغو نومونو کارول یادې شوې ځمکې او د هغې استوګنو ته روحاني لوړتیا او نېکمرغي ورپه برخه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*"داسې یو څوک لاربنود ګڼل کېږي چې ستاسو لپاره د لاربنود کېدلو د لارې کیلي په لاس ولري... چې له تاسو سره مرسته وکړي څو تاسو درک کړئ چې تاسو هم لاربنود یاست او دا چې تاسو خدای ته ورنږدې یاست... دا د لاربنود یوازنی رول دی."*

*لویه لاربنوده چینګ های*

*"زمونږ لاره مذهب نه دی. زه څوک کاتولیکېزم یا بودایېزم یا هم کوم بل مذهبي مکتب ته نه اړوم. زه تاسو ته یوازې د داسې یوې لارې وړاندیز کوم چې تاسو پرې خپله لاره وپېژن ئ ؛ دا ومو م ئ چې ستاسو تعلق له څه سره دی؛ تاسو ته د ځمکې پرمخ ستاسو دنده دریاده کړي؛ د نړۍ رازونه کشف کړئ؛ په دې وپوهېږئ چې ولې دومره ډېرې بدمرغۍ وجود لري؛ او وګورئ چې تر مرګ وروسته څه زمونږ انتظار کوي."*

*لویه لاربنوده چینګ های*

*"مونږ د خپلو ډېرو مشغولیتونو په سبب خپل ځانونه له خدای څخه لیرې کړي دي. که چېرې ټیلیفون په داسې وخت کې چې تاسو له چاسره په خبرو یا د پخلي په چارو بوخت یاست یا دا چې له نورو خلکو سره مو خبرې اترې روانې وي، پرله پسې زنګ ووهي، ټیلیفون کونکی نشي کولی چې له تاسو سره خبرې وکړي. له خدای سره هم همداسې در واخله. هغه هره ورځ مونږ ته اواز کوي او مونږ د هغه په لوري د پام اړولو لپاره هېڅ وخت نه ورکوو او تل یې په انتظار کې ساتو"*

*لویه لاربنوده چینګ های*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لويې لاربښودې چينګ های
# لنډه پېژندنه

استاد چينګ های په وېتنام کې په يوه شتمنه کورنۍ کې زېږېدلې ده. پلار يې د نباتي طب يو مشهور ډاکټر وه. استاده د کاتوليک مذهب تر تعليماتو لاندې لويه شوې او له خپلې انا څخه يې د بودايي مذهب اصول زده کړي دي. په هماغه کوچنيوالي کې يې له فلسفې او مذهبي تعليماتو سره علاقه ښودله او د ټولو ژونديو موجوداتو په وړاندې يې يو ډول ځانګړې عاطفه درلوده.

استاد چينګ های په اتلس کلنۍ کې د زده کړې لپاره انګلستان ته لاړه. وروسته فرانسې او بيا جرمني ته لاړه چې هلته يې له سره صليب سره کار پيل کړ او له يوه جرمني ساينس پوه سره يې واده وکړ. تر دوو کلونو خوشحاله ګډ ژوند وروسته د مېړه په موافقې سره له هغه څخه بېله شوه څو د روښنفکرۍ او هغو ايډيالونو لټه پيل کړي چې له کوچنيوالي څخه ورسره وو. دغه مهال، نومورې دنږدې ښوونکيو تر لاربښوونې لاندې د عبادت او عرفاني طريقو بېلابېل ډولونه زده کړل. بالاخره، هغې درک کړه چې د انساني کړاوونو د له منځه وړلو لپاره يوازې د يو کس هڅې بې ګټې دي او په دې ټکي وپوهېده چې له نورو سره د مرستې تر ټولو غوره لاره دا ده چې هغه په خپله بشپړ ادراک

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر لاسه کړي. په داسې حال کې چې دا يې خپل يوازنى هدف ګرځولى وه، هغې د روشنفکرۍ د يوه مکمل ميتود په لټه کې بېلابېلو هېوادونو ته سفرونه وکړل.

د ډېرو کلونو تر ازموينو، ارزونو او ستونزو ګاللو وروسته، استاد چينګ هاى په هيماليا کې د کوان يين ميتود او د الهى قدرت انتقال ومونډ. په هيماليا کې د هغې د رياضت پر مهال له يو لړ سختو مشقونو څخه وروسته هغه پوره روشنفکرۍ ته ورسېده.

روشنفکرۍ ته له رسېدلو څخه په وروسته کلونو کې، استادچينګ هاى د يوې بودايي راهبې په توګه ارام او عاجزانه ژوند پيل کړ. له دې امله چې هغه په طبيعي توګه شرمندوکه وه، تر لاسه کړې خزانه يې تر هغه وخته پورې پټه وساتله څو چې خلکو د هغې لارښوونې او نوښتونه وغوښتل. په فورموسا (تايوان) او د امريکا په متحدو ايالتونو کې د هغې د لومړنيو شاګردانو تر ډېر زيات تاکيد او هڅو وروسته، استاد چينګ هاى په ټوله نړۍ کې ويناوې پيل کړې او په لسګونو زره پاک زړي پيروان يې چې د عرفاني لوړوالي په لټه کې وو، خپل ځان ته جذب کړل.

نن ورځ د بېلابېلو هېوادونو او ټولو مذاهبو اړوند د حق د لارې ډېر زيات پيروان هغې ته د هغې د ستر حکمت له امله راروان دي. هغه کسان چې غواړي په اخلاص سره د چټکې روشنفکرۍ؛ د کوان يين ميتود چې هغې په خپله د يوه لوى ميتود په توګه منلى دى، زده کړي او کار ترې واخلي، استاد چينګ هاى حاضره ده چې هغوى ته عرفاني لارښوونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړۍ له ستونزو ډکه ده.
یوازې زه ستاسو په هکله له فکرونو ډکه یم !
که چېرې تاسو په نړۍ کې خپاره ش ئ ،
ټولې ستونزې به هوارې شي.
خو، دا چې نړۍ له ستونزو ډکه ده،
زه په کې ستاسو لپاره هېڅ ځای نه وینم!

زه به د جهان لمرونه، سپوږمۍ او ستوري
ټول وپلورم
چې ستا د حسن یوه نګاه پرې واخلم
ای د تلپاتې رڼایي خاونده!
مهربان اوسه او زما خوار زړګي ته ځو وړانګې ورکړه.

د دنیا خلک د شپې ووځي
د دنیا په رڼاګانو کې د دنیا موزیک ته نځېږي او سندرې وایي،
زه په وجد او جذبه کې یوازې ناسته یمه
او د هغې رڼا او موزیک ته ښورم سره

ای خاونده له هغه وخته چې ما ستا جلال پېژندلی دی
زه په دې دنیا کې له هېڅ شي سره مینه نشم کولی
ما د خپلې مینې په غېږ کې ټینګه کړه
د تل لپاره!
امین

د لویې لاربښودې چینګ های
له "خاموشې اوښکې" شعري مجموعې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د آخرت راز

د لویې لاربښودې چینګ های وینا
د جون ۲۶مه، ۱۹۹۲
د ملګرو ملتونو اداره، نیویارک
(اصل په انګلیسي کې)

د ملګرو ملتونو ادارې ته ښه راغلاست. را خئ ټول په ګډه سره د خپلې خپلې عقیدې په اساس د یوې شیبې لپاره د هغه څه له امله د خدای شکر ادا کړو چې مونږ یې لرو، او راکړل شوي دي. او دعا وکړو چې د نړۍ د کړوالو، د جګړې د قربانیانو او عسکرو په څېر هغه څوک چې نه یې لري هم داسې څه تر لاسه کړي لکه مونږ یې چې لرو، او دا چې د حکومت مشران، او البته د ملګرو ملتونو مشران وکړای شي هغه څه ترسره کړي چې دوی یې غواړي او ټول په ګډه سره په سوله کې ژوند وکړو.

مونږ باور لرو چې هغه څه چې مونږ یې غواړو مونږ ته به راکول کېږي څکه چې په انجیل شریف کې همداسې ذکر شوي دي. مننه!

تاسو پوهېږئ چې نن زمونږ د لکچر موضوع ده "له دې دنیا پرته" څکه فکر نه کوم چې و دې غواړم نور تاسو ته د دې دنیا په هکله خبرې وکړم. تاسو ټول په دې پوهېږئ. خو له دې دنیا پرته مونږ نور ځیزونه لرو. زه فکر کوم چې ستاسو ټول هغه کسان چې دلته راغلي، به په دې هکله له معلوماتو سره علاقه ولرئ. دا لکه زمونږ ملګري چې مخکې یاده کړه معجزې نه دي او نه هم خیالي څه دي چې تاسو به باور پرې ونه کړئ، بلکې ډېر علمي، ډېر منطقي او ډېر مهم دي.

مونږ ټولو اورېدلي دي چې په مقدسو مذهبي کتابونو او اسماني مکتوباتو کې راغلي دي چې اوه جنتونه شته او دا چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرتیا (consciousness) بېلابېلې سطحې وجود لري. د خدای په پاچاهي کې د بودا طبعیت وجود لري، او داسې نور. دا داسې څه دي چې له دې دنیا څخه وروسته یې وعده شوې ده، خو ډېر خلک هغه څه ته چې په دغو مذهبي کتابونو کې یې وعده شوې ده، لاس رسی نه لري. زه نه غواړم ووایم چې هېڅ، خو ډېر نه. د نړۍ د نفوس شمېر ته په پام سره داسې کسان ډېر لږ دي چې زمونږ دننه د خدای پاچاهي ته چې مونږ یې "له دې دنیا پرته" بله ګڼو لاس رسی ولري.

او که چېرې تاسو په امریکا کې یاست، ښایي وکړای ش ئ ډېر داسې کتابونه ولول ئ چې د آخرت په هکله لیکل شوي وي. او ځینې هغه فلمونه چې امریکایانو او جاپانیانو جوړ کړي دي له یوې مخې ټوله هسې افسانه نه ده، ځکه چې دغو خلکو ښایي داسې څه کتابونه لوستي وي چې د داسې خلکو له خوا لیکل شوي چې له دې نړۍ څخه لیرې وي، او یا دا چې د خدای پاچاهي یې په خپله په لنډ ډول لیدلي وي.

د خدای په پاچاهي کې څه وجود لري؟ په داسې حال کې چې مونږ په دنیا کې کافي اندازه کار لرو چې باید ویې کړو، وظیفه لرو، مصؤن کورونه لرو، او په کافي اندازه دوستانه اړیکې او نور لرو نو بیا ولې باید د خدای د پاچاهي په هکله فکر وکړو؟ په لنډ ډول، له دې امله چې مونږ دا هرڅه لرو نو باید چې د خدای پاچاهي په یاد ولرو.

دا ډېره مذهبي ښکاري چې کله مونږ وایو چې د خدای پاچاهي. دا اصلا په خپله د ښې خبرتیا یوه اندازه ښیي. په پخوا وختونو کې خلکو جنت باله، خو په علمي اصطلاح، مونږ کولی شو ووایو چې، هغه بېل دی – د پوهې یوه لوړه درجه، د حکمت یوه لوړه درجه. داسې یو څه دی چې کېدای شي د هغه د لارې په پېژندلو سره هغه ته لاس رسی حاصل کړو.

په دې وروستیو وختونو کې، مونږه ټولو د وروستیو اختراعاتو په هکله اورېدلي دي؛ دا چې خلکو حتی داسې یوه وسیله جوړه کړې ده چې د هغې په مرسته ځان په سمادي (Samadhi) کې ننه باسي. آیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو تجربه کړې ده؟ دغه وسیله په امریکا کې بازار ته د پلورلو لپاره راوتلې ده او قیمت یې هم له څلورو سوو څخه تر اوو سوو پورې دی چې د درجې په توپیر سره توپیر لري. هغوی وایي چې دغه وسیله دهغو لټو خلکو لپاره ده چې نه غواړي عبادت وکړي، او غواړي چې یوازې په سمادي کې برابر وي. که تاسو په دې هکله معلومات نه لرئ، زه به یې په لنډ ډول درته ووایم.

وایي چې دغه وسیله کولی شي چې تاسو داسې یوه حالت ته بوځي چې د آرامۍ احساس به کوئ، داسې یو آرام حالت چې انسان په کې د آی کیو له لوړې کچې هم ډېر څه کولی شي. د دې اصلي هدف دا دی چې تاسو له ډېرې پوهې او حکمت څخه برخمن ش ئ چې په داسې یو حالت کې به بیا تاسو یو فوق العاده احساس ولرئ. دغه وسیله له یوې موسیقۍ، بهرنۍ موسیقۍ، څخه استفاده کوي چې تاسو یې د اورېدلو لپاره غوږي ته اړتیا لرئ. سربېره پر دې، په دغې وسیلې کې د برق جریان وجود لري، داسې یو جریان چې ښایي تاسو تحریک کړي، او کېدی شي چې تاسو ټکانونه وخورئ. تاسو د سترګو پټولو پټۍ ته هم اړتیا لرئ. په دې توګه، غوږۍ او د سترګو پټۍ ټول داسې څیزونه دي چې تاسو د سمادۍ لپاره ورته اړتیا لرئ. ډېره په زړه پورې ښکاري او څلور سوه ډالر د هغې لپاره ډېر لږ دي، خو زمونږ سمادي بیا ډېره ارزانه ده. سربېره پر دې، تلپاتې هم ده. برق یا بیټرۍ ته اړتیا نه لري. دې ته هم اړتیا نشته چې تاسو هغه له برق سره وصل کړئ او یا یې له برق څخه لیرې کړئ او یا دا چې کله چې وسیله خرابه شي ترمیم یې کړئ.

ما په یوه اخبار کې په دې هکله چې دغه وسیله څه کولی شي، یو څه لوستلي دي خو پخپله مې نه ده تجربه کړې. یوازې دومره مې اورېدلي دي چې د هغې بازار تود دی او ډېره پلورل کېږي. کله چې مصنوعي نور او موسیقي کولی شي چې انسان ارام او درک یې ورزیات کړي، مونږ ارام کړي او د هوښیارتیا ضریب مو پورته بوځي، تاسو فکر وکړئ چې حقیقي نور او موسیقي څومره کولی شي چې له مونږ سره زمونږ د پوهې په ډېرولو کې مرسته وکړي؟ حقیقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسيله په بله دنيا کې ده خو د هر چا لپاره چې غواړي تر لاسه يې کړي د لاس رسي وړ ده. دا دننه نۍ جنتي موسيقۍ او دننه نۍ جنتي اواز دى، او د داسې موسيقۍ دننه نۍ رڼا يا دننه نۍ موسيقۍ له شدت سره په تړاو مونږ کولى شو چې خپل ځانونه له دې دنيا څخه پورې هغې دنيا ته ورسوو او د درک او خبرتيا تر ژورو سطحو پرې وړاندې لاړ شو.

زه ګومان کوم چې دغه مس ئ له د فزيک قوانينو ته ورته ده. که چېرې تاسو وغواړئ چې يو راکټ د ځمکې د جاذبې د قوې له تاثير څخه پورې ساحې ته واستوئ بايد چې ډېر زور پرې راول ئ او کله چې همدغه راکټ په ډېر سرعت سره پورته ځي له ځانه نور او رڼا خپروي. له دې امله زه فکر کوم کله چې مونږ هم په سرعت سره ماورا دنيا ته ننوځو په دغه وخت کې له ځانه رڼا خپروو او يو غږ هم اورو.

دغه اواز يو ډول نوسان يا ارتعاش دى چې مونږ پورته سطحو ته بيايي، خو د مجربو خلکو لپاره د کوم زحمت، قيمت او کړاو له ګاللو پرته تماميږي. دا ماورا دنيا ته د تګ لاره ده.

آيا له دې دنيا ايسته داسې څه وجود لري چې زمونږ د دنيا په نسبت بهتر دي؟ د دې پوښتنې ځواب هر داسې څه کېداى شي چې په تصور کې راتللى شي او راتللى هم نه شي. په دې ټکي باندې مونږ هغه وخت ښه پوهېږو چې په خپله يې تجربه کړو. بل څوک نشي کولى چې مونږ ته په دې هکله ښه ځواب ووايي، خو په دې برخه کې بايد مونږ ټينګ او ريښتني اوسو، ځکه چې بل هيڅوک د دې وس نه لري چې زمونږ لپاره يې ترسره کړي. لکه څرنګه چې نشي کېداى بل څوک ستاسو پر ځاى د ملګرو ملتونو په مؤسسه کې کار وکړي او معاش يې تاسو واخلئ يا دا چې نشي کېدى بل څوک زمونږ پرځاى خواړه وخوري او خوند يې مونږ واخلو، دغه ډول دا لاره بايد شخصا تجربه شي. مونږ کولى شو چې د داسې شخص د تجربو اورېدلو ته چې په دغې لارې تللى وي غوږ ونيسو، خو نه شو کولى چې له هغه څخه تجربه تر لاسه کړو. کېداى شى يو ځل، دوه ځلې يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو ورځې يو څه شيان تجربه هم کړو (دهغه چا توان پورې تړلی چې ملکوت يې تجربه کړي دي). کېداى شي حتی په طبيعي توګه او له خپلې هر ډول هڅې پرته نور مشاهده کړو او يا آواز هم واورو خو ډېر ځلې به دغه ډول تجربې تر ډېره دوام ونه کړي. له دې امله مونږ بايد پخپله هغه تجربه او ترسره کړو.

زمونږ له دنيا پرته مختلفې دنياوې وجود لري. د مثال په توګه، داسې يوه دنيا فرض کوو چې زمونږ له دنيا څخه لږه لوړه ده او د لوېديځ په ترمينالوژۍ کې استرال دنيا ګڼل کېږي. په استرال دنيا کې تر سلو ډېرې طبقې وجود لري او هره سطحه په ځانګړې توګه پخپله يو لوی جهان دی. له دغو سطحو څخه هره يوه يې زمونږ د پوهې ميزان ښيي. مثلا کله چې مونږ پوهنتون ته ځو او هرکال چې په پوهنتون کې تېروو زمونږ د پوهې زياتوالی ښيي، تر دې چې په تدريج سره د فراغت په لوري پرمخ ځو.

په استرال دنيا کې به مونږ د معجزو بېلابېل ډولونه وګورو. ښايي چې مونږ له معجزو څخه متاثر شو او ښايي معجزې هم له ځانه وښيو. کېداى شي مونږ وکړاى شو چې د ناروغانو درملنه وکړو. مونږ د معجزه يي قدرت لږترلږه شپږ بېلګې لرو او کولی شو چې له عادي حدودو څخه ماورا دنيا وګورو. کېدی شي چې مونږ له حدودو څخه د بهر فضا غږونه واورو. د فاصلې ميزان زمونږ لپاره توپير نه لري. دا هغه څه دي چې جنتي سترګې او غوږونه ګڼل کېږي. مونږ کولی شو چې د نورو خلکو فکر او هغه څه چې د هغوی په فکرونو کې تېرېږي ولولو، او داسې نور. ځينې وختونه مونږ کولی شو چې نور شيان هم وګورو. دا د داسې قدرتونو نمونې دي چې ځينې وختونه يې مونږ د خداى د پاچاهۍ لومړۍ طبقې ته تر رسېدلو وروسته لاسته راوړو.

لکه چې مخکې مو وويل په همدې لومړۍ طبقه کې نورې طبقې هم وجود لري چې ژبه يې له بيان څخه قاصره ده. د بېلګې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه، که چېرې مونږ له تشرف موندلو څخه وروسته عبادت وکړو او زمونږ سطحه په لومړۍ طبقه کې وي، مونږ کولی شو ډېرې وړتياوې تر لاسه کړو؛ حتی وبه کړای شو چې خپل اديبانه استعداد چې پخوا مو نه درلود، هم وغوړوو. په داسې څه به پوه شو چې نور خلک پرې نه پوهېږي او د جنتي سوغاتونو په څېر ځيزونه به مونږ ته راشي چې ځينې وختونه به د پيسو په بڼه وي، ځينې وختونه د وظيفې په بڼه او ځينې وختونه هم په نورو بڼو. مونږ به وکړای شو چې شعر ليکل پيل کړو، انځورونه وباسو، او داسې څه وکړو چې تر دې وړاندې مو نه شوای کولی او په خيال کې مو نه راتلل چې مونږ به يې د کولو توان ولرو. دا لومړنۍ طبقه ده او مونږ به وکړی شو چې ښه شعرونه او ښکلي کتابونه وليکو. مثلا، کېدی شي چې تر دې وړاندې مونږ يو مسلکی ليکوال نه يو، خو اوس ليکل وکړای شو. دا يوازې مادي ګټې دي چې کېدی شي د ادراک لومړۍ طبقې ته په رسېدلو سره يې مونږ تر لاسه کړو.

په حقيقت کې دا خدايي سوغاتونه نه دي، بلکې دا زمونږ د دننه ني جنت وړتياوې دي چې په خپلو ځانونو کې مو رابيدارې کړي او راڅوندۍ شوې دي، او مونږ کولی شو استفاده ترې وکړو. دا وه د لومړۍ طبقې په هکله ځينې معلومات چې وړاندې شول.

اوس چې مونږ تر دې لوړې طبقې ته ځو، مونږ ډېر نور څه ګورو او ډېر نور څه ترسره کوو. البته، زه تاسو ته د هر څه په هکله نشم ويلی، ځکه چې وخت لږ دی. همدارنګه دا ضروري نه ده چې د کېکونو او مېوې په هکله ډېر صفتونه واورېدل شي او بېخي ونه خوړل شي. په دې توګه، زه يوازې ستاسو اشتها ورته يو څه برابروم او که چېرې تاسو غواړئ چې ويې خورئ دا نو بيا بېله خبره ده. مونږ کولی شو چې اصلي خواړه وروسته تيار کړو. هو! يوازې په هغه صورت کې چې تاسو وغواړئ چې ويې خورئ.

اوس که چېرې مونږ له دغې طبقې څخه لږ وراخوا دويمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبقې ته چې مونږ یې د مسایلو د اسانتیا له پاره د (دویمې) په نامه یادوو، لاړ شو، ښایي مونږ د لومړۍ طبقې په نسبت ډېرې نورې ورتیاوې تر لاسه کړو خو تر ټولو غښتلې لاسته راوړنه چې مونږ یې دویمې طبقې ته په رسېدلو سره تر لاسه کوو بلاغت، وینا او د بحث ورتیا ده. داسې نه ښکاري چې یو څوک دې داسې چاته چې دویمې طبقې ته رسېدلی وي په بحث کې ماتې ورکړي، ځکه چې هغه د خبرو کولو ډېره اوچته ورتیا لري او د هغه فراست (intellect) تر ټولو لوړ ممکن حد پورې رسېږي.

اکثره خلک چې د هوښیارتیا معمولي ضریب او درک لري، نشي کولی چې له دغه شخص سره چې د هوښیارتیا ضریب یې لوړې درجې ته رسېدلی دی، سیالي وکړي. البته، دا یوازې یو مادي مغز نه دی چې ډېر پرمختګ یې کړی دی، بلکې یو ماورایي او جنتي قدرت دی. داسې یوه پوهه ده چې په ذاتي لحاظ زمونږ په نهاد کې موجوده ده او اوس یې ځرګندېدل پیل کړي دي. په هند کې د دغې سطحې خلکو ته "بودي" وایي چې د فراست د سطحې په معنی دی. کله چې تاسو د "بودي" سطحې ته ورسېږئ بودا کېږئ. بودا د "بودي" له لفظ څخه مشتق شوی دی. نو په لنډ ډول ویلی شو چې بودا پخپله همدا دی خو زما خبرې همدلته پای ته نه رسېږي. زه تاسو ته یوازې بودا نه در پېژنم بلکې تر دې لا پراخه مس ئ له درته بیانوم.

نو زیاتره خلک روشنفکر انسان بودا ګڼي. که چېرې دغه ډول شخص له دویمې طبقې څخه د ماورا عالم په هکله په څه نه وي خبر، ښایي فخر پرې وکړي. هوکې! هغه فکر کوي چې یو ژوندی بودا دی او مریدان به یې فخر کوي چې هغه ته بودا ووایي. خو په واقعیت کې کله چې هغه دویمې سطحې ته ورسېږي چېرې چې هغه کولی شي د هر چا ماضي، حال او مستقبل چې دی غواړي ووینې، کېدی شي، او بشپړې سخنورۍ ته ورسېږي، خو دا د خدای د پاچاهۍ نهایت نه دی.

هیڅوک باید په ماضي، حال او راتلونکي کې د لوست د ورتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



له امله مغرور نشي، ځکه چې دا يوازې هماغه د اکاشيک "akashic" ريکارډ، غربي اصطلاح، ده. په تاسو کې هغه کسان چې د يوګا تمرين يې کړی وي يا يې د ميډيټيشن نورې طريقې تمرين کړې وي، پوهېږي چې اکاشيک څه دی. د اکاشيک ريکارډ داسې يو کتابتون ته ورته دی لکه مونږ يې چې د ملګرو ملتونو په موسسه کې لرو چې په بېلابېلو ژبو ليکل شوي کتابونه په کې موجود دي. تاسو د ملګرو ملتونو د موسسې په کتابتون کې په عربي، روسي، چيني، انګلېسي، فرانسوي او الماني ژبو ليکل شوي کتابونه وينئ او که چېرې کولی شئ دغه ژبې ولولئ، کولی شئ وپوهېږئ چې په اړوندو هېوادونو کې څه تېرېږي. پوه شوئ؟ په همدې توګه هغه کس چې دويمې سطحې ته رسېږی، کولی شي چې د هربل انسان د ژوند په روښانه ډول تحليل او درک کړي. داسې لکه تاسو چې خپله د ژوند تاريخچه ګورئ.

د ادراک دويمې طبقې ته په رسېدلو سره ډېر نور څه هم ترلاسه کېدی شي، خو دويمې طبقې ته رسېدل د هر شخص لپاره پخپله يو فوق العاده کار دی. په دغسې يو حالت کې به مونږ پخپله يو ژوندی بودا واوسو ځکه چې مونږ خپله "بودي" يا فراست پرانستی دی او د ډېرو داسې خيزونو په هکله مو د پوهېدلو وړتيا تر لاسه کړې ده چې ژبه د هغه له ادراک څخه قاصره ده. کېدی شي چې په اصطلاح هره غوښتې او ناغوښتې معجزه زمونږ لپاره پېښه شي ځکه چې زمونږ فراست پرانستل شوی دی او له پورته منشاء سره د تماس ځرنګوالی يې ښه شوی او کولی شي چې له مونږ سره مرسته وکړي څو زمونږ ژوند لاډېر ارام او بهتر وګرځي. زمونږ فراست يا بودا داسې پرانستل کېږي چې کولی شي د ماضي او حال ټولو اړوندو ضروري معلوماتو ته لاس رسی ولري؛ چې کولی شي داسې يو څه چې مونږ په تېر وخت کې په غلط ډول کړي وي ترتيب، بياترتيب او يا هم برابر کړي، او په دې توګه مونږ وکړی شو چې خپلې تېروتنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلاح او خپل ژوند بهتر وګرځوو.

مثلا که تر دې وړاندې مونږ نه پوهېدو چې یو ځل مو خپل ګاونډي په تېروتنې سره خفه کړی دی، اوس به پوهېږو. پوه شوئ! ډېره اسانه ده. که مونږ نه پوهېدو چې زمونږ هماغه ګاونډی مونږ ته غلی غلی کېږي او د داسې یو فرصت په لټه کې دی چې یو وخت او په یو ډول مونږ ته ضرر راورسوي او مونږ د هغه بدپوهاوي او یا تېروتنې له امله چې مونږ د هغه په حق کې کړې ده، وزوروي، اوس به پرې پوهېږو. پوهېږو چې دا ولې پېښه شوې ده. اوس زمونږ لپاره ساده ده. کولی شو چې ګاونډي ته ورشو، ټیلیفون ورته وکړو او یا دا چې هغه خپل کور ته راوبلو او بد پوهاوی له منځه یوسو.

په همدې ترتیب، کله چې مونږ د فراست سطحې ته ورسېږو مونږ په ارام ډول په دغو ټولو شیانو باندې پوهېږو او دا ټول په ارام سره ترتیبوو یا دا چې د ځواک له داسې سرچینو سره اړیکه نیسو چې کولی شي له مونږ سره مرسته وکړي څو دغه څیزونه سره ترتیب کړو؛ او د ژوند لاره او جریان مو بهتر وګرځوو او په دې توګه د خپل ژوند ډېرې پېښې، خراب او ناغوښتي شرایط راکم کړو. هوکې! هوکې! په دې توګه دویمې سطحې ته زمونږ رسېدل پخپله یو فوق العاده څیز دی.

هغه څه چې تاسو ته مې دلته تشریح کړل ډېر علمي او کاملا منطقي دي، نو فکر مه کوئ چې یو یوګي "yogi" یا یو متفکر شخص دې یو خارق العاده موجود او یا د دې خاورینې نړۍ له استوګنو پرته کوم بل ډول انسان وي. دغه خلک زمونږ په څېر له خاورې څخه جوړ موجودات دي چې یوازې په دې لاره کې یې ډېر پرمختګ کړی دی ځکه چې هغوی پوهېدل چې څنګه کولی شي دغه کار ترسره کړي.

په امریکا کې، یو ضرب المثل دی چې، هرڅه په پوهه او تجربه ولاړ دي، نو مونږ کولی شو چې هر څه زده کړو. سمه ده؟ مونږ کولی شو چې هرڅه زده کړو. دا هم له دې دنیا څخه یوه ماورا پوهه ده، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغې کې مونږ کولی شو زده کړه هم وکړو. او دا ډېره عجیبه معلومېږي، خو څومره چې شیان لوړ دي، هومره ساده دي. دا تر دې هم ډېر ساده دي چې مونږ لېسې یا پوهنځي ته ځو او هلته له ډېرو مغلقو ریاضیکي پوښتنو او سوالونو سره مخامخ کېږو.

په دویمه طبقه کې هم ډېرې بېلابېلې طبقې دي، خو زه یې رالنډوم ځکه چې زه نشم کولی چې د جنت په ټولو رازونو باندې په تفصیل سره وغږېږم. تاسو به پر دې ټولو هغه وخت پوه ش ئ  چې له داسې یوه لاربښود سره سفر وکړئ چې هغه مخکې ترمخکې دغه سفر کړی وي. نو دا خبره پټه نه ده. خو دا ډېره اوږدېږي چې که مونږ په هره طبقه کې چې ډېرې نورې طبقې او بیا وړې طبقې لري ودرېږو، او هرڅه وازمېیو او دغه کار به ډېر زیات وخت ونیسي. ځینې وختونه یو استاد تاسو په لنډه سره له یوې سطحې څخه بلې ته اړوي، په ډېره چټکۍ سره – زک زک زک! ځکه چې که چېرې تاسو په استادۍ کې ځان رسول نه غواړئ بیا نو تاسو دې ته اړتیا نه لرئ چې دومره ډېره زده کړه وکړئ او ستاسو لپاره به سردرد وګرځي. په دې توګه، هغه تاسو یو ځل ورمخامخ کوي او بېرته مو راګرځوي، ځکه چې حتی دغه کار هم ډېر زیات وخت غواړي. ځینې وختونه، هغه ټول عمر په بر کې نیسي، خو روشنفکري مونږ په چټکۍ سره تر لاسه کوو.

دا یوازې یو پیل دی، فقط لکه د یو څه لپاره چې نوم لیکنه کوئ. په لومړۍ ورځ چې څنګه تاسو په پوهنتون کې نوم ولیک ئ ، سمدستي تاسو د پوهنتون زده کونکی کېږئ، که څه هم چې دا د دوکتورا تر لاسه کول نه دي. تر هغې شپږ کاله وروسته، څلور کاله وروسته یا دولس کاله وروسته بیا تاسو فارغېږئ، خو که چېرې هغه یو ریښتنی پوهنتون وي تاسو سمدستي د پوهنتون زده کونکی کېږئ او که چېرې تاسو نوم لیکنه وکړئ، تاسو په یقیني توګه غواړئ چې یو د پوهنتون زده کونکی وګرځ ئ ، نو دواړه اړخونه باید همکاري وکړي.

په ورته ډول، که چېرې مونږ وغواړو چې له دې دنیا څخه پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړ شو، د مثال په توګه، داسې ووایۍ ئ چې د ساعت تېرۍ لپاره، ځکه چې مونږ خو په نیویارک کې بل داسې ځای نه لرو چې ورشو؛ مونږ د منهاتن، اوږده ساحل (لانګ بیچ)، کوچني ساحل (شارټ بیچ) او هر بل ساحل په هکله له هرڅه څخه خبر یو. (خندا) اوس فکر وکړئ چې مونږ غواړو چې د اي ټي ځای ته یو سفر ولرو، څو وګورو چې هلته څه روان دي. سمه ده؟ ولې نه؟ دا چې مونږ ډېرې پیسې ورکوو څو میامي، فلوریدا ته لاړ شو چې یوازې او یوازې هلته په سیند کې ولامبو نو بیا ولې مونږ نشو کولی چې ځینې وختونه له دې دنیا څخه پورې بلې دنیا ته لاړ شو څو وګورو چې زمونږ ګاونډي ستوري څنګه ښکاري او خلک هلته څنګه وخت تېروي؟ زه فکر نه کوم چې هغه کوم نا اشنا څه دي. نه؟ هغه د فزیکي سفر پر ځای یوازې یو ډول وړاندې سفر دی، یو فکري سفر دی، او یو روحاني سفر دی. د سفر دوه ډولونه دي، نو ډېره منطقي او اسانه خبره ده چې سړی پرې وپوهېږي.

اوس مونږ په دویمه طبقه کې یو. نور باید زه تاسو ته څه ووایم؟ دا نو داسې یوه لاره ده چې مونږ پرې په دې دنیا کې تګ روان ساتو، او په ورته وخت کې د نورو دنیاوو په هکله پوهه تر لاسه کوو؛ ځکه چې مونږ سفر کوو.

دا داسې ده لکه تاسو چې یو امریکایي یا د نړۍ د کوم بل هېواد تبعه یاست، خو بیا له یوه هېواد څخه بل ته د دې لپاره سفر وکړئ څو پوه ش ئ چې ګاونډی هېواد څه ډول معلومېږي. او زه ګومان کوم چې په ملګرو ملتونو کې تاسو ډېری کسان بومي امریکایان نه یاست. نه؟ هوکې. نو، اوس تاسو هم په ورته شي باندې پوهېږئ. مونږ کولی شو چې بل ستوري یا د ژوند بلې طبقې ته د دې لپاره سفر وکړو چې وپوهېږو. دغه فاصله دومره اوږده ده چې مونږ نشو کولی په پښو لاړ شو، نشو کولی په راکټ کې لاړ شو، حتی نشو کولی چې په یو UFO کې لاړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې جهانونه د UFO د الوت له ساحې څخه لیرې دي. UFO یا Unidentified object (نامعینه وسیله). یوه الوتونکې وسیله، هوکې! اوس زمونږ په وجود کې داسې یو څه شته چې له هر UFO څخه ګړندی دی. هغه زمونږ خپله اروا ده. ځینې وختونه مونږ ورته روح وایو، او مونږ کولی شو چې د هغه په واسطه د سون له موادو پرته، له پولیسو یا له ترافیکي ازدحامونو یا بل هرڅه څخه پرته والوزو. اړتیا نشته چې مونږ دې ته وارخطا شو چې یوه ورځ به عربان په مونږ باندې تېل خرڅ نه کړي (خندا) ځکه چې هغه یو پرځان بسیا ځواک دی. هېڅ کله هم خرابېږي نه، مګر دا چې مونږ وغواړو چې هغه له کلي احکامو څخه په تجاوز سره، د اسمان او ځمکې له تطابق څخه په تجاوز سره چې ډېر په اسانۍ سره یې مخه نیول کېدای شي، هغه تخریب کړو. که چېرې ستاسو لپاره په زړه پورې وي، مونږ به تاسو ته ووایو چې څنګه پرې پوه ش ئ

د مثال په توګه، زه به یې په لنډو ټکو کې بیان کړم، سمه ده؟ زه یوه مبلغه نه یم. وارخطا کېږئ مه، زه تاسوکلیسا ته نه بیایم، بلکې یوازې یو مثال وړاندې کوم.

په عالم کې یو شمېر قوانین دي چې مونږ باید پرې پوه شو، دا فقط داسې ده لکه کله چې مونږ موټر چلوو، مونږ باید د ترافیکو په قوانینو باندې وپوهېږو. سور څراغ؛ زرغون څراخ؛ او بیا ځو. کیڼ لوري ته وچلوه، ښـي لاس ته او داسې نور. په لویه لاره کې ګړندیتوب څومره وي. نو په عالم کې یو شمېر ډېر ساده قوانین دي، په فزیکي عالم کې. زمونږ له جهان څخه پورې، تر دې فزیکي جهان هاخوا، هېڅ قوانین نشته، بالکل هېڅ قوانین نشته. مونږ خپلواک یو، خپلواک اوسېدونکي، خو مونږ باید تر هغې پورې ولاړ شو څو ازاد وګرځو. او تر هغه چې مونږ لا په دې دنیا کې په فزیکي بڼه اوسېږو، مونږ باید ترممکن حده پورې ډېر په قانون برابر واوسو، څو مونږ له ستونزو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخامخ نشو. او په دې توګه زمونږ عرادې تخريب نشي ځو مونږ په ګړنديتوب سره پرته له کومو ستونزو ګاللو والوځو.

نو دغه قوانين ستاسو په مقدس کتاب کې ليکل شوي دي، ستاسو د عيسويانو په مذهبي کتاب کې او د بودايانو په مذهبي کتاب کې يا د هندوانو په مذهبي کتاب کې. ډېر اسانه لکه دا چې مونږ ګاونډيانو ته ضرر نه رسوو؛ قتل نه کوو. تاسو بايد قتل ونه کړئ. مونږ بايدځپل د ژوند له ملګري پرته له نورو سره د مينې کولو د اړيکې او غلا مرتکب ونه ګرځو؛ او دا چې زهري مواد، چې نن ورځ په کې نشه يي مواد شامل دي ونه کاروو. ښايي بودا پر دې پوهېده چې په ۲۰مه پېړۍ کې به مونږ کوکايين او نور راوباسو، نو هغه ويلي وو چې نشه يي توکي مه کاروئ. په نشه يي توکو کې د قيمار ټول ډولونه او هر داسې څه شامل دي چې زمونږ مغزونه فزيکي خوښيو پورې تړي او روحاني خوشحالي مو له ياده وباسي.

که چېرې مونږ غواړو چې ګړندی، لوړ او بې خطره الوت وکړو، دا فزيکي قوانين دي، عينا لکه د فزيک قوانين. کله چې يو راکټ غواړي چې والوزي، ساينسپوه بايد ټاکلي قوانين مراعت کړي او بس. سمه ده؟ نو کله چې مونږ غواړو تر دې هم لوړ، تر دې هم لوړ چې راکټونه الوتلی شي، او تر نامعينو وسيلو (UFOs) هم ګړندی الوت وکړو، بايد ځومره محتاط واوسو. که چېرې ستاسو لپاره په زړه پورې وي، داسې نور ټکي هم شته چې کېداى شي ياد شي، او دغه کار به ستاسو له خوا د پيل په وخت کې کېږي. اوس مونږ نه غواړو چې تاسو د دغو لاربښوونو په واسطه سټرې کړو چې تاسو واى ئ ، " زه لا له وخته پر دې پوهېدم. زه لا له وخته پر دې پوهېدم. ما په مقدس کتاب کې لوستلي دي. لس حکمونه، سمه ده؟ لس فرمانونه."

په حقيقت کې، مونږ ډېر داسې يو چې حکمونه مو لوستي دي، خو په ژوره توګه مو پرې غور نه دی کړی، يا دا چې سم پرې نه يو پوه شوي. که پوه شوي يو هم داسې چې مونږ غوښتي نه هسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د هغو حقيقي معنی ده. دا مونږ ته تاوان نه رارسوي چې مونږ ته بيا رایاد کړای شي يا دا چې يو ځل بيا يې لږ په غور سره واورو. د مثال په توګه، په مقدس کتاب کې، په زاړه عهد (Old Testament) کې، په لومړي مخ کې، خدای وايي، ما ټول حيوانات داسې پيدا کړل چې له تاسو سره په مينه چلند وکړي او مرسته درسره وکړي، او تاسو پر هغو حاکم واوسئ . هغه فرمايي، او بيا هغه د حيواناتو لپاره ټول خواړه برابر کړل، چې هر يو يې يو جلا ډول دی، خو هغه مونږ ته داسې نه وايي چې تاسو هغوی وخورئ. نه! او هغه فرمايي، ما ټول خواړه، په پټيو کې ټول بوټي او په ونو کې ټولې مېوې د خوند لپاره خوندور او د سترګو لپاره خوښونکي پيدا کړل. دغه ستاسو خواړه دي، خو ډېر خلک هغه ته پام نه کوي، او د مقدسو کتابونو ډېر پيروان، پرته له دې چې پوه شي چې د خدای اصلي هدف څه وه، اوس هم غوښه خوري.

او که چېرې مونږ په غور سره په علمي توګه څېړنه وکړو، په دې ټکي به پوه شو چې مونږ دغوښې د خوړلو لپاره نه يو. زمونږ جوړښت، زمونږ کولمې، زمونږ معده، زمونږ غاښونه، هرڅه له علمي پلوه يوازې د نباتي خوړو د خوړلو لپاره جوړ شوي دي. دا د حيرانتيا خبره نه ده چې زياتره خلک ناروغېږي، ژر زړېږي، سترې کېږي، او تمبل کېږي په داسې حال کې چې هغه وخت چې هغوی پيدا شوي وو، ځيرک او هوښيار وو، او هره ورځ څه ناڅه مخ په ځوړ ځي. څومره چې دوی زړېږي، د بدترۍ احساس کوي. دا له دې امله ده چې مونږ خپلې "عرادې" ، خپلې "الوتونکې وسيلې"، خپلې "نامعينې وسيلې"خرابوو. نو که چېرې مونږ غواړو چې دغه "عراده" څه ناڅه ډېره او په مصؤنه توګه وکاروو، مونږ بايد سم پام پرې وکړو.

د بېلګې په توګه مونږ يو موټر لرو. تاسو ټول موټر چلوئ. اوس که چېرې تاسو په کې خراب پيټرول واچوئ، څه به پېښ شي؟ څنګه به پېښ شي؟ ښايي يوازې يو څو فټه لاړ شي او بيا ودرېږي، او تاسو موټر نه ملامتوئ. هغه يوازې زمونږ غلطي ده. مونږ په غلطۍ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې تېل وراچولي چې د هغه لپاره نه دي. يا دا چې که چېرې زمونږ په پيټرولو کې يو څه اوبه ګډې وي، ښايي تر څه ځايه پورې لاړ شي، خو ستونزه به لري. يا دا چې که چېرې زمونږ تېل ډېر زيات خيرن وي او مونږ پاک کړي نه وي، موټر به تر يو ځاى پورې لاړ شي، خو بيا به مونږ له ستونزې سره مخامخ شو. او ځينې وختونه هغه يوازې د دې له امله چاودنه کوي چې مونږ پرې په صحيح ډول پام نه دى کړى.

په ورته ډول، زمونږ بدن د يوه موټر په څېر دى چې مونږ کولى شو د دې لپاره يې وکاروو څو له دې ځايه لايتناهى ته، د علمي حکمت تر ټولو لوړې پوړۍ ته الوت وکړي، خو ځينې وختونه يې مونږ خرابوو او د مناسب هدف لپاره يې نه کاروو. د مثال په توګه، زمونږ موټر بايد څو ميله لاره ووهي څو مونږ زمونږ دفتر ته، زمونږ ملګرو او بېلابېلو ښکليو منظرو ته ورسوي، خو بيا هم مونږ پر هغه پام نه کوو، غلط پيټرول په کې اچوو، او په تېلو، د اوبو په ټانکۍ او نورو يې پام نه کوو چې هغه بيا په ګړندي ډول او تر ليرې ځايه نه ځي او مونږ مجبورېږو چې په خپل کور کې پاتې شو او يوازې د خپل انګړ په چمن کې قدم ووهو. دا هم ښځي همداسې ده. په دې توګه مونږ خپل د موټر پېرلو هدف خطا کړى دى او پيسې، وخت او انرژي مو بې ځايه لګولي دي، او بس. هيڅوک بايد ملامت نه کړاى شي، او هېڅ پوليس به له دې امله تاسو جريمه نه کړي. يوازې دومره خبره ده چې تاسو خپل موټر او پيسې ضايع کړي دي، په داسې حال کې چې تاسو کولاى شواى چې تر ليرې ليرې لاړ ش ئ او ډېر څه وګورئ، او د بېلابېلو منظرو له ليدلو څخه خوند واخل ئ .

زمونږ بدنونه هم ورته ځانګړتياوې لري. مونږ کولى شو چې په دې نړۍ کې واوسېږو خو بيا مونږ دې ته پام کوو چې په دغه فزيکي بدن کې مونږ نور وسايل هم لرو چې مونږ کولى شو تر هغه پورې اړخ ته لاړ شو. دا تيار داسې دى لکه يو ستور مزلى، چې په يو راکټ کې کېني. راکټ د هغه وسيله ده؛ هغه بايد پوره پام وکړي څو له فزيکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوانینو څخه سرغړونه ونه کړي؛ څو د هغه راکټ په امن سره او په ګړندي ډول والوزي. په راکټ کې دننه ستورمزلی مهم دی چې راکټ يې خپل منزل ته و رسوي. راکټ اصلي هدف نه دی، بلکې ستورمزلی او منزل اصلي هدفونه دي، خو که چېرې يې هغه د دې لپاره کاروي چې د اوږده ټاپو (Long Island) پر سر وګرځي، دا د وخت ضیاع ده؛ د هېواد د پیسو بې ځایه لګول دي.

له دې امله، زمونږ وجود ډېر ارزښتناک دی ځکه چې دننه په کې استاد اوسېږي. دغه سبب دی چې په انجیل کې فرمايي، آیا تاسو نه پوهېږئ چې تاسو د خدای معبد یاست او خدای تعالی ستاسو دننه اوسېږي، سپېڅلې ارواه، هم دغه شی دی. تاسو فکر وکړئ، دا څومره معنی لرونکې او د معنی له لحاظه مهمه ده چې مونږ روح القدس یا خدای تعالی ته په خپل وجود کې دننه ځای ورکړی دی! خو ډېر خلک دا په چټکۍ سره لولي او پوهېږي پرې نه. د دغې جملې سترتوب نه درک کوي او نه هڅه کوي چې درک يې کړي. دغه دلیل دی چې زما پیروان له دې سره مینه لري څو زما تعلیمات تعقیب کړي ځکه هغوی کولی شي له ټولو ورځنیو جنجالونو، پیسو ګټلو او ټولو مادي مسایلو پرته په دې توګه ومومي چې دننه څوک دی او له دې نړۍ پورې خوا ته څه تېرېږي.

مونږ په خپل ځان کې دننه ډېره ښکلا، ډېره ازادي او ډېره پوهه لرو، او که چېرې مونږ له دغو سره د اړیکې ټینګولو په صحیح لاره باندې پوه شو دا ټول زمونږ کېږي ځکه چې هغه زمونږ په وجود کې دننه وجود لري. دا یوازې له دې امله ده چې مونږ نه پوهېږو چې کیلي چېرې ده او مونږ دغه "خونه" دا ډېر وخت قلف کړې ده او هېره کړې مو ده چې مونږ دغه خزانه لرو. او بس.

نو لاربښود هغه څوک دی چې کولی شي له مونږ سره مرسته وکړي څو دغه دروازه پرانیزو او مونږ ته وښيي چې مونږ اصلا څه لرو، خو مونږ باید له دغه وخت څخه ګټه واخلو؛ او وردننه شو او ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه وګورو چې مونږ یې لرو.

په هرحال، مونږ په دویمه نړۍ کې وو. آیا تاسو غواړئ چې وړاندې لاړ ش ئ ؟ (حاضرین: هوکې! هوکې!). آیا تاسو غواړئ چې له کار کولو پرته په هر څه باندې پوه ش ئ ؟ سمه ده. خو لږ ترلږه، یو ځوک چې یو هېواد یې لیدلی وي درته ویلی شي چې هغه هېواد څنګه دی، که څه هم چې تاسو په خپله هلته تللي نه یاست. سمه ده؟ که ستاسو لپاره په زړه پورې وي، ښایي وغواړئ هلته لاړ ش ئ . هوکې. اوس تر دویمې نړۍ وروسته؛ ما دویمه هغه په بشپړ ډول نه ده خلاصه کړې، خو تاسو پوهېږئ چې مونږ نشو کولی ټوله ورځ دلته کېنو، نو تر دې دویمې هغې وروسته به تاسو ډېر ځواک ولرئ. که چېرې تاسو تصمیم نیولی وي او د هغې لپاره کار وکړئ، تاسو به دریېمې هغې ته لاړ ش ئ . دریېمه نړۍ یوه لوړه پوړۍ ده.

هغه ځوک چې دریېمې نړۍ ته ځي باید د دې نړۍ له هر پوړ څخه لږترلږه په بشپړ ډول پاک وي. که چېرې مونږ د دغې مادي نړۍ د پاچا پوروړي اوسو، مونږ نشو کولی چې وړاندې لاړ شو. دا داسې ده لکه تاسو چې د یوه هېواد مجرم یاست، ستاسو ریکارډ پاک نه وي، تاسو نش ئ کولی چې د هغه هېواد له پولو څخه تېر او بل هېواد ته لاړ ش ئ . نو د دې نړۍ په پوړ کې هم ډېر داسې شیان دي چې مونږ په تېر او اوس وخت کې کړي دي او ښایي د خپل ژوند په راتلونکو شپو او ورځو کې یې هم ترسره کړو. اوس مخکې تر دې چې مونږ بلې دنیا ته لاړ شو دا هر څه باید لکه د دې دنیا د ګمرکي تادیاتو په څېر پاک کړو، خو کله چې مونږ په دویمه نړۍ کې یو مونږ د خپلې ماضی او حال د "کارما" له پاتې شونو سره یو ځای کار پیل کوو ځکه چې د ماضی له کارما پرته مونږ د حال په ژوند کې نشو پاتې کېدلی.

استادان دوه بېلابېلې کټګورۍ لري. یو هغه چې کارما نه لري، خو د راښکته کېدلو لپاره کارما پور کوي؛ بل هغه چې زمونږ په څېر دي، عادي مخلوق دی، خو پاکه کارما لري. نو هر ځوک کېدای شي یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاربښود وګرځي، د راتلونکي لاربښود. ځينې وختونه لاربښود له پورته نړۍ څخه له پور شوې کارما سره راښکته کېږي. دا ستاسو لپاره څه ډول معلومېږي چې کارما پور کړئ؟ دا شونې ده. دا شونې ده.

د مثال په توګه، مخکې تر دې چې تاسو دلته راښکته ش ئ ، تاسو دلته وئ. او تاسو د ډېرو وختونو يا په سلګونو کلونو لپاره له خلکو سره راکړه ورکړه درلوده. او بيا تاسو بېرته جنت يا خپل استوګنځي ته چې له دې ځاى څخه ډېر ليرې دى، پنځمې طبقې ته لړ ترلړه بېلابېلې طبقې ته ځ ئ . هلته په پنځمه طبقه کې د استاد استوګنځى دى، خو تر هغې پورې هم څه طبقې شته.

اوس چې کله مونږ وغواړو چې د څه خواخوږۍ يا ، د مثال په توګه، د خالق له خوا د راکړل شوې دندې د ترسره کولو لپاره بېرته راشو، مونږ لاندې راښکته کېږو. د تېر وخت له خلکو سره د نژدېوالي په سبب، مونږ کولى شو چې د هغوى له حساب يعنې کارما څخه يو څه په پور راواخلو. يوازې پور، نه بل څه. مونږ کولى شو چې پور واخلو او بيا يې د خپل روحاني قوت له لارې، په ورو ډول تر هغه وخت پورې چې مونږ په دې دنيا کې خپله وظيفه پاى ته رسوو، بېرته وسپارو. دا نو بيا د استادۍ يو بېل ډول دى؛ او داسې نور هم شته چې د دې دنيا خلک دي. وروسته له هغه چې هغوى تمرين وکړي، سمدستي ترې استادان جوړېږي. داسې لکه چې فارغېږي. هوکې. دا د پوهنتون استادانو ته ورته دى چې مونږ يې لرو او هم ورسره زده کونکي لرو چې فارغېږي او بيا ترې پروفيسران جوړېږي. داسې استادان هم شته چې له ډېر وخت راهيسې استادان دي او داسې هم چې نوي فارغ شوي دي؛ او داسې نور. په ورته ډول دغه استادان هم دي.

نو که چېرې اوس مونږ غواړو چې درېيمې نړۍ ته لاړ شو، مونږ بايد د کارما له هر داغ څخه پاک اوسو. کارما يو قانون دى چې ښيي چې څه چې کرې هغه به رېبې. داسې لکه مونږ چې يو د نارنج زړى کرو، او بېرته ترې نارنجان لاس ته راځي؛ د مڼې زړى کرو، مڼې ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس ته راځي، دغې ته کارما وايي. دا د سانکريټ ژبې اصطلاح ده چې د علت او معلول په معنى ده. انجيل د کارما لفظ نه دى ياد کړى خو وايي چې، څه چې کرې، هغه به ريبې. او دغه ټکي دې ته ورته معنى لري.

انجيل د يوه لاربښود د تعليماتو يو لنډ شکل دى، داسې لکه د مسيح عمر چې لنډ وه. نو ويلى شو چې مونږ په انجيل کې ډېره تشريح نه لرو؛ او د انجيل ډېرې برخې له دې امله سانسور شوې دي څو د يو شمېر واکمنو چې تر ډېره حده روحاني خلک نه وو له حرکتونو سره برابر شي. تاسو پوهېږئ چې خلک په هره برخه کې د شيانو پېر او پلور ترسره کوي؛ او د ژوند په هر اړخ کې دلالان وجود لري، خو زمونږ د معلوماتو له مخې حقيقي انجيل د هغه يوه په پرتله چې اوس موجود دى يو څه مختلف، اوږد، ارزښتناک او په اسانۍ سره د پوهېدلو وړ دى. په هر حال، دا چې مونږ نشو کولى څو تر دې ډېر څه ثابت کړو، نو مونږ په دې هکله له خبرو کولو څخه ډډه کوو څو خلک مونږ په کفر باندې تورن نه کړي او يوازې هغه څه وايو چې کولى شو ثابت يې کړو.

تاسو به له ما څخه پوښت ئ چې، " ته د دې دويمې نړۍ، درېيمې نړۍ او څلورمې نړۍ په هکله خبرې کوې، دا نو څنګه ثابتوې؟ " هوکې، زه کولى شم چې دا درته ثابته کړم. که چېرې تاسو له ماسره يو ځاى په ورته لاره لاړ ش ئ ، تاسو به ورته څيزونه وګورئ، خو که چېرې تاسو لاړ نه ش ئ ، زه يې تاسو ته نشم ثابتولى. او دا يوه مسلمه خبره ده. دا يوه مسلمه خبره ده. زه د دغو څيزونو ننګونه له دې امله کوم چې ثبوت يې شته. مونږ په ټوله نړۍ کې د سلګونو زرو پيروانو د موجوديت په اساس دا ثبوتوو، نو مونږ هغه څه وايو چې پرې پوهېږو. خو د دې کار لپاره بايد تاسو له ماسره لاړ ش ئ ، که نه تاسو نش ئ ويلى چې نه زه نه ځم " ته زما لپاره لاړه شه او هر څه راته ووايه او وښيه ".

د مثال په توګه، که چېرې زه دلته د ملګرو ملتونو په مؤسسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې په دې خونه کې نه یم او تاسو راته د دې خونې په هکله هر څومره ډېر ووای ئ ، زه به یې په ریښتني ډول تجربه نه کړم. سمه ده؟ نو مونږ باید له هغه چا سره چې مجرب لارښود وي لاړ شو. زه په دې خونه کې د بېلابېلو هېوادونو اړوند پیروان لرم، هغوی له هغه څه څخه چې ما تاسو ته همدا اوس وویل څه ناڅه تجربه کړي دي.

درېیمه نړۍ هم په هېڅ وجه هر څه نه دي. هغه څه چې ما تاسو ته وویل یوازې د هغې یوه برخه ده. دا یوه یونلیک ته ورته ده چې یوازې یو شمېر پېښې په کې راغلې دي او ډېر په تفصیل سره نه دي بیان شوي. حتی کله چې مونږ د یوه هېواد په هکله یو کتاب لولو، هغه په خپله هغه هېواد نه دی. سمه ده؟ که څه هم چې مونږ په نړۍ کې د یو شمېر هېوادونو په هکله او د یونلیکونو په برخه کې ډېر زیات کتابونه لرو، خو لا هم غواړو چې هغو هېوادونو ته په خپله لاړ شو. مونږ د هسپانیې، تینیریف او یونان په هکله پوهېږو، خو دا یوازې فلمونه یا یوازې کتابونه دي. د دې لپاره چې مونږ په هغه ځای کې د پاتې کېدلو، د هغو ځایونو د خوړو، د سیند د خوړو اوبو، د خلکو د دوستانه چلند او نورو حقیقي خوند چې مونږ یې دکتابونو په لوستلو سره نشو تجربه کولی، وڅکو، باید چې په خپله هلته لاړ شو.

په هر حال، فرض کوو چې تاسو له درېیمې نړۍ څخه هم تېر شوئ، ښه بیا څه کېږي؟ معلومه خبره ده چې تاسو لا پورته، څلورمې طبقې ته ځ ئ . څلورمه طبقه په خپله یوه فوق العاده سطحه ده. مونږ نشو کولی چې د هغې په هکله هر څه په ساده ژبه عوامو ته تشریح کړو. کېدای شي چې د هغې طبقې حاکم وځوروو، ځکه هغه دنیا ډېره ښکلې ده، که څه هم چې ځینې برخې یې ډېرې تیاره دي. تر دې هم ډېرې تیارې لکه د نیویارک د ښار برېښنا چې نه وي. آیا تاسو کله هم یو ښار په بشپړه تیاره کې لیدلی دی؟ هوکې! تر هغې هم ډېره تیاره ده. خو مخکې تر دې چې رڼا ته ورسېږئ، هلته تیاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه یو ممنوعه ښار دی. مخکې تر دې چې مونږ خدای په پوره توګه وپېژنو، هلته ودرول کېږو. خو له یوه لاربښود سره، له یوه مجرب لاربښود سره په ملګرتیا کې تاسو کولی ش ئ چې تر هغه تېر ش ئ ، که نه مونږ نشو کولی چې په دغسې یوه نړۍ کې د ځان لپاره لاره پیدا کړو.

کله چې مونږ د شتون او هستۍ بېلابېلو سطحو ته رسېږو، مونږ په خپل ژوند کې نه یوازې معنوي بلکې مادي او نور تغیرات هم ګورو. مونږ ژوند ته په یو بل شکل ګورو. مونږ په یوه بله لاره ځو، او په بل ډول کار کوو، حتی زمونږ مصروفیت، ورځنی کار یو بل مفهوم مومي او دا مومو چې مونږ ولې په دغې طریقې کار کوو. ولې باید هغه کار پرېږدو او دغه کار ته مخه کړو. له ژوند څخه خپل هدف مومو، له دې امله به نور تر دې ډېر خفه او مضطرب نه یو. خو مونږ په ډېر صبر او حوصله سره د دې انتظار کوو څو زمونږ ماموریت په دې دنیا کې پای ته ورسېږي، څکه پوهېږو چې تر هغه وروسته به چېرې ځو. مونږ دغه حالت په داسې حال کې چې په دې دنیا کې ژوند کوو، مومو. دا هماغه "د ژوند په حالت کې مرګ دی". هوکې، هوکې! او زه فکر کوم چې په تاسو کې ځینې کسانو تر دې مخکې دغه ډول څه اورېدلي دي، خو زه داسې کوم لاربښود نه پېژنم چې له دې څخه په توپیر سره دې وغږېږي (استاده مسکۍ کېږي)، مګر دا چې مونږ د دننه نیو تجربو خوند پخپله وڅکو.

څنګه کېدی شي چې یو څوک مرسیډیز بنز د هغه له کوایفو څخه پرته په بل ډول تشریح کړي. خبره د مرسیډیز بنز ده؛ نو هر څوک چې مرسیډیز بنز ولري، هغه پېژني او هماغه به تشریح کړي، خو دغه تعریف په خپله مرسیډیز بنز نشي کېدلی. که څه هم چې زه له تاسو سره په ډېرو ساده ټکو خبرې کوم، خو دا مسایل ساده نه دي. دا داسې څیزونه دي چې مونږ یې باید په خپلو ځانونو، د کارونو له لارې، په خلوص او لاربښوونې سره تجربه کړو. که څه هم چې یو پر یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميليونمه د دې احتمال شته چې مونږ دې دغه کړنې په يوازې ځان سره ترسره کړو، خو دغه کار به بې خطره نه وي او پايلې به يې هم نامطم ئ نې او غيرمحفوظې وي.

د مثال په توګه داسې کسان هم وو لکه سويډن بورګ (Sweden Borg) يا ګورجيېف (Gurdjieff) چې دغه کړنې يې په يوازې ځان ترسره کړې دي، خو کله چې زه د هغو دواړو د کارونو په هکله لولم، ګورم چې هغوى دغه لارې په ډېرو ستونزو او خطرونو سره طى کړې دي. او بله دا چې هغوى خامخا تر ټولو لوړې سطحې ته هم نه دي رسېدلي.

نو، تر دې وروسته بيا تاسو پورتنۍ مرحلې ته ځ ئ . تر ځلورمې وروسته تاسو پنځمې سطحې ته ځ ئ . په هغه ځاى کې چې د استاد کور دى او ټول استادان له هغه ځاى څخه راغلي دي. که څه هم چې د هغوى سطحې تر پنځمې لوړې دي، خو هغوى هلته پاتې کېږي. هغه د استادانو استوګنځى دى. او تر هغه اخوا د خداى مختلف اړخونه دي چې پوهېدل پرې سخت دي. د دې پرځاى چې تاسو ګنګس کړم، ښه دا دى چې نور درته بل وخت ووايم. ښايي تر تشرف وروسته، چې هغه وخت به تاسو د اورېدلو لپاره نسبتا ډېر تيارى لرئ. زه به تاسو ته ستاسو د تصوراتو په هکله ستاسو په خوښه نه برابر څه ووايم؛ په دې هکله چې څينې وختونه انسان د خداى په هکله په خپلو عقايدو کې څومره تېروتنه کوي.

## ترلکچر وروسته
## د پوښتنو او ځوابونو برخه

**پوښتنه:** تاسو ياده کړه چې لاربښودکولى شي د خلکو کارما پور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. آيا په دې حال کې د دغو انسانانو کارما پاکېږي؟ دغه کار به د دغو خلکو لپاره څه پايلې ولري؟

**استاد:** که چېرې لاربښود وغواړي؛ کولی شي چې د هر چا کارما پاکه کړي. اصلا، د تشرف پر وخت د ټولو مريدانو ښخوانۍ کارماګانې پاکېږي. زه تاسو ته يوازې موجوده کارما پرېږدم څو په دې توګه مونږ خپل دغه ژوند ته دوام ورکړو، که نه مونږ ژر مړه کېږو. که کارما نه وي - دلته ژوند نه کېږي. نو لاربښود بايد ټوله شوې کارما پاکه کړي، څو شخص پاک شي، او لږه کارما ورسره پرېږدي څو په هغې سره خپل ژوند ته دوام ورکړي او د ژوند چارې پرې سرته ورسوي. دغه وجه ده چې هغه کولی شي لاړ شي، که نه نو څنګه کولی شي چې هغه وړاندې لاړ شي؟ که څه هم چې هغه په خپل ژوند کې پاک وي، خو څومره پاک؟ او دا چې تېر ژوند به څنګه کېږي. پوه شوئ؟

**پوښتنه:** ستاسو د تمرينونو هدف څه دی؟

**استاد:** هدف څه دی؟ ما تاسو ته نه دي ويلی؟ له دې نړۍ څخه پورې سفر کول، بېرته د خدای پاچاهۍ ته ورستنېدل، له خپل حکمت څخه خبرېدل، او په دغه ژوند کې لا ښه شخص جوړېدل.

**پوښتنه:** او آيا په ټولو قلمروونو کې کارما شته؟

**استاد:** نه په ټولو قلمروونو کې نه، يوازې تر دويم قلمرو پورې شته، ځکه چې زمونږ مغز، زمونږ تفکر، زمونږ کمپيوټر په دويمه مرحله کې جوړېږي. کله چې مونږ له دغو ټولو لارو څخه لاندې راځو، له پاسه مادي او فزيکي سطحې ته راښکته کېږو، فرض کړئ چې غواړو يو کار ترسره کړو. سمه ده؟ د مثال په توګه، حتی ښځپله لاربښود هم چې کله له پنځمې مرحلې څخه مادي نړۍ ته راښکته کېږي، بايد دويمې مرحلې ته لاړ شي، دغه کمپيوټر راواخلي او داسې يې برابر کړي چې په دې نړۍ کې کار وکړي. دا بېخي داسې دی لکه يو لامبوزن، چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمندر کې ښکته ځي، بايد چې د اکسيجن ګاز او نور هر څه له ځانه سره ولري. که څه هم چې هغه پخپله دومره مسخره نه ښکاري خو کله چې هغه د اکسيجن ماسک او د لامبو وهلو جامه اغوندي، هغه د يوه چنګښ په څېر ښکاري. مونږ هم له دې کمپيوټر او مادي موانعو سره همداسې ښکارو. که نه مونږ ډېر ښکلي يو. که څه هم چې تاسو فکر کوئ چې تاسو ښکلي ياست، خو مونږ د دنيا په سمندر کې د کار د ترسره کولو په نيت له اغوستو دنيايي وسايلو او جامو سره د هغه څه په پرتله چې په اصل کې يو، ډېر بدرنګ ښکارو.

نو وروسته له هغه چې مونږ له دويمې مرحلې څخه تېر او پورته لاړ شو، مونږ بايد خپل کمپيوټر دلته پرېږدو؛ پاس ورته مونږ چېرې اړتيا نه لرو. دا داسې ده لکه کله چې يو غوټه وهونکی د سمندر غاړې ته رسېږي، خپل د اکسيجن ماسک او د غوټې وهلو نور وسايل ليرې کوي، او بيا داسې ښکاري لکه چې دی. سمه ده؟ هوکې!

**پوښتنه:** تاسو وويل چې د دويمې نړۍ په پای کې، مخکې له دې چې تاسو پورته لاړ ش ئ ، خپله ټوله کارما تر شا پرېږدئ، او بايد چې ټوله پاکه کړئ. آيا په دې کې ستاسو د تېر ژوند ټوله کارما چې تاسو ورسره دې نړۍ ته راغلي ياست شامله ده؟

**استاد:** هوکې، ځکه هلته داسې کمپيوټر نشته چې هر څه ثبت کړي. مونږ د دغه مغز او خپل کمپيوټر په واسطه چې د دغې مادي نړۍ هره تجربه ثبتوي، کارما تر لاسه کوو. که ښه وي که بد، مونږ ټول دلته ثبتوو. دا هغه څه دي چې مونږ يې کارما نوموو. کارما څه ده؟ يوازې زمونږ هغه ښې يا بدې تجربې، زمونږ غبرګونونه، او زمونږ په ټول ژوند کې زمونږ تر لاسه کړې تجربې. مونږ د دې دليل په پام کې نيولو سره چې په اصطلاح وجدان لرو، پوهېږو چې بايد ښه واوسو. په داسې حال کې چې ځينې وختونه له مونږ څخه بد کارونه صادرېږي. نو مونږ دغې ته کارما وايو. بد عملونه د يوه درانه بار په څېر پر مونږ درانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تماميږي او مونږ د جاذبې د قانون په اساس ښـکته کش کوي او زمونږ لپاره په غره باندې ختل سـختوي. پام مو دى؟ ځکه چې په دې نړۍ کې ډېر اخلاقي انضباطونه، ډېر اصول، ډېر دودونه، په بېلابېلو ولسـونو کې ډېر عادتونه مونږ د ښـو او بدو، ګناه او بې ګناهۍ په دغو تصورونو کې قيدوي. نو د نړۍ له خلکو سـره زمونږ په متقابلو اړيکو کې مونږ ښـه او بد، ګناه او پاکوالى د هغې ټولنې د عادتونو، سـلوک او قوانينو په اساس تجربه کوو. دا زمونږ عادت جوړېږي چې داسې فکر وکړو، چې که چېرې دا کار وکړو، مقصر يو او که هغه کار وکړو، بد شـخص به يو. او دا هر څه دلته ثبتېږي. دا هغه څه دي چې مونږ لېږد ته برابروي او دې ته مو جوړوي څو په دغې مادي نړۍ يا تر هغې لږ ورپورته سـطحه کې محدود پاتې شـو؛ خو دومره پورته نه. مونږ په کافي اندازه ازاد نه يو. مونږ دې ته تيار نه يو چې پورته والوزو؛ د همدغو پخوانيو تصورونو او ذهنيتونو له امله.

**پوښـتنه:** آيا مونږ ته هماغه د زېږېدنې له وخت څخه داسې يوه طبقه ټاکل شـوې ده چې مونږ د ژوند په هره دوره کې تر هغې پورې د رسـېدلو وړتيا لرو؟

**استاد:** نه. مونږ کولى شـو چې ګړندي لاړ شـو يا ورو. د مثال په توګه، خپل موټر واخل ئ . تاسـو په هغه کې سـل ليټره پيټرول اچوئ. تاسـو کولى ش ئ چې ګړندى يې وچلوئ او ژر خپل مقصد ته ورسـېږئ يا هم دا چې ورو لاړ ش ئ ؛ دا تاسـو پورې اړه لري.

**پوښـتنه:** ښـه. زه غواړم له تاسـو څخه يوازې دا وپوښـتم چې پرښـتې په کومه طبقه کې دي؟

**استاد:** په کومه طبقه کې دي؟ اوه! کوم ډول پرښـتې؟

**پوښـتنه:** حفظه پرښـتې.

**استاد:** حفظه پرښـتې کولى شـي چې تر دويمې طبقې پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسېږي. پربښتې تر بشر ټیټ مقام لري. اعتبار او نفوذ یې تر بشر کم دی. زمونږ د خدمت لپاره پیدا کړای شوې دي.

**پوښتنه:** او په هېڅ ډول تر هغه پورته نه ځي؟

**استاد:** نه. لاکن دا چې په بشر باندې تبدیل شي. هغوی ټول له بشر سره د غبطې په حال کې دي، ځکه چې خدای د انسان په وجود کې دننه اوسېږي. مونږ ټول داسې لازم امکانات لرو چې له خدای سره یو ځای شو، پربښتې دا امکانات نه لري. دا لږه پېچلې ده. په دې هکله خبرې بلې ورځې ته پرېږدو.

هغه داسې مخلوق دی چې مونږ ته د خدمت کولو لپاره خلق شوي دي. همدغه وجه ده چې تاسو د پربښتو بېلابېلې نمونې ګورئ. د مثال په توګه، هر هغه څه چې خدای خلق کړي دي، زمونږ د خدمت لپاره دي. او هغه نباید وړاندې لاړ شي او نه هم اړتیا لري چې و ړاندې لاړ شي. خو کولی شي. ځینې وختونه، ځینې شیان دجوړولو لپاره له مناسب تیاري څخه پرته جوړېږي.

د مثال په توګه، تاسو په خپل کور کې د خپل ارام لپاره په زړه پورې شیان تیاروئ. لکه دا چې تاسو په یو داسې ځای کې ناست یاست چې له هغه ځای څخه د خپل کور او خواوشا ټول څراغونه او همدارنګه تلوېزیون بل او ګل کړئ، ځکه چې تاسو د خپل خدمت لپاره جوړ کړي دي، خو دا یوازې ستاسو د خدمت لپاره دي. په ځینې حالتونو کې دغه شیان ستاسو په پرتله ښه کار کولی شي؛ لکه دا چې هغه په یو ځای کې لګېدلی وي او کولی شي چې هر څه کنټرول کړي او تاسو نش ئ کولی چې د یوه بشر په توګه یې پخپله ترسره کړئ. خو د دې معنی دا نه ده چې هغه تر تاسو غوره دي. هغه یوازې ستاسو د خدمت په مقصد جوړ شوي دي. که څه هم چې هغه تر تاسو غوره دي، خو نه دي. هوکې! له کمپیوټر څخه هېڅکله انسان نشي جوړېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه:** استاد چينګ های! زه غواړم وپوهېږم چې آيا دا چې مونږ چې دا مهال په دغه جسم کې يو، کېدای شي معنی يې دا وي چې مونږ، چې يو ځل مو له دغه جسم څخه خلاصی موندلی وه، بېرته ورته راغلي يو؟ آيا مونږ تل په دغه حالت کې وو يا دا چې پخوا، تر دې په ښه وضعيت کې وو؟ يا همېشه په دغه حالت کې وو؟ د مخکې تګ لپاره ښه حالت او وضعه څه ده؟

**استاد:** د جسم پرېښودل او مخکې تګ؟ هوکې، که چېرې مونږ وپوهېږو چې څنګه کېږي، بيا کېدی شي چې دغه ډول کارونه ترسره کړو. د جسم د پرېښودلو او ماورا جهان ته د تګ لپاره ډېرې طريقې شته دي. ځينې يې تر ليرې نه، ځينې تر ډېر ليرې او ځينې نورې هم تر انتها پورې وړاندې تللې دي. نو د ځوانۍ پر وخت – که څه هم چې زه لا تر اوسه پورې ځوانه ښکارم خو هغه وخت تر دې هم ځوانه وم، زما د بېلابېلو څېړنو د پرتلنې په اساس، زمونږ دغه ميتود تر ټولو غوره دی، هوکې! چې تر ليرې، له ليرې څخه ليرې او تر نهايت پورې رسېږي.

ډېرې نورې طريقې هم شته چې که تاسو وغواړئ کولی ش ئ انتخاب او تجربه يې کړئ. په بازار کې ډېرې طريقې شته: ځينې يې استرال دنيا ته ځي، ځينې يې درېيمې او څلورمې هغې ته رسېږي، خو ډېرې يې پنځمې هغې ته نه ځي. نو زمونږ طريقه او تمرين داسې دی چې مخکې له دې چې مونږ تاسو خوشې کړو او يوازې مو پرېږدو، مونږ تاسو پنځمې مرحلې ته پورته کوو. تر هغې پورته، تر پنځمې مرحلې پورته، کېدی شي چې د خدای بل اړخ ته مو لاس ورسېږي، خو دا همېشه په زړه پورې نه وي.

مونږ همېشه ګومان کوو چې لوړ غوره دی؛ خو دا خبره همېشه ريښتيا نه خېژي؟ د مثال په توګه، ځينې وختونه مونږ يوې ښکلې ماڼۍ ته ځو، او مونږ د لارښود د استوګنې خونې ته وربلل کېږو. مونږ هلته کېنو او مونږ ته ښې يخې نوشابې او ښايسته خواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نور څه راځي. او بيا په دې فکر کې کېږو چې که لږ د دغه کور دننه لاړ شو، يو ځل يې پخپله وګورو. د کثافت ځاى او د کور نورو برخو ته سر ورښکاره کوو.دا همېشه مهمه نه ده. يا دا چې د کور اړوند د برېښنا د وېش برخې ته چې د کور شاته دى، ځو؛ دغه وخت مونږ برېښنا نيسي او ځاى په ځاى مړه کېږو. په دې توګه، دا همېشه ضروري نه ده يا دا چې سپارښتنه نه کېږي چې مونږ دې د مسايلو ژورو ته ورکوز شو، البته کولى شو چې دغسې کار د پلټنې په مقصد ترسره کړو.

**پوښتنه:** زه دوه پوښتنې لرم. يوه دا چې: که چېرې يو انسان د خپل تېر عمر حافظه لري، کوم جهان پورې اړه لري؟ دويم دا چې: د کارما او تېر عمر تر منځ څه ارتباط وجود لري؟ آيا هغه د يوه اضافه بار برخې نه دي؟

**استاد:** هوکې، هوکې. هغوى يو له بل سره ډېرې اړيکې لري. لومړۍ پوښتنه، د تېر وخت کارما له کومه راځي؟ تاسو کولى ش ئ د تېر ژوند ريکارډ ښه په ډاډ سره ولول ئ . لکه چې ومې ويل، د تېر ژوند سوابق د اکاشيک له ريکارډ څخه سرچينه اخلي. هوکې، او دا په دويمه نړۍ کې يو ډول کتابتون دى چې هر هغه څوک ورته لاس رسى لري چې هلته رسېدلى وي. هر څوک نشي کولى چې د ملګرو ملتونو کتابتون ته ورشي او لاس رسى ورته ولري، خو، د مثال په توګه، زه کولى شم چې نن ورته لاس رسى ولرم ځکه چې زه رابلل شوې يم څو په ملګرو ملتونو کې وينا واوروم. سمه ده؟ هر څوک نشي کولى چې دننه راشي، خو تاسو کولى ش ئ ، ځکه چې تاسو په يو ډول دلته په کار بوخت ياست. په ورته ډول، کله چې مونږ دويمې نړۍ ته لاس رس ولرو، مونږ کولى شو چې تېر ژوند ولولو. همدارنګه کله چې مونږ د لومړۍ نړۍ يوې برخې ته رسېږو، مونږ کولى شو چې د يوه شخص تېر ژوند ته يوه لنډه کتنه وکړو. خو دغه مرحله دومره لوړه نه ده، او ريکارډ يې هم بشپړ نه دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغه تېر ژوند تجربې له موجوده کارما سره څه تړاو لري؟ مونږ کولی شو ووایو چې دا تجربې مونږ د دې لپاره زده کړي دي څو په حاضر وخت کې پرې وچلېږو. هر هغه څه چې تاسو په تېر وخت کې تر لاسه کړي دي، کېدی شي چې ستاسو په اوسني ژوند کې ترې کار واخیستل شي. په ورته ډول، کله چې تاسو د تېر وخت ترخو یادونو ته ورته تجربې ګورئ، ستاسو د وېرې او ډار سبب ګرځي. د مثال په توګه، تاسو په تېر وخت کې په تیاره کې له زینې څخه لاندې رالوېدلي یاست، سخته ضربه مو لیدلې ده، او هېڅ چا هم له تاسو سره مرسته نه ده کړې. اوس چې هر کله له زینې څخه راښکته کېږئ، یو څه ډارېږئ، په تېره بیا چې زینه لړه لوړه او لاندې ترې تیاره وي. په داسې یو وخت کې تاسو له یوه ذهني کشمکش سره مخامخ کېږئ چې آیا راښکته ش ئ که نه. یا داسې چې که په تېر ژوند کې مو په یوه علمي برخه کې ژوره څېړنه کړې وي، په دې وخت کې هم ورسره ډېره علاقه لرئ. نو تاسو لاهم له هر ډول علمي څېړنې سره یو ډول علاقه لرئ، حتی که ستاسو کار له علمي ساحې څخه وتلی هم وي. او داسې نور مسایل هم در واخل ئ .

له دې امله ده چې موزارت په څلور کلنۍ کې یو نابغه وه. هغه د پیانو خوا ونیوله او ډېر په کې مشهور شو. هغه یو نابغه وه ځکه چې هغه د تېر ژوند په بهیر کې ډېر تمرینونه کړي وو، خو د استادۍ مرحلې ته تر رسېدلو وړاندې له دې نړۍ څخه وکوچېد. یعنې دا چې هغه مخکې تر دې چې د خپل هنري شخصیت اوج ته ورسېږي، مړ شو. هغه د خپل هنري شخصیت له پرېښودلو څخه خوښ نه وه، ځکه چې له موسیقۍ سره یې مینه درلوده. نو هغه بېرته دې نړۍ ته راغی، او د هغه د تېر وخت د موسیقۍ د استعداد ټولې تر لاسه کړې تجربې هم له هغه سره بېرته راغلې، ځکه چې د مرګ پر وخت هغه د خپلو کارونو له ادامې سره ډېره زیاته مینه درلوده.

له دغو انسانانو څخه یو شمېر یې مخکې تر دې چې دې نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ببرته راشي، ډېر شیان له آسترال نړۍ یا دویمې نړۍ څخه زده کوي. له دې امله، دغه خلک د پوهې، موسیقۍ، ادبیاتو او د اختراعاتو د ډولونو په برخو کې فوق العاده استعدادونه لري چې نور یې نه لري. هغوی د فوق العاده اختراعاتو د ترسره کولو وړتیا لري چې نور یې له درک څخه هم عاجز دي او حتی نشي کولی چې تصور یې هم وکړي، ځکه چې هغوی دغه شیان لیدلي او زده کړي دي.

د دې ټکو په پام کې نیولو سره زده کړه په دوه ډوله ده؛ چې یوه یې په دې دنیا کې ده او بله یې هم په پورې هغې کې. هغه کسان چې د نوابغو په څېر فوق العاده استعدادونه لري، د پورې نړۍ متخصصین دي، لکه د آسترال دنیا، لکه د دویمې دنیا او کله ناکله د دریېمې دنیا، چې د ببرته تګ لاره یې غوره کړې ده. دغه وګړي نابغه دي.

**پوښتنه:** ستاسو تشرف، په ځانګړې توګه، کوم خیزونه رانغاړي او کله چې یو کس متشرف شي، په ورځنۍ توګه به د څه تمرینونه کوي؟

**استاد:** ډېر ښه. لومړی خو دا چې دغه هر څه وړیا دي او هېڅ زور پر چا نشته. آیا تاسو غواړئ چې لا وړاندې لاړ ش ئ ؟ نو شرایط دا دي چې هېڅ تجربې ته اړتیا نشته. د هېڅ ډول یوګا یا میډیټېشن په هکله کومې مخکنۍ پوهې ته اړتیا نشته. خو تر دې وروسته، تاسو باید د ټول ژوند لپاره سبزي خواره وګرځ ئ . هګۍ به نه خورئ، خو د شیدو او پنېر او هر داسې څه خوړل جایز دي چې وژل کېږي نه.
هګۍ باید ولې ونه خوړل شي؟ ځکه چې دا یو ډول نیم وژل دي، که څه هم چې نطفه په کې نه وي. همدارنګه، هګۍ د منفي ځواک د جذب خوا ته تمایل لري. دغه وجه ده چې د تور یا سپین جادو زیاتره ترسره کونکي کسان یا د ووډو (Voodoo) پیروان – تش په نامه ووډو – د پیریاني کسانو د اروا د را ابستلو لپاره له هګۍ څخه استفاده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې تاسو پرې پوهېږئ که نه؟ (یو ځوک ځواب ورکوي: هوکې) تاسو پوهېږئ؟ ډېر ښه! که چټکه روشنفکري مې در نه کړله، لږ تر لږه چټک تایید خو لرم! (خندا).

د تشرف پر وخت، تاسو د خدای نور او آواز تجربه کوئ. د اروا موسیقي، چې تاسو د هوښیارۍ له سطحې څخه پورته بیایي. تاسو به د استغراق او سامادي (Samadhi)، ژور آرام خوند وڅک ئ . تر دې وروسته، که چېرې تاسو کار جدي ونیس ئ ، په کور کې تمرین ته دوام ورکوئ، خو که چېرې یې جدي نه نیس ئ ، زه نشم کولی چې په تاسو فشار راوړم او تر دې ډېر مو مزاحمت وکړم. که چېرې دوام ورکړئ او له ما څخه مرسته وغواړئ، زه هم دوام ورکوم، که نه.... بس پوه ش ئ چې په دغه ډول سره کېږي. او په ورځ کې دوه نیم ساعته میډیټیشن. سهار د وخته راپاځېږئ- دوه ساعته میډیټیشن تر خوب وړاندې او نیم ساعت هم ښایي د غرمې په وخت. په نورو وختونو کې چې زما په څېر بل ځوک د خبرو لپاره ستاسو وخت نه نیسي، تاسو د غرمې لپاره یو ساعت وخت لرئ. کولی ش ئ چې په یوه ګوښې ځای کې یو ساعت میډیټیشن وکړئ. دا پخپله یو ساعت کېږي؛ او ماښام یو ساعت یا نیم ساعت نور. سهار یو ساعت وړاندې له خوبه پورته ش ئ .

خپل ژوند لا ښه تنظیم کړئ. که چېرې د تلوېزیون په ننداره کولو، بې ګټې خبرو، ټیلیفون کولو، او د ورځپاڼې لوستلو باندې لږ وخت ولګوئ، وبه ګورئ چې ډېر وخت لرئ. هوکې، په ریښتیا سره چې ډېر زیات وخت دی، خو ځینې وختونه مونږ خپل وخت هسې ضایع کوو. دا داسې ده فقط لکه مونږ چې له خپل موټر څخه د دې پر ځای چې لانګ آیلنډ (د یوې سیمې نوم دی) ته د تګ لپاره استفاده وکړو، د خپل کور په انګړ کې یې هسې وګرځوو راوګرځوو. آیا ستاسو قناعت حاصل شو؟ (پوښتونکی: هوکې) او له دې پرته هېڅ. هېڅ بل داسې شرط نشته، مګر دا چې تاسو خپل ځان د دې لپاره وقف کړئ چې ټول عمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



به تمرين کوئ. هره ورځ پرته له دې چې تمه يې ولرئ، تاسو په خپل ژوند کې نوي بدلونونه او معجزې تجربه کوئ. هغه خامخا پېښېږي. که چېرې تاسو په دې برخه کې په ريښتيا سره جدي ياست، کولی ش ئ چې جنت همدلته د ځمکې پر مخ تجربه کړئ. دغه وجه ده چې تر کلونو وروسته اوس هم په سلګونو زره شاګردان زما پيروي کوي، ځکه چې هغوی د هرې ورځې په تېرېدلو سره لا ښې تجربې تر لاسه کوي؛ او دا له دې امله چې هغوی په دې برخه کې جدي دي او تمرين او ممارست کوي.

**پوښتنه:** هيله ده چې د هوښيارۍ د طبعيت په هکله معلومات راکړئ.

**استاد:** د هوښيارۍ طبعيت، ښه. دا سخته ده چې هوښياري توضيح شي خو تاسو کولی ش ئ چې له خپل ذکاوت څخه په استفادې سره د هغې په هکله تصور وکړئ. هوښياري يو ډول عقل دی. داسې فرض کړئ چې تاسو اوس د يو څه په هکله د پخوا په پرتله ښه پوهېږئ. په داسې څه پوهېږئ چې له دې جهان څخه ماورا دي او په داسې څه پوهېږئ چې په دې جهان کې دي خو مخکې پرې تاسو نه پوهېدئ. په داسې څه پوهېږئ چې پخوا پرې نه پوهېدئ. دغې ته هوښياري وايي.

او کله چې تاسو دغه هوښياري يا په بله وينا دننه نی معرفت پرانيزئ؛ تاسو به په ښه ډول وپوهېږئ چې تاسو څوک ياست او د څه لپاره دلته راغلي ياست، له دې نړۍ څخه په ماورا هغې کې څه دي او دا چې زمونږ د نړۍ له استوګنو پرته يا ايسته نور څوک ژوند کوي. ډېر زيات شيان شته دي. نو ويلی شو چې د هوښيارۍ سطحه د پوهېدلو د مختلفو درجو يو ډول دی، فقط لکه له پوهنځي څخه په فراغت کې. څومره ډېر چې تاسو لول ئ ، هومره ډېر پوهېږئ، تر هغه چې فارغ ش ئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خیالي یا غیرعملي څیزونو توضیح سخته ده، خو ما خپله هڅه کړې ده. هغه د خبرتیا یو ډول دی. دا سخته ده چې خبرتیا توضیح شي. کله چې تاسو د هوښیارۍ بېلابېلو لوړو سطحو ته ځ ئ ، ستاسو خبرتیا سره بېلېږي. هر څه بل ډول وین ئ او په بل ډول يې احساسوئ. خپل ځان په سوله، آرامۍ او مستۍ کې حس کوئ. اندېښنه نه لرئ او په ورځني ژوند کې هر څه ستاسو لپاره روښانه کېږي. دا موم ئ چې له مسایلو سره څنګه چلند وکړئ او ستونزې څنګه په ښه ډول سره حل کړئ. حتی دغه حالت په مادي برخو کې هم ستاسو لپاره ګټور تمامېږي، خو دا چې تاسو به په خپل وجود کې دننه څه احساس لرئ، په هغه باندې به یوازې تاسو پخپله پوهېږئ. د دغو مسایلو توضیح سخته ده. هسې لکه کله چې له یوې نجلۍ سره چې تاسو ورسره مینه لرئ واده کوئ، یوازې تاسو پوهېږئ چې څه ډول احساس لرئ او بل هیڅوک نشي کولی چې ستاسو پرځای د هغه احساس وکړي.

**پوښتنه:** آغلې استاد، د هغه باطني بصیرت له امله چې تا مونږ ته راکړ ډېره مننه. آیا تاسو غواړئ د هغه څه په هکله چې زما په ذهن کې دي خبرې وکړئ که څنګه؟ دا څنګه ده چې نن ورځ په ټوله نړۍ کې د بېلابېلو استادانو شتون مونږ ته فرصت راکوي څو په چټکۍ سره زده کړه وکړو، په داسې حال کې چې دغه مس ئ له پخوا سخته وه. آیا کېدی شي چې په دې هکله خبرې وکړئ؟

**استاد:** هوکې، بالکل. دا چې زمونږ په وخت کې مخابراتي اسانتیاوې ښې دي، نو مونږ د استادانو په هکله په پرتلیزه توګه ښه پوهېږو. د دې معنی دا نه ده چې استادان پخوا نه وو، یا دا چې د لاس رسي وړ نه وو. البته، دا خبره سمه ده چې ځینې استادان د نورو په پرتله ډېر د لاس رسي وړ دي. دا د هغه په انتخاب، رضا یا په لویه کچه له خلکو سره د هغه په نژدې والي پورې اړه لري. خو بیا هر وخت، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت د اړتیا په پام کې نیولو سره، په هره زمانه کې یو، دوه، درې، څلور، پنځه استادان وجود لري. خو دا چې مونږ د مختلفو استادانو د حضور او حتی د بېلابېلو درجو د استادانو په هکله خبر یو، دا له دې امله دی چې په دې دوره کې له نېکه مرغه د عامه ارتباط وسایل، تلوېزیون، راډیوي خپرونې او کتابونه لرو، چې مونږ یې د میلیونونو، د زرونو میلیونونو په شمېر نسخو کې چاپوو.

په پخوانیو وختونو کې به زمونږ خلکو د یوه کتاب د چاپولو لپاره ټوله ونه لومړی پرې کوله، او بیا به یې د کوچنیو ساده تبرونو په وسیله په لږ وخت کې، چې د یو ځل لپاره کارول کېدل او د تیږې په واسطه تېره کېدل، کوچنۍ کوله. بیا یې توري یو په بل پسې د لرګي پر مخ اېستل. په دې توګه، مثلا که غوښتل مو چې انجیل له یوه ځای څخه بل ځای ته انتقال شي یوه کاروان ته به اړتیا وه. که چېرې هغه وخت لارۍ موجودې وای، ښایي لویې لارۍ یې کارولې وای. دغه وجه ده چې مونږ ډېر زیات استادان پېژنو.

هوکې. دا د نېکمرغۍ خبره ده چې تاسو هغه څه چې غواړئ، انتخاب او تر لاسه کړئ. هیڅوک نشي کولی چې تاسو ته دوکه درکړي او ووایي، " زه تر ټولو غوره یم" یا دا چې "زما هغه ډېره خوښېږي"؛ "څه یوه وحشتناکه قواره! "؛ "څومره بدرنګه". (خندا).

**پوښتنه:** تاسو د پېرلو (انتخاب) خبره وکړه. آیا تاسو دا یو څوک قبلوئ چې له کوم بل لاربښودڅخه یې تشرف تر لاسه کړی وي؟

**استاد:** زه به یوازې هغه وخت دا کار وکړم چې هغه شخص په ریښتیا سره یقین وکړي چې زه د دې توان لرم څو هغه یوې لا لوړې سطحې ته او په چټکۍ سره ورسوم، خو که چېرې داسې احساسوي چې لا هم له خپل لاربښود سره نژدې والی لري او په هغه باندې ډېره عقیده لري، ښه دا دی چې له هماغه لاربښود سره مخکې لاړ شي او خپل لاربښود بدل نه کړي. که چېرې تاسو فکر کوئ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسو لاربښود تر ټولو غوره دی، له هماغه سره پاتې ش ئ ، خو که چېرې په شک کې یاست او لا مو هم هغه نور او آواز چې ما ورته اشاره کړې ده، نه وي تر لاسه کړي، بده به نه وي چې خپل لاربښود بدل کړئ. ځکه چې نور او آواز د یوه ریښتني لاربښود محک او معیار دی؛ او که چېرې یو ځوک ونشي کړای چې تاسو په یوه لنډه موده کې د نور او آواز له تجربې سره مخامخ کړي، متاسفانه وایم چې هغه یو حقیقي لاربښود نه دی. جنت ته تللې لاره د نور او آواز په ګاڼه ګاڼل شوې ده.

لکه څنګه چې د سمندر ژورو ته د ښکته کېدلو لپاره د اکسیجن ماسک او نورو وسایلو ته اړتیا ده، هر بل هدف ته د رسېدلو لپاره هم ځانګړې وسیلې ته اړتیا لیدل کېږي. دغه وجه ده چې تاسو ټول بزرګان او پیران په هغوی باندې د نور له هالې سره ګورئ. هغه ته نور وایي. تاسو به هم په دغه تمرین باندې د ممارست په صورت کې وځلېږئ؛ هغه نور ته ورته چې د حضرت عیسی (ع) په عکسونو کې اېستل کېږي او نور خلک هم کولی شي چې هغه وویني. هغه کسان چې روحي ممارست کوي، کولی شي چې ستاسو ځلا وویني. له همدې امله دی چې حضرت عیسی (ع) له یوې "هالې" سره او بودا د هغه په چاپېر له یوه نور سره انځوروي. که چېرې تاسو دغه قسمت پرانستی وي (استاد خپل تندي ته اشاره کوي)، تاسو کولی ش ئ چې په دغه نور سره د لوړې مرتبې سالکان ووین ئ . ډېر کسان کولی شي چې دا وویني. آیا په تاسو کې کوم چا هغه لیدلی دی؟ تاسو؟ تاسو څه ولیدل؟

**پوښتنه:** ښه. زه کولی شم چې اورا (Aura) ووینم.

**استاد:** اورا (Aura) له نور سره توپیر لري. اورا ډول ډول رنګونه لري؛ چې ځینې وخت تور، ځینې وخت د کافي په رنګ او ځینې وخت زېړ او یا سور وي. او دا په هغه وخت کې د شخص حال پورې اړه لري، خو کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تاسو یو څوک له قوي روحاني نوراني تشعشع سره وین  ئ  ، ښه پوهېږئ چې توپیر کوي. داسې نه ده؟

**پوښتنه:** زه اصلا پوښتنه نه لرم؛ فقط غواړم ووایم چې زه یو وخت له راجا یوګا سره اشنا وم؛ او ما فکر کاوه چې ما اوراګان هم ولیدل. زما هدف دا دی چې په هغه وخت کې؛ هغه وخت زه ډېر نه پوهېدم.
**استاد:** او اوس یې نه ګورې؟ ته یې یوازې ځینې وختونه ګورې؟
**پوښتنه:** نه. زه اوس میډیټېشن نه کوم.
**استاد:** ښه، ځکه خو تا خپل ځواک له لاسه ورکړی دی. ته باید بیا میډیټیشن وکړې. که چېرې ته اوس هم په دغه طریقه یقین لرې، ته باید میډیټېشن وکړې. هغه له تا سره تر څه حده مرسته کوي؛ زیان به درته ونه رسوي. سمه ده؟

**پوښتنه:** ما ستاسو په کتاب کې ولوستل چې پنځه حکمونه دي چې هر څوک باید تر متشرف کېدلو وروسته د یادو شویو حکمونو په اساس ژوند وکړي؟
**استاد:** هوکې، هوکې، هوکې. دغه د عالم قوانین دي.
**پوښتنه:** زه د جنسي بد چلندۍ په هکله نه پوهېږم.
**استاد:** د دې معنی دا ده چې که چېرې تاسو متاهل یاست، هیله ده چې د بل چا په هکله فکر ونه کړئ (خندا). ډېره ساده. خپل ژوند ډېر په ساده ډول وکړئ، له کومې پېچلتیا او د احساساتو په سر له کشمکش پرته. د نورو احساسات مه ټپي کوئ. مونږ نور خلک او حتی د هغوی احساسات نه زوروو. له همدې امله، مونږ هڅه کوو چې د احساساتو، مادي او روحي پلوه هېڅ څوک او په تېره بیا هغه څوک چې مونږ ورسره مینه لرو، ونه زوروو. بس!
که چېرې ستاسو په ژوند کې کوم بل څوک وي، خپل د ژوند ملګري ته یې مه وای  ئ  . د هغه په هکله یادونه ستاسو د ژوند جوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره زوروي. مس ئ له په ورو او خاموش ډول هواره کړئ او اعتراف پرې مه کوئ. ځينې خلک چې له يوه دويم کس سره اړيکه لري، فکر کوي چې د دې مس ئ لې په هکله اعتراف يې د جوړې په وړاندې ښه او هوښيارانه کار دی. دا ښېخي يو بې ګټې کاردی. تاسو تېر وتلي ياست. څه ګټه لري چې کثافت کور ته دننه راوړئ او بد بويي يې د کور په فضاء کې خپره کړئ؟ که چېرې هغه پرې خبر نه وي، دومره نه خفه کېږي. د دغسې موضوع په هکله خبرېدل دردونکي دي. نو موږ هڅه کوو چې دغه مس ئ له حل کړو او د بيا پېښېدلو مخه يې ونيسو، او بس. ښه دا دی چې په دې هکله خپل د ژوند له ملګري سره هېڅ خبرې ونه کړئ، ځکه چې دا کار به هغه ودردوي.

**پوښتنه:** ما ليدلي دي چې زياتره روحاني استادان د خوش طبعۍ يو ښه احساس لري. د دغه حس او روحي ممارست تر منځ څه اړيکه وجود لري؟

**استاد:** زه فکر کوم چې هغوی يوازې خوشحال او آرام دي او زړونه يې ژوندي دي. هغوی کولی شي چې خپلو ځانونو او نورو پورې وخاندي؛ هغوی کولی شي چې په ژوند کې مضحکو شيانو پورې وخاندي په داسې حال کې چې ډېر نور خلک يې ډېر جدي نيسي.

تر يوې اندازې ممارست وروسته موږ راحت او آرامي احساسوو او تر هغه وروسته مسايل ډېر جدي نه نيسو. که چېرې موږ سبا ته مړه کېږو، مړه کېږو؛ که چېرې ژوندي وو، خپل ژوند ته دوام ورکوو. که چېرې موږ هر څه له لاسه ورکړل، له لاسه مو ورکړل، او که هر څه مو لرل، لرو يې. هوکې، موږ به د روښنفکرۍ تر لاسته راوړلو وروسته په کافي اندازه حکمت او ځواک ولرو څو په هر ډول شرايطو کې خپل ځان وساتو. نو موږ له هېڅ شي څخه نه ډارېږو. زموږ وېره او عصبانيت له منځه ځي؛ له دې امله راحت او آرام احساسوو. خپل ځان له دې نړۍ سره ناتړلی احساسوو. زموږ لپاره په دې دنيا کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم څه لاس ته راوړل یا یې له لاسه ورکول دومره مفهوم نه لري. که چېرې مونږ ډېر څه تر لاسه کړو، هغه یوازې د خلکو د ګټې لپاره دي. هغه شیان هغو خلکو ته ور وړاندې کوو چې مینه ورسره لرو. پرته له دې، خپل ځان او یا نورو ته دومره اهمیت نه ورکوو چې د هغې د ساتنې لپاره دومره هڅې وکړو او سختۍ وزغمو. که چېرې مو وساتل، لا ښه. د دې معنی دا نه ده چې مونږ دې ټوله ورځ دمېخونو په کټ باندې کېنو او ریاضت دې وکړو. البته، کار به کوو.

د مثال په توګه، زه اوس هم کار کوم. زه خپله نقاشي کوم او لاسي صنایع جوړوم څو ځان ته پرې لګښت برابر کړم. زه نه غواړم چې له کوم بل چا څخه خیرات تر لاسه کړم. تر دې چې زما ګټه دومره ډېره ده چې زه کولی شم له نورو خلکو سره هم مرسته وکړم. زه کولی شم چې له کډوالو، وچکالۍ ځپلیو او داسې نورو سره مرسته وکړم. ولې باید مونږ کار ونه کړو؟ مونږ ډېر لیاقت او وړتیاوې لرو، او تر روښنفکرۍ حاصلولو وروسته ژوند دومره اسان وي چې مونږ داسې حس کوو چې وارخطایۍ ته هېڅ اړتیا نشته. بس مونږ په طبیعي ډول آرام احساسوو؛ او د خوش طبعۍ احساس هم همداسې راپیدا کېږي. زه ګمان کوم چې همداسې دی.

آیا تاسو ما خوش طبعه ګڼئ ؟ (حاضرین: هوکې) (خوښي او تشویق)، نو کېدای شي چې ما د کوم ډول استادانو په ډله کې وشمېرئ؟ (خندا) هیله ده چې ستاسو په خاطر همداسې وي، او تاسو لږ ترلږه تر دوو ساعتونو پورې د ناخبره خلکو خبرو ته غوږ ونه نیسئ - وخت مو ضایع نه کړئ.

**پوښتنه:** داسې پوښتنې شته چې مونږ یې، د حقیقت د پلټونکو په توګه، همېشه مطرح کوو او په ځواب کې یې کیسې او فرضیې اورو. زه غواړم پوه شم چې تاسو په دې هکله څه وایئ ؟ لومړۍ پوښتنه دا ده چې: مونږ څوک یو؟ زه څوک یم؟ او څنګه دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالت ته رسېږم چې بايد خپل ټاټوبي ته بېرته وګرځم؟ دا څنګه کېدای شي چې ما خپل کور او اصلي ځای پرېښود او ولې دومره مهمه ده چې زه دې بېرته هغه ځای ته وروګرځم؟ تاسو د پنځمې مرحلې په هکله خبرې وکړې او اشاره مو وکړه چې تر هغې پورته مرحلې ته تګ خامخا مهم نه دی. خو که چېرې تر هغې پورته مرحله وي، هدف به يې څه وي؟ دغه مرحله چې زه بايد خامخا هلته لاړ نشم، له ماسره څه ارتباط لري؟

**استاد:** اوس نو خبره ورو ورو خوندوره کېږي (خندا او چکچې). ډېر ښه. د دې پوښتنې په ځواب کې چې "زه څوک يم"، تاسو کولی ش ئ چې ذن لارښود (Zen master) ته، چې په نيويارک کې ډېر پيدا کېږي، مراجعه وکړئ. تاسو کولی ش ئ چې د ژېړو پاڼو (ادرسونو کتاب) کې وګورئ او يو په کې ولټوئ (خندا). زه په دې برخه کې معلومات نه لرم.
او دويمه پوښتنه چې "ولې تاسو دلته ياست" شايد له دې امله چې زړه مو غواړي اوس ئ ، نو دلته ياست! آيا بل څوک کولی شي چې مونږه، چې د خدای اولادونه يو، مجبور کړي چې دلته دې اوسو؟ دغه په اصطلاح د خدای اولادونه په خپله د خدای په څېر دي. که څنګه؟ د پاچا زوی په واک لرلو کې څه ناڅه پاچا ته ورته وي يا دا چې په خپله راتلونکی پاچا وي. هغه چې کله وغواړي چې کوم ځای ته ولاړ شي، هلته ځي. داسې نه ده؟ هوکې، مونږ د انتخاب ازادي لرو چې جنت انتخابوو او که کوم بل ځای. ښايی تاسو له پيل څخه، له څو کاله وړاندې وخت څخه، دا انتخاب کړي وي چې دلته دې اوس ئ او له حوادثو څخه ډکو حالاتو او ځينې وختونه هم له خطرناکو او وېرونکو شيانو سره مخامخ ش ئ . ځينې خلک له وېرونکو تجربو سره ډېره مينه لري.
مثلا هماغه د پاچا زوی، هغه کولی شي چې په ماڼۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې شي، خو هغه ځنګل ته ځي، ځکه چې هغه په طبعیت کې پر لټون مین دی. ستاسو په برخه کې هم کېدای شي چې همداسې وي. کېدای شي چې جنت زمونږ لپاره خسته کن شوی وي، ځکه چې هرڅه تیار او زمونږ ماڼۍ ته زمونږ لپاره راوړل کېږي او مونږ غوښتل چې پخپله دې هم څه وکړو. د مثال په توګه، سلطنتي کورنۍ، ځینې وختونه غواړي چې پخپله څه پاخه کړي داسې چې خدمتګاران یې هم ترځنګه نه وي. هغوی خپل ځانونه او ټول ځای په غوړیو، مسالې او نورو شیانو باندې لړي، خو د هغوی خوښېږي. دغه کار کوم شاهانه کار هم نه دی، خو د هغوی خوښېږي.

مثلا، زما موټر همېشه بل څوک چلوي. هر چېرې چې ځم، د خلکو خوښېږي چې زما موټر هغوی وچلوي، خو ځینې وخت زما خوښېږي چې پخپله موټر وچلوم. په خپل درې ټایره باندې مې سورېږم او چلوم یې. هغه درې ټایره لوګی نه کوي، برقي دی او په ساعت کې لس کیلومټره مزل کوي. زما خوښېږي چې دغسې وګرځم، ځکه هر ځل چې چېرې ځم، خلک ماته متوجه کېږي، له همدې امله مې ځینې وختونه زړه غواړي څو داسې ځای ته لاړ شم چې نور څوک مې ونه پېژني. زه ډېره شرمندوکه یم، البته په استثنا د دې چې زه په لکچر کې خبرې کوم، ځکه چې هغه له هغه وخت راهیسې چې خلکو زه کشف کړې او مشهوره کړې یم، نو زما یوه دنده ګرځېدلې ده. زه نشم کولی چې له دې څخه وتښتم، خو کله ناکله د دوه – درې میاشتو لپاره په ځنګ کېږم. داسې لکه یوه نازولې مېرمن چې له خپل مېړه نه ډډې ته کېږي. او دا زما انتخاب دی.

ښایي تاسو هم یو وخت تصمیم نیولی وي چې تر څه مودې پورې دې دلته اوسئ او هم ښایي کېدای شي چې همدا اوس ستاسو د بېرته تګ وخت وي ځکه چې په کافي اندازه مو د دې دنیا په هکله زده کړه کړې وي او داسې احساسوئ چې نور نو د زده کړې لپاره نور څه نشته او له مسافرۍ څخه هم ستړي شوي یاست او

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړئ چې استراحت وکړئ. اول کور ته ستانه ش ئ او استراحت وکړئ او بیا فکر وکړئ چې آیا غواړئ چې له حوادثو ډک سفر ته دوام ورکړئ که نه؟ دا ټول هغه څه دي چې زه کولی شم تر دې ځایه پورې یې ووایم.

او دا چې ولې باید کور ته ستانه ش ئ ؟ او ولې پنځمه طبقه او نه شپږمه؟ دا تاسو پورې اړه لري. تاسو کولی ش ئ چې تر پنځمې طبقې وروسته هر چېرې چې وغواړئ هلته لاړ ش ئ . پورته بېلابېلې نورې طبقې هم شته. متوجه یاست؟ خو هلته (په پنځمه طبقه کې) پاتې کېدل تر نورو ارام او غوره دي. کېدای شي ووایو چې څومره چې طبقې پورته ځي، هومره غښتلې کېږي. کولی ش ئ چې د څه مودې لپاره هلته لاړ ش ئ ، خو ښایي ونه غواړئ چې هلته استراحت وکړئ.

د مثال په توګه، تاسو یو ښایسته کور لرئ. په دې کور کې د پاکۍ او نظافت ځانګړي ځایونه (تشنابونه) موجود دي، خو تاسو نه غواړئ چې هلته د تل لپاره پاتې ش ئ . حتی که په لوړه طبقه کې هم وي او ډېره ښایسته منظره هم لري خو دغه د همېشني استراحت ځای نه دی. یا هم لکه د کور د برېښنا خونه یا د برېښنا جنرېټر چې په لوړ غږ یې شور جوړ کړی وي، او ګرم او خطرناک وي. او تاسو نه غواړئ چې تر ډېره هلته پاتې ش ئ ، که څه هم چې هغه ستاسو د کور لپاره یوه لویه اړتیا ده، خو تاسو نه غواړئ چې تر ډېره هلته پاتې ش ئ .

د خدای ډېر اړخونه دي چې مونږ نشو کولی حتی تصور یې وکړو. په دې باور یو چې څومره چې پورته ځو، هومره مینه هم ډېرېږي خو مینه بېلابېل ډولونه لري: سخته مینه، قوي مینه، ملایمه مینه او خنثی مینه. خدای زمونږ د تحمل مطابق د خپلې مینې مختلفې درجې مونږ ته راکوي. په هره سطحه کې د خدای د مینې یوه خاصه درجه زمونږ نصیب کېږي. ځینې وختونه دغه مینه دومره قوي وي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ داسې احساسوو چې وجود مو سره بېلېږي.

**پوښتنه** زه ګورم چې په چاپېریال کې ډېر زيات ورانۍ روان دی. له حيواناتو سره ظالمانه چلند کېږي. ما ته داسې پوښتنه پيداکېږي چې تاسو دغه وراني ته په کومه سترګه ګورئ؟ او هغو خلکو ته چې هڅه کوي خپل ځانونه له دنيا څخه په معنوي لاره خلاص کړي، څه وړانديز لرئ چې له خپل چاپېریال او د وراني له دغه سير سره په مناسب ډول مخامخ شي؟ آيا تاسو فکر کوئ چې له دې دنيا څخه ماورا هغې ته تګ زمونږ لپاره کافي دی څو هغه څه چې شاته پرېږدو، ومنو؟ که نه فکر کوئ چې مونږ په دې دنيا کې وظيفه لرو چې ستونزې راکمې کړو؟ او آيا دغه کار به کومه نتيجه هم ولري که نه؟

**استاد** هوکې، هوکې. وبه يې لري. لږترلږه زمونږ او زمونږ دوجدان لپاره به يې ولري، او په دې توګه به مونږ داسې احساس کړو چې مونږ يو څه ترسره کوو او مونږ د خپلو همنوعو وګړو د تسکين لپاره لويه هڅه کړې ده. زه په خپله ټول هغه څه چې تاسو يې پوښتنه وکړه، ترسره کوم. ترسره کړي مې دي، ترسره کوم يې، او ترسره به يې کړم.
ما تاسو ته مخکې هم ويلي دي چې زمونږ شتمني د بېلابېلو سازمانونو او کله کله د بېلابېلو هېوادونو ترمنځ چې څه مصيبت په کې پېښ شي، وېشل کېږي. هېڅ مې نه خوښېږي چې په دې هکله خپل ځان وښيم، خو اوس چې تاسو پوښتنه وکړه، د بېلګې په توګه به ووايم چې مونږ تېر کال په فليپين کې د پيناتوبو (Pinatubo) د غره د پېښې له پاتې کسانو او همدارنګه په وېتنام او چين کې له سېلاو ځپليو سره مرسته وکړه. مونږ هڅه کوو چې له ملګرو ملتونو سره په همغږۍ کې له وېتنامي کډوالو سره مرسته وکړو. البته که چېرې د ملګرو ملتونو سازمان هوکړه وکړي، خو مونږ خپله هڅه کوو. مونږ له هغوی سره مالي مرسته کوو او که چېرې ملګري ملتونه وغواړي مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی شو چې هغوی د ملګرو ملتونو په مرسته بېرته په خپلو ځایونو کې مېشت هم کړو.

هوکې، مونږ ټول هغه کارونه چې تاسو غوښتي دي ترسره کوو او دا چې په دې ځای کې ژوند کوو، نو تر شوني حده پورې د خپل چاپېریال د ساتنې هڅه کوو. په دې توګه هم کړېدلیو ته مرسته ور رسوو او هم هڅه کوو څو د نړۍ اخلاقي معیارونه لوړ شي. زمونږ مرستې هم مادي دي او هم معنوي. ځینې خلک له ما نه معنوي مرسته نه غواړي او مادي مرسته غواړي. مونږ هم له هغوی سره مادي مرسته کوو. له همدې امله، زه باید عاید ولرم، او دغه وجه ده چې نه غواړم د نورو د سوغاتونو په تمه ژوند وکړم.

زما ټول راهبان او شاګردان باید، بېخي همدا ستاسو په څېر، کار وکړي. له دې پرته، مونږ په معنوي توګه هم مرسته کوو؛ او د نړۍ له کړېدلیو سره مرسته کوو، د دې لپاره مرسته کوو څو د نړۍ ستونزې لیرې کړو. مونږ باید دا کار وکړو. باید داسې نه وي چې ټوله شپه او ورځ په سمادي (استغراق) کې کېنو او خوند ترې واخلو. دا یو ډېر ځان ښودی بودا دی. مونږ یې دلته نه غواړو. (خندا).

**پوښتنه** تاسو د داسې یوې سطحې په هکله خبرې وکړې چې یو شخص د داسې قدرتونو د موجودیت په هکله خبرېږي چې له هغې خبرتیا څخه رامنځته کېږي. اوس څنګه کېدای شي چې تاسو دې قدرتونه وپېژن ئ ، خو په دې پوه نش ئ چې لرئ یې. یعنې یوازې د موجودیت په هکله یې خبر یاست او بس. حتی کېدای شي احساس کړئ چې تاسو هغه لرئ، په دې صورت کې څنګه کېدای شي چې لاس رسی ورته ولرئ؟ که نه لاس رسی ورته نه موم ئ ؟ که چېرې لاره ورته ونه موم ئ ، څنګه هغې پروسې ته صبر کوئ چې ستاسو په چاپېریال کې ترسره کېږي؟ زما هدف هغه وخت دی چې تاسو ګورئ هرڅه په کراره او لټې سره مخ په وړاندې ځي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې حال کې چې تاسو کولی ش ئ د دعا او یا نورو اعمالو له لارې د غوره او چټک حل لاره په مخکې ونیس ئ . له دغو قدرتونو څخه هدف څه دی؟ څنګه کولی ش ئ چې د دعا له لارې دغه ډول شیان تر لاسه کړئ؟ آیا پام مو دی چې زما هدف څه دی؟

**استاد** هوکې، زه پوهېږم. زه پوهېږم. ستاسو هدف دا دی چې په داسې حال کې چې د شیانو د تغیر قدرت لرو، څنګه کولی شو چې په داسې حال کې چې د چاپېریال مسایل ډېر ورو مخکې ځي، صبر او حوصله له ځانه وښیو؟ سمه ده؟ آیا ښه نه ده چې دعا یا جادو وکړو، یا دا چې د ګوتې په اشاره ټول شیان اصلاح کړو؟ سمه ده؟ نه، زه صبر کوم، ځکه چې باید د دې دنیا له چټکتیا سره برابر لاړ شو، څو خبره اختلال او بې نظمۍ ته ونه وځي. هوکې.

د مثال په توګه، یو ماشوم فرض کړئ چې نشي کولی منډه وکړي. آیا تاسو د دې لپاره چې بیړه لرئ او یا دا چې غواړئ منډه واخل ئ ، غواړئ چې کوچنی وښوییږي او ولوېږي؟ له دې امله، باید صبر وکړئ. سره له دې چې مونږ د منډې وهلو توان لرو، خو له کوچني سره یوځای په کراره ګامونه اخلو. هوکې. له همدې امله دی چې زه هم ځینې وختونه بې صبره او بې حوصلې کېږم، خو په کار دی چې صبر او حوصله ځان ته وروښیو. په دې توګه، زه باید لاړه شم او خپل سر د کډوالو له پاره د جمهور رییسانو په وړاندې ټیټ کړم، هغه هم په داسې حال کې چې د هغوی ټول مالي ضمانت هم مونږ کوو. مونږ غواړو څو ټول هغه څه چې لرو یې، ویې بخښو. ټول شیان وبخښو، حتی میلیونونه او میلیاردونه ډالر. له دې سره باید د بیوروکراسۍ د سیستم له لارې وړاندې لاړ شو. "څه چې د قیصر دي، قیصر ته یې ورکړئ"

زه نه غواړم چې د سر او یا ګوتې په ښورولو (هدف یې جادو دی) سره ملګري ملتونه پسې واخلم. نه. نه. په دې دنیا کې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



جادویي قدرت څخه استفاده د مصیبت سبب ګرځي. متوجه یاست؟ هر شی باید خپل عادي سیر طی کړي، البته مونږ کولی شو چې د روحي درملنې او عقل او روحاني درک له لارې د انسانانو وجدان بیدار کړو او هغوی په دې وپوهوو څو پخپله د مرستې کولو ته میلان وښیي. دا تر ټولو غوره لاره ده، نه د جادویي قدرتونو کارول. زه پخپله هیڅکله هم په قصدي توګه له خپلو جادویي قدرتونو څخه د ژوند په هیڅ اړخ کې کار نه اخلم، خو معجزې د روحي ممارست کونکو ته پېښېږي؛ او دا طبیعي ده، نه عمدي. دا د کوم څه د ټېل وهلو هڅه نه ده. دغه ډول کارونه بې ګټې دي. ماشوم نشي کولی چې منډه ووهي، سمه ده؟ آیا زما په ځواب قانع شوئ؟ که چېرې زما کوم ځواب ستاسو له غوښتنې سره برابر نه وي، زه هیله لرم چې ماته ووای ئ خو لاډېره توضیح په کې درکړم، خو زه ډاډه یم چې تاسو ټول ډېر هوښیار یاست. له ټولو هېوادونو څخه ښه ټاکل شوي او باذکاوته خلک تاسو یاست، له دې امله زه تر دې ډېره توضیح نه ورکوم.

دا ډېره ښه ده چې مونږ ملګري ملتونه لرو. هوکې. هوکې. مونږ ډېرې نړیوالې شخړې او جنګونه د دغه سازمان له لارې راکموو، که څه هم چې نشو کولی په کلي توګه یې له منځه یوسو. ما د ملګرو ملتونو په هکله ستاسو کتابونه لوستلي دي. هرڅوک په خپله د ملګرو ملتونو سازمان دی. زه د ملګرو ملتونو د سازمان ځینې کارونه تعقیبوم. غواړم دلته، د یرغمل کسانو په راخلاصولو کې د ملګرو ملتونو هڅې او کوششونه وستایم. په داسې حال کې چې نور خلک او د نړۍ ټول ځواکونه د دغه کار په ترسره کولو قادر نه وو، د ملګرو ملتونو یوه کمېشنر دغه کار ترسره کړ. هوکې، او له مصیبت څخه د خلاصون، د کډوالو د ستونزو په هکله اړوند نور خبزونه.

ما اورېدلي دي چې تاسو د دولسو میلیونو کډوالو مسؤلیت پرغاړه اخیستی دی. داسې نه ده؟ دا او دې ورته جنګ او نور څه ډېر لوی کار دی. نو دا ښه دی چې مونږ ملګري ملتونه لرو. هوکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه:** استاد چینګ های، له دې امله چې خپله پوهه دې له مونږ سره شریکه کړه ډېره مننه. زه په نړۍ کې د نفوس د ډېرښت او له چاپېریال څخه د ناوړه استفادې سره د هغه د اړیکې او ورسره د خوراک لپاره د تقاضا د ډېروالي په هکله یوه پوښتنه لرم. آیا کېدای شي چې تاسو په نړۍ کې د خلکو د ډېرښت په هکله خپل نظر ووایاست؟ آیا دا یوه نړیواله کارما ده؟ یا دا چې آیا دا به په راتلونکي کې کوم ځانګړی ډول کارما وزېږوي؟

**استاد:** په دې دنیا کې د ډېرو خلکو موجودیت هم ډېر ښه دی. ولې نه؟ څومره چې ازدحام ډېر وي، شور ډېر وي، او ورسره هاها او ساعت تېري ډېره وي. داسې نه ده؟ (خندا). اصلا، ستونزه دا نه ده چې زمونږ نفوس ډېر شوی دی. ستونزه اصلا په دې کې ده چې مونږ په ځمکه کې په برابر ډول تیت شوي نه یو. خلک یوازې د نړۍ په ځانګړیو ځایونو کې سره راټول شوي دي او نه غواړي چې بلې سیمې ته وکوچېږي. او بس. مونږ ډېرې پراخې سیمې لرو چې هېڅ لاس نه دی ور رسېدلی. ډېرې پراخې هوارې سیمې لرو چې په شنو ځنګلونو پټې دي او بل هېڅ شی په کې نشته. خلک یوازې غواړي چې، د مثال په توګه، په نیویارک کې سره راټول شي، ځکه چې دلته د ساعت تېرۍ امکانات ډېر دي، (خندا). که چېرې یو حکومت یا کوم حکومت په دې توانېدلای وای چې په بېلابېلو ځایونو کې یې وظیفې پیدا کړې وای، صنعت او نورو چارو ته یې وده ورکړې وای، خلک به هلته هم تللي وای. خلک یوازې په ځینې ځایونو کې سره راټولېږي، ځکه چې دا ورته اسانه ښکاري چې هلته وظیفې تر لاسه کړي، او بل دا چې امنیت یې خوندي وي. که چېرې امنیت، مصؤنیت او وظیفې په نورو ځایونو کې هم رامنځته شي، خلک به هلته هم لاړ شي. هغوی به د امنیت او د خپل معیشت لپاره هلته لاړ شي؛ او دا بېخي طبیعي خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې توګه، مونږ بايد د خلکو د ډېربښت له امله ونه ډار شو، بلکې په کار دا دی چې سازماندهي په ښه توګه رامنځته کړو څو خلکو ته لا ډېرې شغلي، امنيتي او د استوګنې ځايي اسانتياوې برابرې کړو. تر هغې وروسته به ټول ځايونه سره برابر وي، او مونږ به هېڅکله هم د خلکو د ډېربښت ستونزه ونه لرو.

او د خوړو په رابطه ستاسو د پوښتنې په هکله، تاسو بايد په دې ټکي ښه وپوهېږئ، څکه چې په امريکا کې، مونږ په دې هکله ډېر زيات معلومات لرو چې نړيوالې منابع څنګه وسپموو. د نباتي خوړو رژيم د منابعو د سپما يوه ښه لاره ده چې کېدای شي له دې لارې د ځمکې ټول نفوس ته خواړه ورسېږي څکه چې مونږ د حيواناتو د روزلو له پاره ډېر زيات نباتي خواړه، انرژي، برېښنا او درمل ضايع کوو. په داسې حال کې چې کېدای شي په دې توګه نور خلک نېغ په نېغه خواړه تر لاسه کړي. د درېيمې نړۍ څو هېوادونه خپل له پروټينو ډک سبزيجات په ټيټه بيه پلوري، خو دا کار د نړۍ د نورو هېوادونو له خلکو سره هېڅ مرسته نه کوي. که چېرې مونږ خواړه په برابر ډول هر چېرې خپاره کړو، چې د نباتي خوړو رژيم هم په دې برخه کې مرسته کوي، نه يوازې له خپلو ځانونو او حيواناتو سره بلکې له ټولې نړۍ سره به مرسته وکړو.

په يوه تحقيقاتي مجله کې راغلي دي چې که چېرې مونږ نباتي خواړه وخورو، نوره نړۍ به له لوږې او قحط سره مخامخ نشي، او دا چې مونږ بايد ښه منظم اوسو. زه داسې يو شخص پېژنم چې د وريژو له سبوس څخه مغذي خواړه او حتی شيدې جوړوي. تېرځل مونږ د هغه په هکله خبرې کړې وې. دغه شخص ويلي دي چې هغه درې لکه ډالر لګولي دي او په سيلون کې يې شپږو لکو خوارانو، سوء تغذي وګړيو او ميندو ته خواړه برابر کړي دي؛ د هغه کار ډېر په زړه پورې دی. څکه هغه طريقه چې مونږ د نړۍ په څو برخو کې په کار اچولې ده، هغه يوازې د طبيعي منابعو ضياع ده، نه داسې چې هغه کافي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. خدای پاک مونږ په دې نړۍ کې د دې لپاره نه يو پيدا کړي چې لوړه راباندې تېره کړي، بلکې مونږ پخپله په خپلو ځانونو باندې لوږه راولو.

په دې توګه، مونږ بايد بيا فکر وکړو او ځانونه سره منظم کړو او په دې کار کې د نورو هېوادونو د دولتونو مرستې ته اړتيا ده. هغوی کولی شي چې د صداقت، مطلقې پاکۍ او لويوالي په ښودلو او خپلو ځانونو ته د خدمت پرځای خلکو ته د خدمت په نيت له مونږ سره مرسته وکړي. که چېرې د هېوادونو د دولتونو له خوا دغه ډول همکاري وجود ولري، په دې کې شک نشته چې مونږ به هېڅ ستونزه ونه لرو.

مونږ بايد سالمه رهبري، صحيح اقتصادي سازماندهي او دولتي ستراتيژي ولرو. کله چې يو شمېر او يا ټول خلک ډېر د معنويت په لور سوق شي، دغه کار په چټکۍ سره ترسره کېږي. په داسې وخت کې به هغوی د انضباط ګټې او احکام وپېژني، او وبه مومي چې څنګه ريښتني او پاک اوسي او له خپلو مهارتونو څخه څنګه استفاده وکړي. تر هغه وروسته کولی شي چې د ډېرو کارونو د پايلو په هکله فکر وکړي، او زمونږ ژوند بيا سره منظم کړي.

**پوښتنه:** دا ډېره ستونزمنه ښکاري، ځکه زه وينم چې په شلمه پېړۍ کې د نفوس د ډېرېدلو له امله هره ورځ له طبيعي چاپېريال څخه، د استوګنځايونو او کورونو په جوړولو سره، بده استفاده مخ په ډېرېدلو ده. ويل کېږي چې د برازيل په ځنګلونو کې له طبيعي منابعو څخه ډېره بده استفاده کېږي. د شنو ځنګلونو او چمنونو د له منځه تګ له امله، ځمکه په بشپړه توګه لوڅه شوې ده چې په نتيجه کې د سېلاوونو له خطر سره مخامخ شوې ده، او دا کار د خلکو د ډېرښت له مس  ئ  لې سره بې ربطه نه دی.

**استاد:** هوکې. په دې دنيا کې ټول مسايل يو په بل پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټرلي دي. د حل یوازنۍ لاره دا ده چې هغه له ښځه سره جوړ کړو نه له شاخونو څخه. او د دغه کار ریښه په عرفاني ثبات کې ده. سمه ده؟ (چک چکې).

نو په کار دی چې د عرفاني او روحاني پیغام په خپرولو کې هڅه وکړو، او معنوي او روحاني ضوابط مراعات کړو. دا هغه څه دي چې خلک یې نه لري. دا سمه ده چې تاسو خپلو ځانونو ته برقي ماشین ولګوئ او د یو څه رڼا او هیجاني موسیقۍ په اورېدلو سره سامادي ته ننوځ ئ . خو که چېرې اخلاقي معیارونه ونه لرئ، له هغه څخه رامنځته کېدونکی قدرت به له کنټرول پرته، یوازې د بدو کارونو په ترسره کولو باندې ولګوئ.

دغه وجه ده چې په دې ګروپ کې مونږ لومړی د احکامو تعلیم ورکوو. احکام ډېر مهم دي. مونږ باید وپوهېږو چې چېرې ځو او څنګه له خپلې وړتیا څخه استفاده وکړو. له مینې، احساس او د اخلاقي ارزښونو له حقیقي درک څخه پرته قدرت ګټه نه لري. دغه بده استفاده په تور جادو اوړي.

له دې امله، روښنفکرۍ ته رسېدل ساده دي، خو ساتل یې سخت دي. که چېرې تاسو زمونږ په میتود پوره منضبط او د اخلاقو په وسله پوره سمبال نه یاست، استاد ستاسو د وړتیاوو یوه اندازه له تاسو څخه لیرې کوي څو ونه کړای ش ئ چې له هغو څخه بده استفاده او د جامعې په شرعمل وکړئ. دا یې توپیر دی. لاربښود کولی شي چې ستاسو ځواک کنټرول کړي، ځکه چې استادانه ځواک لري. سمه ده؟

زه پر دې خوشحاله یم چې تاسو داسې ځیرکانه پوښتنې مطرح کوئ. ډېرې موشګافانه دي.

انسانان دغه کارونه له دې امله کوي چې په کافي اندازه هوښیار نه دي. زما هدف داسې کارونه دي لکه له طبیعي سرچینو څخه بده استفاده، چې تاسو ورته اشاره وکړه او یا داسې کارونه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هوښيارتيا نښتوالی ښيي. نو ريښه په عقل او عرفاني ممارست کې ده. روښنفکري تر لاسه کړئ.
ستاسو ټولو څخه ستاسو د پاملرنې له امله مننه کوم، د ښو هيله درته کوم او خوشحالي مو غواړم.

*"اصلا خبره د تشرف نه ده... تاسو دلته د دې لپاره راغلي ياست او ماته مو د دې امکان راکړی دی څو له تاسو سره د مرستې لپاره تاسو ته لاس دروغزوم. زه د دې لپاره نه يم راغلې چې له تاسو څخه يوازې شاګردان جوړ کړم... زه دلته د دې لپاره راغلې يم څو مرسته درسره وکړم چې استادان درڅخه جوړ شي."*

*لويه لاربنووده چينګ های*

*"هرڅوک پوهېږي چې مراقبه (مډيټېشن) څنګه وکړي، خو تاسو په غلطو شيانو باندې مراقبه کوئ. ځينې خلک په ښکليو نجونو، پيسو او وظيفه باندې مراقبه کوي. هرکله چې تاسو خپله پوره او صميمانه توجه پر يوه مسئله متمرکزه کړئ، هغه مډيټيشن دی. زه يوازې په دننه ني قدرت، احساساتو، عشق، او د خدای په رحم او بخښنه باندې توجه کوم."*

*لويه لاربنووده چينګ های*

*"تشرف په يوه نوي دستور د نوي ژوند په معنی دی. په دې معنی چې استاد تاسو د سپېڅليو خلکو په جرګه کې شمېرلي ياست. يعنې تر هغې وروسته يو عادي موجود نه ياست. تاسو لوړ شوي ياست. په پخوا وختونو کې دې ته (تعميد ورکول) يا د (استاد په خوا کې پناه اخيستل) ويل کېدل."*

*لويه لاربنووده چينګ های*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تشرف: د کوان یین میتود

استاد چینګ های داسې ریښتني کسان چې د حقیقت د پېژندلو هیله لري، د کوان یین له میتود سره بلدوي. د کوان یین چیني اصطلاح "د صوت په ارتعاش باندې مراقبې" ته وایي. په دغه میتود کې په دننه نۍ روښنایۍ او دننه ني آواز باندې مډیټیشن شامل دي. دغه ډول دننه نۍ تجربې له پخوا وختونو څخه په مکرر ډول د دنیا د ټولو مذهبونو په روحاني ادبیاتو کې یادې شوې دي.

د مثال په توګه، د مسیحیانو انجیل وایي: **"په پیل کې کلمه وه او کلمه له خدای سره وه او کلمه د خدای وه."** (یوحنا ۱:۱) دغه کلمه دننه نۍ اواز دی. دغه اواز ته لوګوس (Logos)، شابد (Shabd)، تاوو (Tao)، د غږ جریان (Soundstream)، نام (Naam) او یا اسماني غږ (Celestial Music) ویل کېږي. استاد چینګ های وایي: **"دغه اواز په ټولو ژوندیو موجوداتو کې ارتعاش لري او ټوله نړۍ ساتي. دغه دننه نۍ نغمه کولی شي چې ټولو ټپونو ته دوا وګرځي، هیلو ته تحقق ور وبخښي او دنیایي تنده ماته کړي، هغه ټول ځواک او مینه ده ځکه چې مونږ له داسې اواز څخه جوړ شوي یو چې له هغه سره تماس زمونږ زړونو ته سوله او خوښي ورکوي. دغه اواز ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر غوږ نيولو وروسته زمونږ ټول وجود بدلېږي او د ژوند په وړاندې زمونږ عمومي ليد د ښه کېدلو په لور تغير کوي."**

دننه نی نور، د خدای نور، هماغه نور دی چې د "روښنفکری" اصطلاح ورته کارول شوې ده. دهغه شدت ښايي له يوې باريکې شغلې څخه د څو ميليونو لمرونو تر تشعشع پورې طبقه بندي شي. د دغه نور او دننه ني اواز له لارې مونږ د خدای معرفت ته رسېږو.

د کوان يين د ميتود په اساس، تشرف د يوه نوي مذهب د منلو په لاره کې يو پېچلی مذهبي رسم يا عبادت نه دی. د تشرف په لړ کې، په نور او دننه ني اواز باندې د مراقبې (مډيتيشن) په هکله مشخصې کړنلارې ورکول کېږي او لارښوده چينګ های "روحاني انتقال" ته لاره برابروي. له غږ څخه پرته په چوپتيا کې د "الهي حضور" لومړنی تجربه شخص ته ورانتقالېږي. تاسو ته د دغه وره د پرانستلو لپاره د استاد جسمي حضور لازمي نه دی. دغه انتقال د دغه ميتود اساسي برخه تشکيلوي. دغه تخنيک به په يوازې ډول او د لارښودې له فيض څخه پرته ډېره لږه ګټه ولري.

له دې امله چې ښايي تاسو د تشرف پر وخت، دننه نی نور وګورئ او دننه اواز واورئ، نو ځينې وختونه دغې واقعې ته "چټکه روښنفکري" وايي.
لارښوده چينګ های تشرف ته د خلکو د منلو لپاره د هغوی تېر شاليد او مذهبي اعتقاداتو پسې نه ګرځي. تاسو مجبور نه ياست چې خپل مذهب او يا اعتقاداتو ته تغير ورکړئ. له تاسو څخه غوښتنه نه کېږي چې له کوم سازمان سره يوځای ش ئ يا دا چې له داسې يوه بهير سره يوځای ش ئ چې ستاسو د عادي ژوند له طريقې سره مطابقت نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو له تاسو څخه غوښتنه کېږي چې نباتي خواړه وخورئ. د ټول ژوند لپاره د نباتي خوړو د خوړلو رژيم له تشرف سره د بلدتيا د مرحلې لپاره الزامي شرط دی.
تشرف په وړيا ډول ستاسو حضور ته وړاندې کېږي.
د کوان يين په ميتود د مډيټېشن ورځنی تمرين او د پنځه ګونو حکمونو ترسره کول له تشرف څخه وروسته ستاسو لپاره يوازني شرطونه دي.
د دغو حکمونو عملي کول تاسو له دې څخه ساتي چې خپل ځانونه او نور ژوندي موجودات وزوروئ. دغه ممارستونه ستاسو د روښنفکرۍ لومړنۍ تجربه لاژوره او لاغښتلې کوي او تاسو ته د دې چانس په لاس درکوي څو په نهايت کې د بيدارۍ او بودايۍ تر ټولو لوړې سطحې ته ورسېږئ. له ورځني تمرين پرته، تاسو روښنفکري هېروئ او د هوښيارتيا عادي سطحې ته بېرته راستنېږئ.

د لارښودې چينګ های هدف دا دی چې مونږ ته رازده کړي چې څنګه مستقل او په ځان بسيا واوسو. له دې امله، هغه داسې طريقه را زده کوي چې هرڅوک په خپله د مرستندوی او يا هر ډول وسايلو له موجوديت څخه پرته د دې وړتيا ولري څو تمرين وکړي. هغه د پيروانو، عبادت کونکو، شاګردانو او يا داسې کوم سازمان د جوړولو په فکر کې نه ده چې حق العضويت ورکړي. هغه ستاسو پيسې، سوغاتونه او سجدې نه قبلوي، نو تاسو دې ته اړتيا نه لرئ چې هغې ته د داسې څه وړانديز وکړئ.

هغه تر يوه مقدس انسان پورې ستاسو د رسېدلو لپاره له تاسو څخه يوازې په ورځني ژوند کې ستاسو خلوص او د مډيټېشن تمرينات غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځه حکمونه

1. د ژوندیو موجوداتو له وژلو څخه ځان ژغورل*؛
2. له دروغ ویلو څخه ځان ژغورل؛
3. له غلا څخه ځان ژغورل؛
4. له جنسي خلاف ورزۍ څخه ځان ژغورل؛
5. د نشه ییزو توکو له کارولو څخه ځان ژغورل **.

- د دغه حکم د عملي کولو لپاره باید تاسو نباتي خواړه خواره ش ئ یا دا چې شیدې او نباتي خواړه خواره ش ئ تاسو باید غوښه، ماهي، چرګ، هګۍ (پخې یا خامې، په کېک، کولچو، آیس کریم، نورو کې) یا له حیواناتو څخه لاسته راغلي مشتقات ونه خورئ. البته، کولی ش ئ چې هر ډول لبنیات وخورئ، خو چې ډاډه ش ئ چې په پنیر کې حیواني خمیره نه وي ګډه شوې.
- په دې کې هر ډول زهري مواد لکه الکول، مخدر داروګان، تمباکو، قیمار، پورنوګرافي (لوڅ عکسونه) او ډېر وېرونکي فلمونه یا کیسې او ویډیوي لوبې شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*"یو پوره خدای پال انسان، یو واقعي انسان دی. واقعي انسان یو خدای پال انسان دی. دا مهال مونږ یوازې نیم انسانان یو. مونږ خپل عملونه په شک او ریاکارۍ سره ترسره کوو. مونږ په دې یقین نه لرو چې دا هر څه خدای زمونږ د لذت او تجربو لپاره پیدا کړي دي. مونږ تقوی او ګناه په خپلو کې سره بېلوو. مونږ هر څه لویوو او هغه ته په پام سره د خپل ځان او نورو په هکله قضاوت کوو. مونږ د هغه څه په هکله د خپلو محدودیتونو له امله، چې باید خدای یې ترسره کړي، ځورېږو. متوجه یاست؟ په حقیقت کې خدای زمونږ دننه ځای لري او مونږ هغه محدودوو. زمونږ دا خوښېږي چې له خپل وجود څخه خوند واخلو، خو نه پوهېږو چې څنګه. یوازې نورو ته وایو: تاسو باید هغه کار ونه کړئ او خپل ځان ته وایو: زه باید دغه کار ونه کړم. ولې باید زه نباتي خواړه وخورم؟ هوکې. زه پوهېږم . زه نبات خور یم، ځکه چې زما دننه خدای همداسې غواړي."*

*لویه لاربنوده چینګ های*

*"کله چې مونږ په خپل عمل، وینا، او فکر کې حتی د یوې ثانیې لپاره هم رېښتني اوسو، ټولې آلهې او زمونږ حفظه پربښتې به زمونږ مرسته وکړي. په داسې وخت کې به ټوله دنیا زمونږ وي. دنیا به زمونږ ملا وتړي او د سلطنت تاج به زمونږ پر سر راته کېږدي."*

*لویه لاربنوده چینګ های*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نباتي خوړو ګټې

د کوان یین په میتود باندې د تشرف لومړی شرط دا دی چې شخص باید د ټول عمر لپاره نباتي یا نباتي – لبني خواړه وخوري. په دغه ډول غذایي رژیم کې، نباتي خواړه او لبني محصولات روا او داسې خواړه چې له حیواناتو څخه منشاء اخلي، لکه د چرګې هګۍ، هغه ناروا یا منع ګرځول شوي دي. د دغه رژیم لپاره ډېر زیات دلیل موجود دي، چې تر ټولو مهم یې لومړني حکم ته بېرته ورګرځي چې مونږ باید د ژوندیو موجوداتو له وژلو څخه ډډه وکړو، او د داسې یوه قانون پیروي وکړو چې وایي: **"ته باید قتل ونه کړئ."**

ښکاره خبره ده چې د ژوندیو موجوداتو نه وژل او هغوی ته تکلیف نه رسول د هغو په ګټه دي، خو هغه څه چې ښایي روښانه نه وي دا دی چې نورو ته تکلیف نه ورکول، په خپله زمونږ لپاره هم په هماغه اندازه ګټور دي، ځکه چې د کارما قانون وایي: **"څه چې کرې، هغه به ریبې."** که چېرې تاسو د خپلو خوراکي اړتیاوو د پوره کولو لپاره په مستقیم یاغیرمستقیم ډول د یوه ژوندي موجود د وژلو سبب وګرځ ئ ، د کارما د قانون په اساس به پوروړي ش ئ چې دغه پور باید پرې کړئ.

په حقیقت کې د نباتي خوړو رژیم یو سوغات دی چې مونږ یې خپلو ځانونو ته ورکوو. د ښه والي احساس کوو او څومره چې زمونږ د پور دروندوالی کمېږي، هومره زمونږ د ژوند څرنګوالی ښه کېږي، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوښيارتيا، روحاني عالم او دننه نيو تجربو تر لاسه کولو ته لاره مومو. نو هغه لږ قېمت چې مونږ يې ادا کوو، په دې ارزي.

د غوښې د نه خوړلو لپاره مذهبي دلايل د ځينې خلکو لپاره د قناعت وړ دي، خو د نباتي خوړو د تاييد لپاره نور معتبر دلايل هم وجود لري چې ټول د سليم عقل ځرګندوى دي، او د شخصي روغتيا، چاپېريال پوهنې او چاپېريال، اخلاقو او د حيواناتو زورولو، او د نړۍ د لوږې په څېر مسايلو څخه سرچينه اخلي.

## روغتيا او تغذيه

د بشري تکامل د سير څېړنې ښيي چې زمونږ نيکونه په طبيعي توګه نبات خواره وو. د انسان د بدن جوړښت د غوښې خوړلو لپاره مناسب نه دى. دغه ټکى د کولمبيا پوهنتون استاد ډاکټر ج. س. هانتينجن د قياسي اناټومۍ په هکله په يوه څېړنه کې ثابت کړ. هغه په ګوته کړې ده چې د غوښه خوړونکو ژوو کوچنۍ او لويې کولمې لنډې دي. د هغوى لويې کولمې د خصوصياتو له مخې ډېرې مستقيمې او ښويې دي. په داسې حال کې چې د نبات خوړونکو ژوو کوچنۍ او لويې کولمې دواړه اوږدې دي. غوښه د پروټينو د ډېرښت او د فايبري حجم د کموالي له امله د جذبېدلو لپاره ډېر وخت ته اړتيا نه لري، او له همدې امله ده چې د غوښه خوړونکو ژوو د کولمو اوږدوالى د نبات خوړونکو ژوو د کولمو د اوږدوالي په نسبت لږ دى.

د انسان کولمې د نبات خوړونکو ژوو د کولمو په څېر اوږدې دي. زمونږ د دواړو کولمو اوږدوالى تقريبا اته ويشت فټه (اته نيم متره) دى. وړه کولمه ځوځلې په خپل ځان کې تاو راتاو شوې ده، او دېوال يې صاف نه بلکې ګونځې ګونځې جوړښت لري. څرنګه چې زمونږ کولمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غوښه خوړونکو ژوو د کولمو په پرتله اوږدې دي، له دې امله، هغه غوښه چې مونږ يې خورو، تر ډېر وخت پورې زمونږ په کولمو کې پاتې کېږي، په نتيجه کې خوسا کېږي، او زهري مواد توليدوي. دغه زهريتوب د لويې کولمې د سرطان او د ځيګر، چې د وينې د صافولو دنده پرغاړه لري، د کار د ډېربښت لامل کېږي، چې د ځيګر د سيروزس ( cirrhosis) او حتى سرطان سبب ګرځي.

غوښه په پراخه پيمانه د يوروکينېز پروټين او يوريا لري چې د پښتورګو د بار د درنښت سبب ګرځي او کولی شي چې د پښتورګي په وظيفه کې خلل وارد کړي. په نيمه کيلو غوښه کې ۱۴ ګرامه د يوروکينيز پروټين وجود لري. که چېرې ژوندۍ حجرې د يوروکينېز په مايع پروټين کې کېښودل شي، د هغوی ميټابوليکه وظيفه به له منځه ولاړه شي. سربېره پر دې، غوښه سلولوز يا فايبر نه لري، او د فايبر نشتوالی کولی شي چې په اسانۍ سره قبضيت رامنځته کړي او قبضيت پخپله د بواسير او سرطان په څېر ناروغيو سبب ګرځي.

د غوښې اشباع شوي کوليسټرول او وازده د قلبي وعايوي ګډوډيو سبب ګرځي، چې دا مهال په امريکا او فورموسا کې د مرګ اصلي عامل ګڼل کېږي.

د مړينې دويم لوی عامل سرطان دی. ازمېښتونو ښودلې ده چې د غوښې پخول او کبابول، په هغې کې د ميتايل کلورانتين په نامه يو ډول کېمياوي ماده توليدوي، چې دا پخپله يو قوي سرطان جوړونکی دی. په هغو موږکانو کې چې دغه کېمياوي ماده ورکړای شوې وه، د هډوکو د تومور او د وينې او معدې د سرطان په څېر د سرطان مختلفې نمونې راښکاره شوې.

څېړنو ښودلې ده چې هغه نوي زېږېدلي موږکان چې د سينې په سرطان د اخته موږکانو په واسطه تغذيه شوي دي هم په دغې ناروغۍ اخته شوي دي. سربېره پر دې، په حيواناتو کې د انسان د سرطاني سلولونو د تزريق په نتيجه کې هم په هغو کې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغي څرګنده شوې ده. نو که چېرې هغه غوښه چې مونږ يې خورو د هغو حيواناتو وي چې په ورته ناروغۍ اخته دي، بيا خو د دې لپاره ښه چانس برابر دی چې مونږ دې په دغه ډول ناروغۍ اخته شو.

ډېر خلک داسې فکر کوي چې هغه غوښه چې مونږ ته رارسېږي په قصابخانو باندې د روغتيايي کنټرول د لګېدنې له امله سالمه او بې خطره ده، خو بايد پوه شو چې د حلالېدونکو مالونو شمېر دومره ډېر دی چې په بېلابېل ډول د هرې غوښې کتنه او ازمېښت ناشونی دی. دا ډېره سخته ده چې حتی د غوښې يوه ټوټه دې د سرطان د شتون لپاره وکتل شي، پاتې لا د ټولې غوښې کتنه. په دې وروستيو وختونو کې په قصابخانو کې يوازې په ناروغۍ اخته عضوه بېلوي او پاتې برخې يې پلوري.

مشهور نبات خور ډاکټر ج. ايچ. کلوګ (Dr. J.H. Kellogg) ويلي دي: "کله چې مونږ نباتي خواړه خورو، دې ټکي ته به مو انديښنه نه وي چې هغه حيوان چې مونږ له هغه څخه لاس ته راغلي خواړه خورو په څه ناروغۍ مړ شوی دی، او په دې توګه به د خوړو له خوړلو څخه خوند اخلو!"

له دې ټولو څخه چې راتېر شو يوه بله ستونزه پاتې کېږي. د سټېروييډونو او د ودې د هورمونونو په څېر درملونه او انټي بيوټيک حيواناتو ته تزريق کېږي. داسې ويل کېږي چې دغه مواد د غوښې له لارې مصرفونکي ته ورلېږدېږي او په نتيجه کې د مصرفونکي شخص بدن د انټي بيوټيک په مقابل کې مصؤنيت تر لاسه کوي او د هغو درملو اثر چې د ناروغۍ پر وخت يې استعمالوي، کمېږي.

ځينې خلک داسې عقيده لري چې د نباتي خوړو رژيم په کافي اندازه مغذي او مقوي نه دی. امريکايي جراح ډاکټر ميلر تر څلوېښتو کلونو پورې په فارموسا کې روغتيايي خدمت وکړ. هغه هلته يو روغتون جوړ کړ، چې ټول خواړه په کې هم د کارمندانو لپاره او هم د ناروغانو لپاره نباتي وو. هغه ويل: "موږک يو ډول حيوان دی چې کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي خپل ژوند هم د نباتي خوړو له لارې حمايه کړي او هم د غيرنباتي. که چېرې دوه موږکان په نظر کې ونيسو چې يو يې غوښه خوري او بل نباتي خواړه، وبه ومو چې د هغوی وده او انکشاف يو بل ته ورته دی، خو توپير يې دا دی چې د نبات خور موږک عمر به زيات او د ناروغۍ په وړاندې به يې مقاومت ډېر وي. سربېره پر دې، کله چې دواړه موږکان ناروغ شي، هغه موږک چې نباتي خواړه خوري، ژر رغېږي. هغه همدارنګه عقيده لري چې: "د درمل پوهنې علم پرمختګ کړی دی، خو کولی شي يوازې د ناروغيو درملنه وکړي. البته، خواړه کولی شي چې زمونږ روغتيا وساتي." په داسې حال کې چې يو صحيح غذايي رژيم کولی شي چې د ناروغيو مخه ونيسي. هغه يادوي چې نباتي خواړه د غوښې په نسبت د مغذي موادو ډېره مستقيمه منبع ده. خلک د حيواناتو غوښه خوري، خو د هغو حيواناتو د غذا منابع چې مونږ يې غوښه خورو، نباتات دي. د حيواناتو ژوند ډېر لنډ دی، او تقريبا ټولې هغه ناروغۍ لري چې انسان پرې اخته کېږي. ډېر احتمال شته چې انسان د ناروغو حيواناتو د غوښې په خوړلو سره په ناروغۍ اخته شي، نو په دې اساس ولې انسان خپل خواړه نېغ په نېغه له نباتاتو څخه وانه خلي؟ ډاکټر ميلر وړانديز کړی دی چې، مونږ کولی شو چې د خپلې روغتيا لپاره ټول اړتيا وړ مواد له غلو، دانو او سبزيجاتو څخه تامين کړو.

ډېر خلک عقيده لري چې حيواني پروټين له دې امله چې مکمل پروټين دي په نباتي پروټينو باندې غوره دي، خو واقعيت دا دی چې سربېره پر دې چې ځينې نباتي پروټين مکمل دي، تر څنګه يې مونږ کولی شو چې د څو نامکملو پروټينونو د يوځای کولو په نتيجه کې مکمله غذا تر لاسه کړو.

د ۱۹۸۸ کال په مارچ کې، د امريکا د خوراکي موادو سازمان ( ADA) اعلام وکړ چې "د نباتي خوړو رژيم په دې شرط چې په صحيح توګه پلان شي کېدای شي چې د روغتيا او تغذيې له مخې مکمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواړه جوړ کړي. "

ځينې خلک په تېروتنې سره په دې باور دي چې غوښه خواره د نبات خورو په پرتله ډېر قوي دي، خو په دوه دېرشو تنو نبات خورو او پنځلسو تنو غوښه خورو کسانو باندې د "يل" پوهنتون د استاد پروفيسر ايروينګ فيشر له خوا ترسره شوې تجربې وښودله چې نبات خواره انسانان د غوښه خورو انسانانو په پرتله ډېر ځواکمن دي. هغه له دغو کسانو څخه وغوښتل څو خپل لاسونه په هوا کې غزېدلي ونيسي او له ۱۵ څخه تر ۳۰ دقيقو پورې يې په ورته حالت کې وساتي. د تجربې نتيجه پوره روښانه وه. د پنځلسو تنو غوښه خورو له جملې څخه يوازې دوو تنو وکړاى شول چې د ۱۵ او ۳۰ دقيقو ترمنځ مودې پورې خپل لاسونه په هوا کې غزېدلي ونيسي. د نبات خورو له ليکې څخه ۲۲ تنو د ۱۵ او ۳۰ دقيقو ترمنځ، ۱۵ تنو له ۳۰ دقيقو څخه د ډېرې مودې، ۹ تنو له يو ساعت څخه د ډېرې مودې، ۴ تنو له دوو ساعتونو څخه د ډېرې مودې لپاره او ۱ تن حتى له درې ساعتونو څخه د ډېرې مودې لپاره وکړاى شول چې خپل لاسونه هماغسې غزېدلي ونيسي.

د اوږدو واټنونو وهونکي ډېر قهرمانان له سيالۍ څخه وړاندې د نباتي خوړو رژيم نيسي. د نباتي درملنې متخصصې ډاکټرې باربارو مور په اوه ويشت نيمو ساعتونو کې يوسل او لس ميله منډه وکړه. دغې ۵۶ کلنې ښځې د ټولو ځوانانو له خوا جوړ شوي ريکارډونه مات کړل: "زه غواړم چې يوه بېلګه اوسم، او وښيم چې هغه خلک چې يوازې او يوازې نباتي خواړه خوري، هغوى به قوي بدن، فعال مغز او يو سالم ژوند ولري."

آيا نبات خواره په خپلو خوړو کې پوره پروټين اخلي؟ د روغتيا نړيوال سازمان سپارښتنه کوي چې د ورځنۍ کالورۍ ۵.۴٪ له پروټينونو څخه تامينېږي. د غنمو ۱۷٪ کالوري، د بروکلي ګلپي ۴۵٪ کالوري او د وريژو ۸٪ کالوري د پروټين په شکل ده. نو دا ډېره اسانه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو یو کس داسې غذایي رژیم وساتي چې د غوښې له خوړلو پرته پوره پروټین تر لاسه کړي. اضافي ګټه یې دا ده چې د ډېرو هغو ناروغیو مخه هم په کې نیول کېږي چې د لوړ مقدار وازدې له خوړلو څخه رامنځته کېږي لکه د زړه ناروغۍ او زیاتره سرطانونه. نباتي خواړه په ښکاره توګه غوره انتخاب دی.

دا په ثبوت رسېدلې ده چې د غوښینو موادو ډېر خوراک چې په لوړه کچه وازده او غوړ په کې وي د زړه له ناروغیو، د سینې سرطان، د کولمو سرطان او سکتې سره نېغ په نېغه اړیکه لري. نورې ناروغۍ چې د نباتي خوړو د اخیستلو له امله یې تر ډېره حده مخه نیول کېږي د پښتورګي تیږه، د پروسټاټ سرطان، دیابیت، د معدې زخم، د صفرا د کڅوړې تیږه، د کولمو د التهابي ناروغیو سنډروم، د مفصلونو التهاب (آرتروزس)، د وریو ناروغي، اکنه، د پانکراس سرطان، د معدې سرطان، د وینې د شکر کمی، قبضیت، د کولمو موضعي التهاب، د وینې د فشار لوړوالی، د هډوکو ناروغي، د تخمدان سرطان، بواسیر، چاغوالی او سابندي دي.

د روغتیا لپاره په سګرټ څکلو پسې وروسته تر ټولو ډېر خطرناک عامل غوښه خوړل دي.

## ایکولوژي او چاپېریال

د غوښې د تر لاسه کولو لپاره د حیواناتو ساتنه خپلې پایلې لري. دغه کار د ځنګلونو د تخریب، د ځمکې د تودوخې د ډېرښت، د اوبو د ککړتیا، د اوبو د کمي، د انرژۍ له منابعو څخه د بدې استفادې، د ځمکې د دشتي کېدنې او د نړۍ د لوږې سبب ګرځي. د غوښې د تولید لپاره له ځمکې، اوبو، انرژۍ او ورسره د انسان هڅې په کار اچول

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څمکې د منابعو د صحیح استعمال لاره نه ده.

له ۱۹۶۰ کال راهیسې د مرکزي امریکا خواوشا ۲۵٪ استوایي ځنګلونه سوزېدلي او د حیواناتو په څړځایونو باندې اوښتي دي. داسې اټکل کېږي چې هر ۱۰۰ ګرامه همبرګر چې د دغې سیمې له حیواناتو څخه لاس ته راغلی دی، د ۵۵ مربع فټه استوایي ځنګل د تخریب په بیه تمام شوی دی. سربېره پر دې، د حیواناتو ساتنه په لویه کچه د درې ډولو ګازونو په تولید کې مرسته کوي چې د ځمکې د کرې د تودوخې سبب ګرځي؛ د اوبو د ککړتیا یو لوی سبب جوړوي او د هر ۴۵۰ ګرامه غوښې د تولید لپاره ۹۳۲۶ لیټره اوبو ته اړتیا ده. په داسې حال کې چې د ۴۵۰ ګرامه رومي د تولید لپاره یوازې ۱۱۰ لیټره اوبو او د ۴۵۰ ګرامه ګرمې غنمینې ډوډۍ د تولید لپاره یوازې ۵۲۶ لیټره اوبو ته اړتیا ده. په امریکا کې د لګېدونکو اوبو نژدې نیمه برخه د حیواناتو لپاره د خوړو په تیارولو لګېږي.

که چېرې هغه منابع چې د حیواناتو د تولید لپاره کارول کېږي د انسانانو لپاره د غلو په تولیدولو باندې لګېدلی، د نړۍ د وګړو لپاره به ډېر ښه خواړه تیار شوي وای. که چېرې د یو جریب ځمکې تولید شوې وربشې د حیوان پرځای انسان ته ورکړل شي، د هغه تولید شوي پروټین به ۸ برابره او کالوري به یې ۲۵ برابره ډېره وي. د یو جریب ځمکې د تولید شویو براکولي ګلپیانو پروټین، کالوري او نیاسین د هغه میزان ۱۰ برابره جوړوي چې د یوه داسې حیوان له غوښې څخه لاس ته راځي چې له یادې شوې اندازې ځمکې څخه ورته خواړه برابرېږي. دغه ډول شمېرنې ډېرې زیاتې دي. که چېرې د نړۍ منابع د حیواناتو لپاره د خوړو د تولید پرځای د انسانانو د خوراکي غلې د کرلو لپاره کارول کېدلې، مونږ ته به یې ډېره ګټه رسېدلې وای.

د نباتي خوړو رژیم نیول په دې سیاره کې "د ملایمتره ژوند تېرولو" سبب ګرځي. د اړتیا وړ توکو په تر لاسه کولو سره په قناعت سربېره به تاسو هغه وخت د لاډېرې ارامۍ احساس وکړئ چې پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ش ئ چې یو ژوندی موجود ستاسو د هرځل خوراک پر وخت نه دی وژل شوی.

## د نړۍ لوږه

نژدې یو بیلیون (زر میلیونه) انسانان په دې کره کې د لوږې او خوارځواکۍ له امله کړېږي. هرکال تر ۴۰ میلیونو وګړو ډېر، چې اکثره یې کوچنیان دي، د لوږې له لاسه مري. له دې سره هم، د نړۍ د غلو له یو پر درې برخې څخه ډېره، د انسانانو پرځای حیواناتو ته ورکول کېږي. د امریکا په متحدو ایالتونو کې د تولید شوې غلې ۷۰٪ څاروي خوري. که چېرې دغه خوراکي مواد د څارویو پرځای انسانانو ته ورکول کېدلی، د ځمکې په کره کې به هېڅ څوک وږی نه وای پاتې شوای.

## د څارویو ځورول

آیا تاسو خبر یاست چې په متحدو ایالتونو کې هره ورځ ۱۰۰۰۰۰ غواګانې قصابي کېږي؟

په اکثرو لوېدیزو هېوادونو کې څاروي په مېخانیکي مزارعو (factory farms) کې روزل کېږي. دغه مرکزونه د دې لپاره جوړ شوي دي څو ډېر شمېر څاروي په لږ لګښت سره د قصابۍ لپاره وروزي. څاروي سره یوځای کوي او بیا ماشین پرې راخلاصوي او داسې یې میده میده کوي چې نرمه غوښه ترې جوړه شي. دا یو داسې حقیقت دی چې په مونږ کې زیاتره خلک به یې هېڅکله هم په خپلو سترګو ونه ویني. داسې ویل کېږي چې، "له یوې قصابخانې څخه یوځل لیدنه به دې د ټول عمر لپاره نبات خور وګرځوي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیوتولستوی ویلي دي: "څو چې قصابخانې موجودې وي، د جګړو ډګرونه به هم موجود وي. د نباتي خوړو رژیم نیول په حقیقت کې د انسانیت د جوهر محک دی." که څه هم چې په مونږ کې زیاتره خلک د څارویو د وژلو مخه نه نیسو، لا پراختیا هم ورکوو، او ټولنه هم د دې کار ملاتړ کوي چې غوښه دې په منظمه توګه وخوړل شي، او له دې خبر نه یو چې د هغو حیواناتو غوښه چې مونږ یې خورو څنګه دي.

## د لویانو او نورو پیروي

مونږ وینو چې انسانان د لیکلي تاریخ له پیل څخه نباتات خوري. په پخوانیو عبري او یوناني افسانو کې د داسې انسانانو ذکر راغلی دی چې میوه خواره وو. د مصر پخوانیو کاهنانو هېڅکله غوښه نه خوړله. د یونان زیاتره لوی فلاسفه لکه اپلاتون، دیوژانس او سقراط ټول د نباتي خوړو د خوړلو پلویان وو.

په هند کې "شکیاموني بودا" د اهیمسا (Ahimsa) په اهمیت او د ژوندیو موجوداتو د نه ځورولو په اصل باندې تاکید کړی دی. هغه خپلو شاګردانو ته ویل چې غوښه ونه خوري، که نه نور ژوندي موجودات به بیا له هغوی څخه وېرېږي. بودا وایي: **"غوښه خوړل یوازې یو اکتسابي عادت دی. بشر له لومړي سره داسې نه دی پیدا شوی چې غوښه غوښتونکی دې وي. غوښه خوړونکي له خپلو زړونو څخه د رحم او بخښنې زړی وباسي؛ یو بل وژني او خوري...، داسې چې په دې ژوند کې زه تاسو خورم او په بل ژوند کې تاسو ما خورئ...، او دا په همدې ډول دوام مومي. هغوی څنګه کولی شي چې له درې قلمروونو (توهماتو) څخه راوځي؟"**

ډېرو لومړنیو یهودیانو، مسیحیانو او تاؤستانو نباتي خواړه خوړل. په سپېڅلي انجیل کې راغلي دي: **"او خدای وویل، ماستاسو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د خوړو لپاره دانې او مېوې او د وحشي ځارويو او الوتونکو د خوړو لپاره واښه او د نباتاتو پاڼې پيدا کړي دي. (جينيسيس ۲۹:۱)"** او په انجيل کې د غوښې خوړلو د مخنيوي لپاره يوه بله ښه: **"تاسو بايد داسې خواړه ونه خورئ چې وينه په کې روانه وي، ځکه چې په هغه کې ژوند روان دی (جينيسيس ۹:۴)"** خدای وويل: **"چا تاسو ته ويلي دي چې غويی او سيرلی ووژنی او زما په نامه يې قرباني کړئ. خپل ځانونه له دغې بې ګناه وينې څخه وويئځئ، ځو زه ستاسو دعا واورم؛ که نه زه به مې مخ درڅخه وګرځوم ځکه چې ستاسو لاسونه په وينو سره دي. توبه وباسئ چې ومو بخښم. (ايسايه ۱۱:۱-۱۶)"** د عيسی (ع) يوه حواري پاول په يوه ليک کې روميانو ته وليکل: **"ښه دا دی چې نه غوښه وخورئ او نه شراب وڅښئ. (روميان ۲۱:۱۴)"**

تاريخ پوهانو په دې وروستيو وختونو کې يو کتاب موندلی دی چې په هغه کې د مسيح د ژوند او لارښوونو يو نوی ليد بيان شوی دی. مسيح ويلي دي: **"هغه کسان چې د ځارويو غوښه خوري، هغوی د خپلو ځانونو لپاره قبرونه ګرځي. په ريښتيا درته وايم، څوک چې وژنه کوي، په خپله به وژل کيږي. څوک چې ژوندي موجودات وژني او غوښه يې خوري، په حقيقت کې د مړو انسانانو غوښې خوري."**

د هندوستان مذاهبو هم غوښه خوړل منع کړي دي او داسې يې ويلي دي: "خلک کولی شي چې د يوه ژوندي موجود له وژلو پرته غوښه وخوري. هرڅوک چې يوه ژوندي موجود ته زيان ور رسوي، هېڅکله به ونه بخښل شي. نو د غوښې له خوړلو څخه پرهېز وکړئ." (هندويي لارښوونې)

د مسلمانانو په اسماني کتاب قرانکريم کې د مړه ځاروي د وينې او غوښې خوړل منع شوي دي.

د "ذن" يوه لوی چيني استاد "هان شان تزو" يو شعر ليکلی دی چې له غوښې خوړلو سره سخت مخالفت په کې ښودل شوی دی: **"هله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژر شئ بازار ته لاړ شئ، غوښه او ماهي واخلئ او خپله ښځه او ماشومان پرې ماړه کړئ. خو ولې باید ستاسو د ژوند د ژغورنې لپاره د هغوی ژوند له منځه لاړ شي؟ دا غیرمنطقي کار دی. دا نه یوازې دا چې تاسو جنت ته نه نژدې کوي، بلکې د دوزخ بېخ ته مو رسوي."**

یو شمېر مشهور لیکوالان، هنرمندان، پوهان، فیلسوفان او لوی خلک نبات خواره وو. لاندې کسانو په ډېره لېوالتیا سره د نباتي خوړو خوړلو ته مخه وکړه: شکیاموني بودا، عیسی مسیح، ویرجیل، هوراس، اپلاتون، اوید، پتراچ، فیثاغورث، سقراط، ویلیام شکسپیر، ولټایر، اسحاق نیوټن، لیوناردو ډاوینچي، چارلس ډاروین، بنجامین فرانکلن، رلف والډو امرسن، هنري ډیویډ توریو، امیل زولا، برټراند راسل، ریچارډ واګنر، پرسي بیشه شلي، ایچ جي ویلز، آلبرټ آنشټین، رابندرنات ټاګور، لیوتولستوی، جورج برنارډ شاو، مهاتما ګاندي، آلبرت شوایتزر، او د دې زمانې ځینې کسانو لکه: پل نیومن، مډونا، شهزادګۍ ډیانا، لینډسي واګنر، پل مک کارټني، کنډیس برګن، او څو تنه نور.

آلبرټ آنشټین ویلي دي: "زه فکر کوم چې د سوچه والي کوم تاثیر چې د نباتي خوړو په رژیم سره د انسان په برخه کېږي، د بشر لپاره ډېر ګټور دی. له دې امله، د نباتي خوړو رژیم ساتنه د دغې لارې د تلونکو لپاره هم مثبته ده او هم ګټوره." دا د تاریخ په اوږدو کې د ټولو لویانو او سپېڅلیو خلکو نصیحت وه.

## استاد پوښتنې ځوابوي

**پوښتنه:** د حیواناتو د غوښې خوړل د ژوندیو موجوداتو وژل ګڼل کېږي، خو آیا د نباتي خوړو خوړل هم یو ډول وژنه نه ده؟

**استاد:** د نباتي خوړو خوړل هم د ژوندیو موجوداتو وژنه ده او په نتیجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې یوه اندازه "کارما" زمونږ لپاره ایجادوي، خو د "کارما" اثر یې لږ دی. که چېرې یو څوک د ورځې دوه نیم ساعته د کوان یین تمرینونه وکړي، د دغې کارما تاثیر خنثی کوي. د اړتیا په پام کې نیولو سره او د ژوند د ادامې لپاره باید یو څه وخورو، نو د دې لپاره داسې غذا انتخابوو چې د هغې د آګاهی حس ټیټ وي او لږ درد ور رسېږي. د نباتاتو ۹۰٪ اوبه جوړوي او له دې امله د هغې د آګاهی حس دومره ټیټ دی چې ډېر لږ درد احساسوي. سربېره پر دې، مونږ د نباتي خوړو په خوړلو سره نه یوازې دا چې د هغو ریښې له منځه نه وړو بلکې د هغو د غیرجنسي برخو په بیاتولید او په نتیجه کې د هغو د محصول په ډېرولو کې مرسته کوو. په دې توګه، زمونږ کار عملا د نباتاتو په ګټه دی. د نباتاتو روزونکي وایي چې د بوټو ښاخونه پرې کول مرسته کوي څو هغوی په ښه توګه وده وکړي.

دغه مس ئ  له په مېوو کې ښه روښانه ده. یوه پخه مېوه چې ښه بوی، ښایسته رنګ او ښه خوند لري انسان یې خوړلو ته هڅوي، او په دې توګه، د مېوو ونې خپلې ریښې لاغزوي. که چېرې هغه ټولې نشي او ونه خوړل شي، ترشېږي، له ونې رالوېږي او خرابېږي او د سیوري د لوري دانې له لمر څخه محرومې پاتې کېږي او مړې کېږي. نو د مېوې او سبزۍ خوړل یوه طبیعي غوښتنه ده چې هغوی ته به درد ونه رسوي.

**پوښتنه:** ډېر خلک په دې اند دي چې نبات خواره خلک له ونې ټیټ او ډنګر وي، او غوښه خواره خلک له ونې لوړ او غټ وي. آیا داخبره سمه ده؟

**استاد:** نبات خواره خامخا ډنګر او له ونې ټیټ نه وي. که چېرې د هغوی غذایي رژیم متناسب وي، هغوی هم لوړ وي او هم غښتلي. ټول غټ حیوانات لکه فیل، غویی، زرافه، د اوبو اس، اس او نور یوازې سبزي او مېوه خوري. هغوی د غوښه خورو حیواناتو په نسبت

(c) ketabton.com: The Digital Library



غښتلي دي؛ آرام دي؛ او همدارنګه د انسان لپاره ډېر ګټور دي. په داسې حال کې چې غوښه خواره حيوانات ډېر قهرجن او بې ګټې دي. که چېرې انسان د حيوان غوښه وخوري، هغه تر ډېره حده له حيواني غرايزو څخه متاثره کېږي. غوښه خواره انسانان خامخا لوړ او غښتلي نه وي او حتى منځنى عمر يې ډېر لنډ وي. اسکيموګان تقريبا يوازې غوښه خوري، خو آيا هغوى لوړ او غښتلي دي؟ عمرونه يې اوږده دي؟ زه فکر کوم چې تاسو دغه مس ئ له په ښه توګه درک کولى ش ئ ؟

**پوښتنه:** آيا نبات خواره کولى شي چې د چرګې هګۍ وخوري؟
**استاد:** نه. د چرګې د هګۍ خوړل داسې دي لکه ژوندى موجود چې وژني. ځينې خلک وايي چې د اوسنيو چرګانو هګۍ نطفه نه لري، او په دې توګه د هغو خوړل د ژوندي موجود وژل نه دي. دا مس ئ له يوازې په ظاهري توګه سمه ده. يوه د چرګې هګۍ هغه وخت بې نطفې پاتې کېږي چې د حمل مناسب شرايط ورته نه وي برابر شوي چې په نتيجه کې په چرګوړي باندې د اوښتلو د تکامل د سير مراحل نه طى کوي. سره له دې چې دغه تکامل نه دى ترسره شوى، خو د ژوند ځواک لا هم د چرګې په هګۍ کې نغښتى دى. هګۍ يوازنۍ حجرې دي چې کولى شي القاح شي. ځينې خلک داسې دلايل راوړي چې د چرګې هګۍ اساسي خوراکي مواد لکه پروټين او فاسفورس لري چې د انسان لپاره يې اخيستل ضروري دي، خو پروټين په ټولو نباتي دانو او فاسفورس په سبزيو لکه پټاټو کې وجود لري.

مونږ پوهېږو چې له پخوا زمانو څخه ډېر لوى راهبان وو چې غوښه او هګۍ يې نه خوړل، خو بيا يې هم ډېر اوږده عمرونه درلودل. د مثال په توګه، استاد يينګ ګوانګ چې د هرځل خوړو پر وخت به يې يو قاب سبزي او لږې وريژې خوړلې او له اتيا کلونو څخه تر ډېرې مودې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې ژوندی وه. سربېره پر دې، د هګۍ زېړ ډېر زيات کولسترول لري. کولسټرول د زړه د بې نظميو اصلي عامل دی او دا په فورموسا او امريکا کې يوه له ډېرو مرګونو ناروغيو څخه ګڼل کېږي. دا د حيرانتيا ځای نه دی چې ګورو چې زياتره ناروغان د چرګانو هګۍ خواره دي.

**پوښتنه:** انسان بېلابېل حيوانات لکه خوګان، پسونه، چرګان، بتې، او نور ساتي. ولې نشو کولی چې مونږ هغه وخورو؟
**استاد:** داسې ده؟ ميندې پلرونه خپل ماشومان ساتي. آيا ميندې پلرونه حق لري چې خپل ماشومان وخوري؟ ټول ژوندي موجودات حق لري چې ژوند وکړي، او هېڅ څوک يې بايد له دغه حق څخه محروم نه کړي. که چېرې مونږ د هانګ کانګ قوانين وګورو، حتی د خپل ځان وژنه هم د قانون خلاف عمل دی. نو، د نورو وژنه به له قانون څخه څومره ډېر مخالفت وي؟

**پوښتنه:** حيوانات د دې لپاره پيدا شوي دي چې خلک يې وخوري. که چېرې يې مونږ ونه خورو، نړۍ به ترې ډکه شي. سمه ده؟
**استاد:** دا يوه غلطه عقيده ده. آيا تاسو د يوه حيوان تر وژلو وړاندې له هغه څخه پوښتنه کوئ چې تاسو غواړئ هغه ووژنۍ او ويې خورئ؟ ټول ژوندي موجودات غواړي چې ژوندي پاتې شي او له مرګ څخه ډارېږي. مونږ نه غواړو چې پړانګ مونږ وخوري، نو مونږ بايد ولې حيوانات وخورو؟ د انسان يوازې لسګونه زره کاله کېږي چې په ځمکه باندې ژوند کوي، خو د انسان له پيدايښت څخه وړاندې، په ځمکه کې ډول ډول حيواناتو ژوند کاوه. آيا هغوی ځمکه ډکه کړې وه؟ ژوندي موجودات يو له بل سره يو ايکولوژيک توازن لري او د خوړو يا ځای د کموالي په صورت کې، د هغوی په ټولنه کې يو لوی کمی رامنځته کېږي. دغه مس ئ له ټولنه په توازن کې ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه:** ولې بايد زه نبات خور اوسم؟

**استاد:** زه نبات خور يم ځکه زما دننه خدای غواړي چې زه دې داسې اوسم. ولې شوې؟ غوښه خوړل د "نه غواړم چې ووژل شم" له نړيوال اصل سره په ټکر کې دي. مونږ پخپله نه غواړو چې ووژل شو، او نه غواړو چې مال مو غلا کړای شي. اوس، که چېرې له نورو سره دغه ډول معامله وکړو، په حقيقت کې دا هرڅه له خپل ځان سره کوو، او دغه کار مونږ دردوي. هرڅه چې تاسو د نورو په وړاندې کوئ، تاسو پخپله پرې دردېږئ. تاسو نش ئ کولی چې په خپل ځان باندې خوله ولګوئ او بايد خپل ځان زخمي نه کړئ. په عين ډول، تاسو بايد بل څوک ونه وژن ئ ځکه چې دا د ژوند د اصل پرخلاف عمل دی. ولې شوې؟ دا کار مونږ دردوي، نو نه يې ترسره کوو. د دې معنی دا نه ده چې مونږ په يو ډول خپل ځانونه محدودوو. د دې معنی دا ده چې مونږ خپل ژوند د ژوند ټولو ډولونو ته پراخوو. زمونږ ژوند به په دې بدن کې محدود نه وي، بلکې د حيواناتو او د ژونديو موجوداتو ټولو ډولونو ته به غزېدلی وي. دغه کار مونږ لويوي؛ مونږ خوشحالوي؛ او زمونږ محدوديت له منځه وړي. سمه ده؟

**پوښتنه:** آيا کېدای شي د نباتي خوړو او په دې هکله رڼا واچوئ چې څنګه کېدای شي دا له نړيوالې سولې سره مرسته وکړي؟

**استاد:** تاسو ګورئ چې په نړۍ کې ډېر جنګونه د اقتصادي دلايلو په اساس رامنځته کېږي. اقتصادي ستونزې هغه وخت سختې وي چې په بېلابېلو هېوادونو کې لوږه، د خوړو کمی، او يا د هغو وېش نامتوازن وي. که چېرې تاسو يو څه وخت ورکړئ، مجلې ولول ئ او د نباتي خوړو د حقايقو په هکله څېړنه وکړئ، په ډېرښه ډول به په دې هکله وپوهېږئ. د غوښې په نيت د پسونو او حيواناتو ساتنه په ډېرو برخو کې زمونږ او د ټولې نړۍ، يا لږ ترلږه د درېيمې نړۍ د هېوادونو د اقتصاد د کمزورتيا باعث ګرځېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زه نه وایم، بلکې دا یو امریکایی چې دغه مس  ئ  له یې څېړلې او په دې هکله یې یو کتاب لیکلی دی، وایي. تاسو کولی ش  ئ   چې هر کتابتون ته لاړ ش‌ئ او د نباتي خوړو د خوړلو په هکله ترسره شوې څېړنې ولول  ئ  . تاسو کولی ش  ئ   چې د "جان روبینز" لیکنه "د نوې امریکا لپاره د خوړو رژیم" ولول  ئ  . هغه یو ډېر مشهور آیس کریم پلورونکی میلیونر دی. هغه دا هرڅه پرېښودل څو یو نبات خور واوسي، او د خپل کورني او کاري دود پر خلاف د نبات خوړلو یو کتاب ولیکي. هغه ډېرې زیاتې پیسې، پرستېژ او کاروبار له لاسه ورکړ، خو دا هرڅه هغه د حقیقت لپاره وکړل. د هغه کتاب ډېر ښه دی. ډېر نور کتابونه او مجلې هم شته چې کولی شي تاسو ته د نباتي خوړو د رژیم او له نړیوالې سولې سره د هغو د مرستې په هکله، ډېر معلومات او حقیقتونه، په لاس درکړي.

تاسو ګورئ، مونږ خپل خواږه حیواناتو ته په ورکولو سره له لاسه ورکړل. آیا تاسو پوهېږئ چې د غوښې د تر لاسه کولو په نیت د یوې غوا په روزلو باندې څومره پروټین، درمل، اوبه، انساني ځواک، موټر، لارۍ، سړک جوړونه، او په سلګونو زره جریبه ځمکه مصرفېږي. پوه شوئ؟ که چېرې دغه مواد په برابر ډول په مخ پر ودې هېوادونو کې ووېشل شي، مونږ کولی شو چې د لوږې ستونزه حل کړو. نو اوس، که چېرې یو هېواد خوړو ته اړتیا لري، ښایي په بل هېواد باندې حمله وکړي او په دې توګه د خپل هېواد خلک له لوږې څخه وژغوري. په اوږده موده کې، دغه چاره بد عوامل او ستونزې رامنځته کوي. پوه شوئ؟

څه چې کرې هغه به رېبې. که چېرې مونږ کوم څوک د خوړو په نیته ووژنو،  په بله طریقه به مونږ هم د ورته هدف لپاره ووژل شو. دا د افسوس خبره ده. مونږ ډېر هوښیار یو، ډېر متمدن یو، خو بیا هم په مونږ کې ډېر خلک په دې نه وي خبر چې زمونږ ګاونډي هېوادونه په څه سبب کړېږي. هغوی زمونږ د خوړو، خوندونو او خېټو له امله کړېږي او پرځانونو دردونه مني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې لپاره چې مونږ يوه ښېته مړه کړو، ډېر ژوندي موجودات وژنو، او خپل ډېر همنوعه انسانان له لوږې سره مخامخ کوو. تر اوسه پورې د حيواناتو په هکله نه غږېږو. پوه شوئ؟ بيا دغه ګناه په خبر يا ناخبر ډول زمونږ پر وجدان فشار راوړي او همدغه مس ئ له مونږ پر سرطان، ټيوبرکلوز، او لاعلاجه ناروغيو لکه ايډز باندې اخته کوي. له ځانه وپوښت ئ چې ستاسو هېواد امريکا ولې تر ټولو ډېر په دغو ناروغيو باندې اخته دی؟ امريکا د ټولې نړۍ د هېوادونو په پرتله ډېر په سرطان اخته ناروغان لري، ځکه چې خلک يې غوښه ډېره خوري. له ځانه وپوښت ئ چې ولې د چين يا د نورو کمونستي هېوادونو وګړي په دومره لوی شمېر په سرطان ناروغۍ اخته نه دي؟ هغوی دومره غوښه نه لري. پوه شوئ؟ دا هغه څه دي چې څېړنې او تحقيقات يې وايي، نه زه. پوه شوئ؟ ما مه ملامتوئ.

**پوښتنه:** هغه معنوي ګټې چې مونږ يې د نباتي خوړو له خوړلو څخه تر لاسه کوو، څه دي؟

**استاد:** زه ډېره خوشحاله يم چې تاسو خپله پوښتنه په دې ډول مطرح کړه. ځکه زه پوه شوم چې تاسو خپل تمرکز پر معنوي ګټو راټول کړی دی او دا ستاسو لپاره ډېر ګټور دی. ډېر خلک چې کله د نباتي خوړو د خوړلو په هکله خبرې کوي، د خپلې تغذيې او د اندام د تناسب فکر ورسره وي. د نباتي خوړو د خوړلو معنوي اړخونه دا دي چې پاک او بې ضرره دي.

"ته بايد څوک ونه وژنې." کله چې خدای مونږ ته دا خبره کوله، داسې يې مشخصه نه کړه چې بايد انسان ونه وژنې بلکې دهغه په وينا کې ټول موجودات شامل وو. آيا هغه نه دي ويلي چې ټول حيوانات يې د دې لپاره پيدا کړي دي څو له مونږ سره مرسته وکړي؟ آيا هغه حيوانات زمونږ تر پاملرنې لاندې راوستي؟ هغه ويلي دي چې پام پرې کوئ او پر هغوی حکم چلوئ. آيا تاسو چې کله خپل تر لاس لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسانو باندې واکمني کوئ هغوی وژن   ئ   او خورئ؟ که داسې وي، خلک به له منځه ولاړ شي او تاسو به بې رعیته پاچا وګرځ   ئ  . ښه. کله چې خدای داسې وایي، باید د هغه حکم ته غاړه کېږدو. له هغه ځخه پوښتنې ته اړتیا نشته. د هغه خبرې په پوره ډول روښانه دي، خو له خدای پرته ځوک خدای پېژني؟

نو تاسو باید د خدای د پېژندلو لپاره په خپله خدای وګرځ   ئ  . زه بیا تاسو دې ته رابلم چې بیا خدای ډوله ش   ئ  . پخپله تاسو، نه بل ځوک! د خدای په هکله مراقبه (مډیټېشن) په دې معنی نه ده چې تاسو د هغه ستاینه وکړئ او بس، بلکې په دې معنی ده چې تاسو پخپله خدای ش   ئ  . تاسو دا ومومئ چې تاسو او خدای سره یو یاست. "زه او پلار مې سره یو یو"، آیا عیسی داسې نه دي ویلي؟ که چېرې هغه ویلي وي چې هغه او د هغه پلار سره یو دي، مونږ او د هغه پلار هم سره یو کېدای شو، ځکه چې مونږ هم د خدای بچي یو. او عیسی همدارنګه ویلي دي چې، هر هغه څه چې هغه یې کوي، مونږ یې هم کوو، او حتی تر هغه په ښه طریقه سره. نو مونږ کولی شو چې تر مسیح هم غوره وګرځو، ځوک پوهېږي!

ولې په داسې حال کې چې د خدای په هکله په هېڅ څه نه پوهېږو، د هغه عبادت وکړو؟ ولې په بې خبرۍ سره ایمان راوړو؟ اول باید هغه څه چې عبادت ورته کوو، وپېژنو. دا داسې ده لکه چې کله غواړو له یوې نجلۍ سره واده وکړو. په دې وختونو کې داسې معمول دی چې د دواړو لوریو تر لیدنې وړاندې واده نه ترسره کېږي. نو څنګه کېدای شي چې د خدای عبادت دې پرته له دې چې هغه وګورو، وکړو. مونږ حق لرو چې له خدای ځخه وغواړو څو خپل ځان مونږ ته راوښیي. د دې حق لرو چې هغه خدای چې مونږ ورته عبادت کوو په خپله خوښه یې وټاکو.

ګورئ په انجیل کې په صراحت سره ذکر شوي دي چې باید نبات خواره اوس   ئ  . مونږ باید دخپلې روغتیا د ساتنې لپاره نباتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواړه وخورو. د علمي، اقتصادي دلايلو او همدارنګه د ژونديو موجوداتو په وړاندې د ترحم ښودلو لپاره بايد مونږ نبات خواره اوسو. سربېره پر دې، د نړۍ د ساتنې لپاره بايد مونږ نبات خواره اوسو.

په ځينې خپرنو کې ياده شوې ده چې که چېرې په لوېديځ (امريکا) کې خلک په اونۍ کې يوازې يو ځل نباتي خواړه وخوري، په ټوله نړۍ کې شپاړس ميليونه انسانان له لوږې څخه نجات مومي. نو نباتي خواړه وخورئ او له ځانونو څخه اتلان جوړ کړئ. له دې ټولو دلايلو سره سره، حتی که زما پيروي هم نه کوئ او زما په طريقه ممارست هم نه کوئ، زه هيله کوم چې د خپل ځان له پاره، د جهان له پاره نبات خواره اوس ئ .

**پوښتنه:** که چېرې ټول د نباتي خوړو خوړلو ته مخه کړي، آيا د خوراکي موادو له کمي سره به مخامخ نه شو؟

**استاد:** نه. د ځمکې يوه ټوټه په هغې باندې د حيواناتو لپاره د کرل شويو وښو څوارلس برابره ډېر خوراکي مواد حاصل ورکوي. په يو جريب ځمکه کې له کرل شويو نباتاتو څخه اته سوه زره کالوري انرژی په لاس راځي. اوس که چېرې دغه محصول د هغو حيواناتو د مړولو لپاره وکارول شي چې انسانان يې غوښه خوري، لاسته راغلې غوښه يوازې دوه سوه زره کالوري انرژي ورکوي. په دې معنی چې د دغې پروسې په جريان کې شپږ سوه زره کالوري انرژي ضايع کېږي. نو ويلی شو چې د نباتي خوړو رژيم د غوښې خوړلو د رژيم په نسبت ډېر مؤثر او اقتصادي دی.

**پوښتنه:** آيا يو نبات خور شخص کولی شي چې ماهي وخوري؟

**استاد:** دا سمه ده چې تاسو دې ماهي وخورئ. خو که چېرې تاسو غواړئ چې نباتي خواړه وخورئ، ماهي نباتي خواړه نه دي.

**پوښتنه:** ځينې خلک وايي، دا مهمه ده چې انسان دې خوش قلبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسي، خو دا مهمه نه ده چې يو نبات خور دې اوسي. آيا دا خبره سمه ده؟

**استاد:** که يو څوک په ريښتيا سره خوش قلبه وي، بيا نو ولې د نورو ژونديو موجوداتو غوښه وخوري؟ د هغوی د درد په ليدلو سره بايد دی د هغو د خوړلو تحمل ونه لري. غوښه خوړل بې رحمي ده، او دا څنګه کېدای شي چې داسې انسان دې خوش قلبه اوسي؟

يوځل استاد "لين چي" وويل، "ويې وژنه، او غوښه يې وخوره. په دې دنيا کې له انسان څخه څوک ډېر ظالم، بدخواه، بې رحم، او خبيث نشته." هغه څنګه کولی شي ادعا وکړي چې مهربان زړه لري. "منسيوس" هم ويلي دي: "که چېرې تا هغه ژوندی ليدلی وي، نشې کولی چې مرګ يې تحمل کړې، او که چېرې د هغه چيغه واورې، نشې کولی چې د غوښې خوړل يې تحمل کړې، نو ويلی شو چې يو خوش قلبه او واقعي انسان له پخلنځي څخه ليرې پاتې کېږي".

د انسان شعور د حيواناتو د شعر په پرتله لوړ دی. مونږ د هغوی د مقاومت د له منځه وړلو لپاره له وسلې څخه کار اخلو، نو هغوی په پوره کرکې سره وژل کېږي. هغه سړی چې دغه ډول کارونه کوي، او کوچنی او کمزوری مخلوق وژني، بايد شريف ونه ګڼل شي. کله چې حيوانات وژل کېږي، سخت ډارېږي، ځورېږي او ډېر قهر ورځي. دغه حالتونه زهر توليدوي چې د هغوی په غوښه کې پاتې کېږي او هغو کسانو ته چې دغه غوښه خوري، زيان رسوي. او دا چې په حيواناتو کې د انسانانو په نسبت د ارتعاشاتو سرعت ټيټ دی، له دې امله د انسان په ارتعاشاتو او بالاخره د پوهې په پراختيا باندې اغېزه کوي.

**پوښتنه:** آيا دا کافي ده چې انسان دخپلې خوښې "راحت طلبه نبات خور" واوسېږي؟ (زما هدف هغه خلک دي چې له غوښې خوړلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه په پرهېز کې دومره جدي نه دي. هغوی له غوښې سره يوځای پخه شوې سبزي بېلوي او بيا يې خوري)

**استاد:** نه. د مثال په توګه، يو خوراک فرض کړئ چې په زهري موادو کې لړل شوی او بېرته له هغې مايع څخه را اېستل شوی وي. څه فکر کوئ چې آيا دغه خواړه په زهرو لړل شوي دي که نه؟ په "ماها پاري نيروانا سوترا" (Mahaparinirvana Sutra) کې "ماهاکاسياپا" ( Mahakasyapa ) له بودا څخه وپوښتل: که چېرې مونږ ته د سبزۍ او غوښې خواړه راکړای شي، آيا کولی شو چې مونږ هغه غذا وخورو؟ څنګه کېدای شي چې دغه غذا پاکه کړو؟ بودا ځواب ورکړ: "بايد چې سبزي له غوښې څخه بېله کړئ، او په اوبو يې ووينځ ئ څو د خوړلو لپاره برابره شي."

له پورتنۍ مکالمې څخه مونږ پوهېدلی شو چې يو څوک نشي کولی هغه سبزي وخوري چې له غوښې سره ګډه وي، مګر دا چې لومړی يې په اوبو باندې پاکه کړي، په خپله د غوښې خوراک خو څه کوې! نو په اسانۍ سره وينو چې بودا او شاګردان يې نبات خواره وو. البته، ځينې خلک په بودا تور لګوي چې هغه يو راحت طلبه نبات خور وه، او که غوښه به هم ورکړای شوه هغه به خوړله، خو دا خبره بېخي بې اساسه ده. هغه خلک چې دا ډول خبرې کوي هغه څوک دي چې يا يې سپېڅلي کتابونه لږ لوستلي يا پرې سم نه دي پوه شوي.

په هند کې تر ۹۰٪ ډېر خلک نبات خواره دي. کله چې هغوی د زېږو جامو ملنګان وګوري ټول پوهېږي چې بايد هغوی ته نباتي خواړه ورکړي، دا خو لا پرېږده چې زياتره دغه خلک غوښه هېڅ نه لري چې چاته يې ورکړي!

**پوښتنه:** ډېر وخت مخکې ما له يوه بل استاد څخه اورېدلي وو چې ويل يې، "بودا د خوګ پښه وخوړله چې بيا په اسهال اخته او مړ شو." آيا دا خبره سمه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاد:** بالکل نه. بودا د یو ډول سمارق تر خوړلو وروسته مسموم او بیا مړ شو. که چېرې مونږ د دغه سمارق نوم له براهمني ژبې څخه همداسې په تحت اللفظي بڼه بلې ژبې ته ترجمه کړو، د دغه سمارق له نامه څخه "د خوګ پښه" جوړېږي، خو په حقیقت کې دا د خوګ پښه نه ده. دا داسې دی لکه "لن ګن" (longan ) چې په چینایي ژبه کې یو ډول مېوه ده. (په چیني ادبیاتو کې بیا دغه کلمه "د ښامار سترګه" معنی ورکوي). نو ډېر نباتات شته چې له نامه نه نبات نه معلومېږي، خو په حقیقت کې نبات وي. لکه همدا "د ښامار سترګه" او داسې نور. دغه سمارق هم په براهمني ژبه کې "د خوګ پښه" یا "د خوګ خوښې" معنی ورکوي چې په دغو دواړو کلمو کې د خوګ نوم شته دی. دا چې دغه ډول سمارق لږ پیدا کېږي، نو د هند خلکو بودا ته د درناوي ښودلو لپاره هغه ته هدیه کړی دی. دغه سمارق د ځمکې پرمخ نه پیداکېږي او تر ځمکې لاندې راشین کېږي. که څوک غواړي چې دغه سمارق پیدا کړي باید چې د خوګ په مرسته یې چې دغه سمارق ډېر په اشتها سره خوري، ولټوي. خوګان د دغه سمارق بوی حس کوي او هر چېرې یې چې احساس کړي، ځمکه په پښو باندې کنده کوي، سمارق پیدا کوي او بیا یې خوري. همدغه وجه ده چې خلک دغه سمارق ته "د خوګ پښه" او "د خوګ خوښې" وایي. اصلا دواړه نومونه د هماغه سمارق لپاره کارول کېږي. دا چې دغه لفظ له لازمې پاملرنې څخه پرته نورو ژبو ته ترجمه شوی دی او دا چې خلکو اصلا د دغه نامه ریښه نه پېژندله، وروستي نسلونه له سوء تفاهم سره مخامخ شول او بودا یې په تېروتنې سره غوښه خور وګاڼه. دا په ریښتیا سره د تاسف وړ خبره ده.

**پوښتنه:** د غوښې ځینې مینه وال وایي: "مونږ غوښه له پلورنځیو څخه رانیسو، او دا چې حیوان مونږ په خپله نه دی وژلی، نو خوړل یې ممانعت نه لري." آیا تاسو فکر کوئ چې دغه خلک ریښتیا وایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاد:** دا یوه ډېره لویه تېروتنه ده. تاسو پوهېږئ چې قصابان ژوندي موجودات له دې امله وژني چې نور خلک ترې غوښه غواړي. بودا په "لانکاواتارا سوترا" کې ویلي دي: "که چېرې غوښه خواره نه وای، هېڅ حیوان به نه وه وژل شوی. د ژوندي موجود وژل او د هغه غوښه خوړل سره ورته ګناه لري." د ژوندیو موجوداتو له حد څخه د ډېرې وژنې له امله دی چې طبیعي فجایع او مصیبتونه په مونږ باندې راځي او مونږ په خپله هغه ته لاره برابره کړې ده. جګړې هم له ډېرې زیاتې وژنې څخه منځته راځي.

**پوښتنه:** ځینې خلک وایي، سره له دې چې نباتات نشي کولی چې د یوریا یا یوریکینېز په څېر زهري مواد تولید کړي، خو د مېوې او ترکارۍ خاوندان په نباتاتو باندې یو زیات مقدار د مرض ضد درمل استعمالوي چې زمونږ د روغتیا لپاره تاوان اړوي. آیا دا خبره سمه ده؟
**استاد:** په محصولاتو باندې د مرض ضد درملو او زهري کېمیاوي موادو لکه ډي ډي ټي شیندل کولی شي چې د سرطان، شنډوالي او د ځیګر د ناروغیو سبب وګرځي. د ډي ډي ټي په څېر زهر کولی شي چې په وازده کې خپاره شي او معمولا هم د حیواناتو په وازده کې ذخیره کېږي. یعنې غوښه خوړل د مرض ضد موادو او ډېرو غلیظو زهرو د جذب معنی لري چې د حیوان د ودې پر مهال د هغه په وازده کې ذخیره شوي دي. په وازده کې د دغو موادو تراکم په سبزۍ، مېوه او غله کې د هغوی د تراکم په پرتله دیارلس ځلې ډېر دی. د مېوو پر مخ شیندل شوي زهري مواد کېدای شي په وینځلو سره پاک شي، خو د حیوان په وازده کې ټول شوي مواد په دې ډول نه پاکېږي. دا چې دغه زهر د تراکم وړتیا لري، کېدای شي چې د څه مراحلو په طی کولو سره ذخیره شي. نو هغو مصرفونکو ته چې د غذایي موادو د زنځیر په پورتنۍ برخه کې واقع دي، تر ټولو ډېر تاوان ور رسېږي.
د آیووا په پوهنتون کې ترسره شوې ازموینې ښیي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان په بدن کې موجود تقریبا ټول مسمومیت د غوښې له خوړلو څخه رامنځته کېږي. تجربه کونکو موندلي دي چې د نبات خورو انسانانو په وجود کې موجود زهر د غوښه خورو انسانانو په وجود کې د موجودو زهرو په پرتله له نیمایي څخه هم لږ دي. اصلا، په غوښه کې په آفت ضد سموم سربېره بل سموم هم شته دی. د حیواناتو د روزنې په جریان کې، د هغوی زیاتره خوراکونه په کېمیاوي موادو لړلي وي چې د هغوی د غوښې د رنګ او خوند د تغیر او چټکې ودې لپاره مؤثر وي. حتی د غوښې د ساتنې لپاره هم له دغه ډول موادو څخه استفاده کېږي.
د مثال په توګه، له نایتریتو څخه جوړ شوي ساتونکي درمل ډېر زهري دي. د ۱۹۷۱ کال په جولای کې نیویارک ټایمز خبر ورکړ چې: "د غوښه خوړونکو د روغتیا لپاره تر ټولو لوی پټ خطر په غوښه کې نه د لیدلو وړ ککړونکي، لکه په آزاد ماهي کې باکټریاوې، د مرض ضد درملو پاتې شوني، ساتونکي مواد، هورمونونه، انټي بیوټیک او نور اضافي کېمیاوي مواد دي". سربېره پر دې، حیواناتو ته واکسین تزریق کېږي چې کېدای شي د هغو په غوښه کې پاتې شي. دغو ټولو ته په پام سره، په تازه مېوه، مندتو، نخودو، جوارو او شیدو کې موجود پروټینونه د غوښې د پروټینو په پرتله ډېر خالص دي، ځکه چې په غوښه کې د موجودو ناخالصو موادو ۵۶٪ په اوبو کې د حلېدلو وړتیا نه لري. څېړنو ښودلې ده چې دغه اضافي مواد کېدای شي د سرطان او ډېرو نورو ناروغیو او یا د جنین د شکل د تغیر سبب وګرځي. نو غوره دا ده چې امېدوارې ښځې هم په بشپړ ډول د نباتي خوړو اخیستلو ته مخه کړي څو د جنین جسمي او روحي روغتیا تامین شي. که چېرې تاسو په کافي اندازه شیدې وڅښئ ، ستاسو بدن ته به په لازمه اندازه کلسیم ورسېږي. همدارنګه تاسو کولی شئ چې د حبوباتو په خوړلو سره لازم پروټین، او د مېوې او سبزۍ په خوړلو سره د خپل بدن د اړتیا وړ ویټامینونه او نور معدني مواد تامین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نبات خوري

### د نړۍ د اوبو د بحران لپاره ترټولو غوره حل

د لوی استاد چینګ های له تازه ۱۵۴ لمبر لیکنې څخه انتخاب شوي

اوبه د ځمکې پر مخ د ټولو ژوندیو موجوداتو د ژوند لپاره ضروري دي. خو زموږ د سیارې د اوبو ډېر استعمال، لکه چې د سټاکهولم د اوبو د نړیوال انسټیټیوټ (SIWI) له خوا رابرسېره شوي، دغه نفیسه منبع د راتلونکو نسلونو لپاره په خطر کې اچولې ده.

لاندې ځینې حیرانونکي حقیقتونه دي چې د اوبو د اونۍ په مناسبت د SIWI په کلني نړیوال کنفرانس کې چې د ۲۰۰۴ کال د اګسټ په ۱۶-۲۰ نېټو ترسره شو، یې راپور ورکړل شوی دی.

- له څو لسیزو راهیسې، د خوړو د پیداوار ډېرښت د نفوسو وده بېله ( outpaced ) کړې ده. اوس د نړۍ ډېره برخه د ډېر پیداوار له امله بې اوبو کېږي.
- هغه حیوانات چې د حبوباتو په واسطه تغذیه کېږي، هرکیلوګرام تیارېدونکې غوښه یې څه ۱۰۰۰۰ – ۱۵۰۰۰ کیلوګرامه اوبو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړتیا لري. (دا د مؤثریت د اندازې له ۰.۰۱٪ څخه لږ جوړوي؛ که چېرې کومه عادي صنعتي پروسه د مؤثریت په دې سطحه وچلېږي، بې له ځنډه به عوض کړای شي!).

- حبوبات د هر کیلوګرام د تیارولو لپاره ۴۰۰ – ۳۰۰۰ کیلوګرامه اوبو ته اړتیا لري. (دا د هغو اوبو ۵٪ جوړوي چې د دغې اندازې غوښې د تیارېدلو لپاره ورته اړتیا لیدل کېږي).
- تر ۹۰٪ د ټولو برابرو شویو اوبو د خوړو د ودې لپاره کارول کېږي.
- د اسټرالیا په څېر هېوادونه چې هلته اوبه لا مخکې ترمخکې کمې دي، اصلا اوبه د غوښې په بڼه واردوي.

په مخ پر ودې هېوادونو کې غوښه خواره داسې منابع استعمالوي چې د ورځې ۵۰۰۰ لېتره (۱۱۰۰ ګیلنه) اوبه په کې کارول کېږي په داسې حال کې چې نبات خواره داسې منابع کاروي چې د ورځې ۱۰۰۰-۲۰۰۰ لېتره (۲۰۰-۴۰۰ ګیلنه) اوبه کاروي. (ګارډین د ۲۰۰۴ کال د اګست پر ۲۳مه د دغې موضوع په هکله راپور ورکړی وه). په یوه اضافي یادښت کې، چې د SIWI له راپور څخه نه دی را اخستل شوی، د امازون استوایي ځنګلونه د دې لپاره وهل کېږي چې سویا لوبیا په کې وکرل شي. په داسې حال کې چې همدغه لوبیا وروسته غواګانو ته ورکول کېږي. د دې پرځای به دا ډېره مؤثره وي چې که چېرې نېغ په نېغه خلکو ته ورکول شي. د ډېرو متشرفینو به په یاد وي، استاد د غوښې د پیداوار محیطي اغېزې په خپل "د یوه نباتي غذایي رژیم ګټې" لکچر کې چې د چټکې روښنفکرۍ په کتاب کې شامل دی بیانوي: "د غوښې د تر لاسه کولو لپاره د حیواناتو ساتنه خپلې پایلې لري. دغه کار د ځنګلونو د تخریب، د ځمکې د تودوخې د ډېربښت، د اوبو د ککړتیا، د اوبو د کمي، د انرژۍ له منابعو څخه د بدې استفادې، د ځمکې د دشتي کېدنې او د نړۍ د لوږې سبب ګرځي. د غوښې د تولید لپاره له ځمکې، اوبو، انرژۍ او ورسره د انسان هڅې په کار اچول د ځمکې د منابعو د صحیح استعمال لاره نه ده." نو د دې لپاره چې د هغو اوبو مقدار تر ډېره حده راکم شي چې په نړۍ کې لګول کېږي، بشریت نړۍ ته د خوړو د برابرولو لپاره یوې نوې طریقې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته اړتيا لري، او د نباتي خوړو رژيم دغه اړتيا پوره کوي.

هيله ده چې د اړوندو راپورونو لپاره وګورئ:
http://www.worldwatercouncil.org/
http://news.bbc.co.uk/2/hi/science/nature/3559542.stm
http://news.bbc.co.uk/1/hi/sci/tech/2943946.stm

# د نبات خورو لپاره ښه خبر

## د نباتي خوړو مهم پروټين

نباتي غذايي رژيم نه يوازې زمونږ د روحاني ممارست، بلکې زمونږ د روغتيا لپاره هم ډېر ګټور دی. البته، مونږ بايد د مغذي موادو توازن ته په ځانګړې توګه پاملرنه وکړو او يقيني کړو چې د ډېر ضروري نباتي پروټين له فقدان سره خو به نه يو مخامخ شوي.

پروټين په دوه ډوله دي: حيواني پروټين او نباتي پروټين. سويا لوبيا او نخود د نباتي پروټينو ځينې سرچينې دي. د غذايي رژيم ساتنه په دې معنی نه ده چې يو څوک دې سره کړي نباتي خواړه وخوري. پروټين بايد شامل کړای شي څو هغه مغذي مواد پوره کړي چې يو شخص ورته اړتيا لري.

ډاکټر ميلر په خپل ټول ژوند کې يو نبات خور شخص وه. هغه د طب ډاکټر وه او ځلوېښت کاله يې د چين په جمهوريت کې د غريبانو درملنه وکړه. هغه عقيده درلوده چې مونږ د ښې روغتيا ساتنې په نيت د مغذي موادو د تر لاسه کولو لپاره يوازې حبوباتو، لوبيا، مېوې او سبزۍ ته اړتيا لرو. ډاکټر ميلر وايي، "باقلي بې هډوکو غوښه ده." نوموړی زياتوي، "سويا لوبيا ډېر مغذي دي؛ که چېرې خلک يوازې يو ډول خواړه وخوري او هغه سويا لوبيا وي، هغوی به وکړای شي چې تر اوږدې مودې پورې ژوندي پاتې شي."

د يوې نباتي غذا تيارول داسې دي ښېخي لکه د يوې غوښه لرونکې غذا تيارول، په استثناء د دې چې سبزي - د چرګ تکې، سبزي-د ورانه غوښه يې پرځای وکارول شي. د مثال په توګه، "له کرفس سره د سرې کړې غوښې" يا "د سمندري نباتاتو او هګۍ د ګډ سوپ" پر ځای اوس مونږ کولی شو چې "له کرفس سره نباتي غوښه سره کړو" يا دا چې "د سويا له تکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د سمندري نباتاتو سوپ" جوړ کړو.

که چیرې تاسو په داسې هیوادونو کې یاست چې دغه نباتي پروټیني اجزاء په کې تیار نه پیدا کیږي، تاسو کولی شي چې د لوی استاد چینګ های د نړیوالې ټولنې له محلي مرکز سره اړیکه ونیسئ. دغه مرکزونه به تاسو ته د یو شمیر لویو پلورنځیو او د نباتي خوړو د رستورانټونو په هکله معلومات درکړي.

د نباتي خوړو د پخلي د طریقې د زده کړې لپاره تاسو کولی شئ چې لوی پخلنځي (Supreme Kitchen ) ته چې د لوی استاد چینګ های د نړیوالې ټولنې له خوا خپور شوی دی، او یا هم د نباتي خوړو د پخولو نورو لاربښودو کتابونو ته مراجعه وکړئ.

په نړۍ کې د نباتي خوړو د تیارونکو رستورانتونو د لست د تر لاسه کولو لپاره دغه ویب سایټ وګورئ:

**http://www.godsdirectcontact.org.tw/eng1/food/restaurant/**

دلته د نباتي خوړو د ځینې ریستورانتونو او د نباتي خوړو د ځینې کمپنیو یو لسټ ستاسو د معلوماتو لپاره موجود دی:

## په نړۍ کې د نباتي خوړو ریستورانتونه
(چې د ملګرو له خوا چلول کیږي)

**Africa** **Benin**
SM Bar Cafe Restaurant
vegetarien(COTONOU)
Address: 07 BP 1022 COTONOU
Tel: 229-90921569

Peace Foods
Address: C/1499 VEDOKO(COTONOU)
Tel: 229-95857274

**America** Canada
**Vancouver**
Paradise Vegetarian NoodleHouse
8681-10th Ave., Burnaby, B. C. V3N 2S9, Vancouver, Canada
Tel: 1-604-527-8138

U.S.A.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Arizona**
Vegetarian House
3239 E. Indian School Rd, Phoenix AZ 85018
Tel: 1-602-264-3480

**Oregon**
Vegetarian House
22 NW Fourth Ave, Portland, OR 97209
Tel: 1-503-274-0160

**California-Los Angeles**
Au Lac Vegetarian Restaurant
16563 Brookhurst St, Fountain Valley, CA 92708
Tel: 1-714-418-0658

Veggie Panda Wok
903-b Foothill Blvd Upland, CA 91786
Tel: 1-909-982-3882

Veggie Bistro
6557 Comstock Ave, Whittier, CA 90601
Tel: 1-562-907-7898

Happy Veggie
7251 Warner Ave, Huntington Beach, CA 92647
Tel: 1-714-375-9505

Vegan Tokyo Teriyaki
2518 South Figueroa, Los Angeles, CA 90007
Tel: 1-213-747-6880

**Oakland**
Golden Lotus Vegetarian Restaurant
1301 Franklin St. Oakland, CA 94612
Tel: 1-510-893-0383

New World Vegetarian Restaurant
464 8th St. Oakland, CA 94607
Tel: 1-510-444-2891

**San Francisco**
Golden Era Vegetarian Restaurant
572 O¡¦Farrell St, San Francisco, CA 94102
Tel: 1-415-673-3136

**San Jose**
The Supreme Master Ching Hai International Association Vegetarian House
520 East Santa Clara St, San Jose CA 95112
Tel: 1-408-292-3798
http://Godsdirectcontact.com/vegetarian/

Tofu Togo
388 E. Santa Clara St., San Jose CA 95113, U.S.A.
1-408-286-6335

**Massachusetts Boston**
Quan Yin Vegetarian Restaurant
56 Hamilton St, Worcester MA 01604
Tel: 1-508-831-1322

**Houston**
Quan Yin Vegetarian Restaurant
10804-E Bellaire Blvd, Houston TX 77072
Tel: 1-281-498-7890

**Dallas**
Suma Veggie Cafe
800 E Arapaho Rd, Richardson, TX 75081
Tel: 1-972-889-8598

**Georgia**

(c) ketabton.com: The Digital Library



Cafe Sunflower
5975 Roswell Rd. Suite 353, Atlanta GA 30328
Tel: 1-404-256-1675

**Washington**
Teapot Vegetarian House
345 15th Ave., E #201, Seattle WA 98112,
Tel:1-206-325-1010
http://ww.teapotvegetarianhouse.com

**Illinois**
Alice and Friends Vegetarian Cafe
Address: 5812 N Broadway St. Chicago, IL 60660-3518, U.S.A.
Tel: 1-773-275-8797

**Puerto Rico**
**San Juan**
El Lucero de Salud de Puerto Rico
1160 Americo Miranda Ave., San Juan, Puerto Rico

Peru
**Lima**
SaborSupremo
Av. Militar 2179 - Lince Lima 14
Tel: 51-1-2650310.

Vida Light
Address: Jr. Camaná 502 - Lima
Tel: 51-1-426-1733

**Europe**
Germany
**Munich**
S.M. Vegetarisch
Amalienstrasse 45, 80799 Muenchen
Tel: 49-89-281882

France

**Paris**
Green Garden
20, rue Nationale, 75013 Paris, France
Tel / Fax: 33-1-45829954

Spain
**Valencia**
The Nature Vegetarian Restaurant
Plaza Vannes, 7 (G.V.Ramon y Cajal, 36, dcha), 46007 Valencia, Spain
Tel: 34-96-394-0141

Restaurante Casa Vegetariana ¡§Salud¡¨
Address: Calle Conde Altea, 44, bajo, 46005 Valencia, Spain
Tel: 34-96-3744-361

United Kingdom
**London**
669 Holloway Rd, London, N19 5SE
Tel: 020-7281-8989, 020-7281-5363
http://www.thepekingpalace.com/

Mr Man
236 Station Road, Edgware, Middlesex, HA8 7AU.
Tel: 020-8905-3033
http:/www.vegmrman.com

**Oceania**
Australia
**Canberra**
Au Lac Vegetarian Restaurant
4/39 Woolley Street Dickson ACT 2602 Australia
Tel: 61-2-6262-8922

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Melbourne**
La Panella Bakery
465 High Street, Preston Victoria 3072, Australia
Tel/Fax: 61-3-9478-4443

**Sydney**
Tay Ho Vegetarian restaurant
11/68 John Street , Cabramatta, NSW 2166
Tel :61-2-9728-7052

Duy Linh Vegetarian restaurant
10/117 John Street, Cabramatta, NSW 2166 Australia
61-2-9727- 9800

Color of Love,Vegetarian restaurant
227 Cabramatta Rd, Cabramatta, NSW 2166
61-2-9755-4410/61-405-735748

Kardinya
One World Cuisine
Shop 7, 23 South Street , Kardinya WA6163, Australia (beside IGA)
61-8-9331-6677/61-8-9331-6699
enquiry@oneworldcuisine.com.au
http://www.oneworldcuisine.com.au

**Asia**
Hong Kong
**Tun Mun**
Nature House
Workshop No.6 5th Floor, Good Harvest Industrial Building, No.9Tsun Wen Rd Tuen Mun New Territories 506
Tel: (852) 2665-2280
www.naturehouse.com.hk
www.lovingocean.com

Buddha Hut
245 Amoy Plaza Phase 2, 77 Ngau Tau Kok Road, Kowloon, Hong Kong
852-27511321

Japan
**Gunma**
Tea Room & Angel's Cookies
